۱۶ جوزا ۱۳۸۳

save the Children
Sweden

د ماشوم د حقوقو زده کړه

دافغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون
له خپرونه څخه

د ۱۳۸۳ کال منی

بسم الله الرحمن الرحیم

دما شوم دحقونوزده کړه

د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون له خپرونو څخه

لیکوالان:
پوهندوی دوکتور غلام دستګیرحضرتی
اوپوهنمل عبدالحق

دکتاب ځانګړتیاوې

د کتاب نوم: د ماشوم د حقونو زده کړه

لیکوالان: پوهندوی دوکتور غلام دستګیر حضرتی اوپوهنمل عبدالحق

مهتمم: پوهندوی محمد یونس طغیان ساکایې

ډیزاین: محمد عظیم «بشارت»

خپرندوی: د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون

شمېر: ۳۰۰۰ ټوکه

د مطالبو فهرست

عنوان	مخ
یادښت	۱
سریزه	۲
مخکینی خبري	۴
لومړی فصل:	
د ماشوم پیژندنه	۱۰
دوهم فصل:	
د ماشوم د حقوقو په تاءمین اوساتنه کي د قانون د ارګانونو ونډه	۳۷
دریم فصل:	
د ماشوم د حقوقو په تاءمین او ساتنه کی د امنیتی ارګانونو ونډه	۷۰
څلورم فصل:	
د ماشوم د حقوقو په تاءمین او ساتنه کی د روغتیائی ارګانونو ونډه	۹۲
پنځم فصل:	
د ماشوم د حقوقو په تاءمین او ساتنه کې د ښوونکو ونډه	۱۱۲
شپږم فصل:	
د ماشوم د حقوقو په تاءمین او ساتنه کي د مور او پلار ونډه	۱۳۷
نښلونې او ماء خذونه	۱۲۲

PROPERTY OF ACKU 12236

یادښت:

دغه اثر چې محترم پوهندوی دوکتور غلام دستګیرحضرتی، اوپوهنمل عبدالحق تاءلیف کړی دی، ښوونکو، پولیسو، قاضیانو، څارنوالانو او د ماشومانو مور او پلار ته یو ګټور او د لوستلو وړ اثردی.

ددغه اثر محتویات ددي ښکارندوی دي چې ښاغلی لیکوالان په ښو علمی او روزنیزو سرچینو لاسبری لري او هم يي مطالب خورا ښه هضم کړی او بیایی په لیکلو پیل کړیدی او هغه څه هي چې له مطلوب (د ماشومانو له حقوقو) له پاره وړ ؤ، غوره کړیدی.

نو له دی امله والدینو، ښوونکو، پولیسو، قاضیانو، څارنوالانو او نورو هغو اشخاصو ته چې په یو ډول د ډولونو له کوچنیانو سره سر او کار لري د ماشوم د طبیعی او بشری حقوقو له مخي ددغه ګټور علمی او روزنیز کتاب د مطالعی سپارښتنه کوو او د لوی او مهربان خدای څخه ټولو ته بریالیتوب غواړو.

علی احمد ((فکور))

سریزه:

راځی چی د ماشومانو د حقوقو لمانځنه وکړو!

د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمیسیون د یو خپلواک بی پرې بنسټ په توګه او د بن د تاریخی پریکړې له مخې د بشری افرادو له حقوقو څخه د دفاع لپاره د ۱۳۸۱ لمریز هجری کال د غبرګولی (جوزا) په ۱۲مه رامنځ ته شو.

دغه کمیسیون د بشری غړو د حقونو د ساتنی په اړه تر اوسه پوري د پنځه ګونو ځانګړوځانګو یعنی (دماشومانو له حقوقو څخه د ملاتړ، د ښځو د بشری حقونو د پراختیا، د بشر د حقوقو د زده کړو، د بشر حقوقو د انتقالی عدالت دبشر دحقوقو څخه دسرغړونې دارزولو او څارنې له لارې) په بیلو بیلو اقداماتو لاس پوري کړیدی. چی په دغو اقداماتو کې له یوی خوا له سرغړونو څخه د مستقیم نظارت او ارزونه له اړوندو مراجعو سره اقدامات او له بلی خوا د سیمیناروونو او ورکشاپونوجوړولو لپاره پروګرامونه، شامل دي.

د افغانستان د بشر د حقوقو په خپلواک کمیسیون کی د ماشومانو له حقوقو څخه د ملاتړ او ساتنی څانګی، کوچنیانو ته دساتندویه زمینو رامنځته کولو په اړه یو شمیر پروګرامونه طرحه او تطبیق کړیدی. چی دغه پروګرامونه په ټولنیزډول په بیلابیلو برخوکی د کوچنیانو حقوقو ته د پاملرنې د راګرځولو په اړه د ظرفیتونو د پیاوړتیا، د ماشومانو د حقوقو په اړه د پوهی د لوړولو او په ټول افغانستان کی د ماشومانو د حالت د ښه والی په مقصد درغنده وړاندیزونو او پالیسیو د جوړولواو وړاندي کولو د پروګرامونو په لاړه اچول په برکی نیسی.

دغه کتاب چی (دماشوم د حقونو زده کړه) نومیږی او ستاسی په مخکی دی د ټولو هغو اشخاصو د پوهی د سطحی د لوړولو په اړه چی له کوچنیانو سره سراوکار لری د هیواد د

پوهو لیکوالانو محترم داکتر غلام دستگیر حضرتی او پوهنمل استاد عبدالحق په هڅه او کوښښ برابر شویدی.

داځرګنده اومنل شوی حقیقت دی چی ماشومان د ټولنې داسې غړی دي چې تل مرستې او لاس نیوی ته اړتیا لری او ددغه قشر اړتیا ته په پاملرنې سره زیاتره هڅه او هاند کیږی چی د ماشومانو له همدې کمزوری حالت څخه ناوړه ګټه اخیستل کیږی، پر حقوقو یې تیری کیږی او له هغو نه د نورو د ګټو د پوره کولو په اړه کار اخیستل کیږی او سر بیره پر دې ډیر پیښ شوی چی د افرادو او یا اشخاصو او یا مؤسسود ناخبری او ناغیږی له امله د ماشومانو حقوق په یو ډول د ډولونو تر تیری لاندې نیول شویدی. نو ځکه د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون هیله من دی چی دغه کتاب د ماشومانو په اړه د هغو کسانو لپاره چی له ماشومانو سره د مرستې او ملاتړ مینه وال دي تیریو او توپیرونو ته د پای ټکی کیږدی. او هغو کسانو ته خبرداری وی چی قصداً د کوچنیانو پر حقوقو تیری کوي. او هغو کسانو ته به د معلوماتو یوه سر چینه وی، چی د ماشومانو له حقوقو او له هغومسؤلیتونو څخه ناخبره دی کوم چی مونږ یې د ماشومانو په وړاندې لرو. او په پای کې هیله من یو چې دا کتاب د ماشومانو د ټولو ډلو او کتګوریو روغو او معیوبو ماشومانو، سرپرست او بی سرپرستو ماشومانو، سرغړونکو کوچنیانو، هلکانو او نجونو، ښاری او کلیوالو ماشومانو له پاره ددوی د حقه حقوقو د تاءمین د پاره یوه وسیله وي. مونږ په داسی حال کی چی د خپلو تکړه لیکوالانو د زیار او زحمت څخه مننه کوو چی ددغه کتاب د بشپړولو په برخه کی یې ګاللی دي، ددی کتاب مطالعه چی له معتبرو منابعو او ماءخذونو څخه پکې ګټه اخیستل شوی ټولو هغو اشخاصوته سپارښتنه کوو چی د ماشومانو په اړه فعالیت کوی.

په پای کی غواړم د(سویډن د ماشومانو د ملاتړ) له محترمی مؤسسی څخه د زړه له کومی مننه وکړم چی له کمیسیون سره یې د کتاب د چاپولو په برخه کی مالی مرسته کړیده.

(اداره)

مخکینۍ خبرې:

د اروا پوهنې د تازه څېړنو له مخې چې په دې وروستیو وختو کې تر سره شوی دی هر شخص د خپل ژوندانه زیاتره عادتونه او ذهنی چلند د ماشومتوب په دوره کې حاصلوی او معمولاً په دې دوره کې د ژوندانه په بهیر کې له چاپیریال سره د تطابق چال چلند زده کوي. پوهان په دې آند دي چې کولای شو د شخص د کړووړو دځرنګوالی اندازه د هغې د ماشوماتوب پر مهال تشخیص او اټکل کړو. لکه چې یو تن «ګزن» نومي عالم ویلی دی: ماشوم په پنځه کلنۍ کې د هغه ځوان کوچنۍ نسخه ده چې وروسته به منځ ته راشي.

دا یو منل شوی حقیقت دی چې د کوچنیتوب دوره ډیره حساسه دوره ده. ماشوم په دې دوره کې نشی کولای چې له خپلو حقوقو څخه دفاع او ساتنه وکړی. او تل په نورو متکي وی. نو ځکه په دې وروستیو وختو کې نړیوالې ټولنې په تیره بیا د ملګرو ملتونو سازمان د ماشوم حقوقو او د هغه طبیعی ژوند ته زیاته پاملرنه کړیده او د نړۍ هیوادونه یې دمعتبرو اسنادو په تصویب سره ددغو حقوقو مراعات ته ژمن کړیدی. د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون د ماشومانو د حقوقو څانګې د ماشوم د حقوقو د نړیوالی اعلامیې موادو او د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون (میثاق) ته په پاملرنې سره په دې برخه کې چې ټول غړی هیوادونه داوطلب سازمانونه، محلی مقامات، غیر دولتی سازمانونه باید تر هغه ځایه چې شونی وي ددغې اعلامیې په خپریدو کې دې هڅه وکړي، پریکړه وکړه چې یو کتاب د (ماشوم د حقونو د زده کړې) تر سرلیک لاندی له قانون څخه د ساتنې، امنیتی او روغتیائی ارګانونو، د هیوادد ښوونکو او محترمو والدینو داغیزمنې استفادې لپاره تدوین او خپور کړی څو د ماشوم د حقوقو ارزښت او اهمیت جوت اود هغو په رعایت کې عملی ګامونه پورته کړی. پورته هدفونوته د رسیدلو په منظور ددغه کتاب لیکوالان په دې وګومارل شول چې دماشوم د حقونو د کنوانسیون دموادو په رعایت او بیلابیلو سرچینو اوماءخذونوته په مراجعې سره د ماشوم د حقوقو او د اړوندو ارګانونوله خوادهغه د رعایت په باب داسې مطالب راټول کړل چې ددغه کتاب محتوا جوړوی تر څو بیا دغه کتاب د مجموعې په ډول چاپ او د مسؤلینو، د مسلک د خاوندانو او مینه والو

په واک او اختیار کی یې کیږدي دغه کتاب ښایې نیمګړتیاوې ولري، خو په دې هیله چې زموږ په ګران هیواد کی چې ماشومان د تیرو جګړو په بهیر کی له خپلو هر راز حقوقو څخه بی برخې شوی د ماشومانو پر مسلې باندې یوه پاڼه ورزیاته کړی او د ماشوم د حقوقو په ساتنه او اعاده کې له چارواکو سره مرسته وکړي، ترڅو دا حقوق وپیژني او عمل پرې وکړی.

که څه هم یوویشتمه پیړۍ د ماشوم د پیړۍ په نامه نومول شوی او په دې وروستیو وختو کی د ماشومانو حقوقی مسلو ته زیاته پاملرنه شویده، خو اوس هم د ماشومانو په وړاندې د نړۍ په ډیرو هیوادونو کی ناوړه او غیر انسانی شرایط دوام لري. د نړیوال بانک د رپورټ له مخې په نړۍ کی له دریو برخو ماشومانو څخه یوه برخه له خپلو لومړنیوحقوقو څخه بی برخی ده او ۵۰۰ میلونه ماشومان په فقر او ۱۰۰ میلونه نور بی کوره په کوڅه او بازار کې ژوند کوی او ۸۰ میلونه د ناوړو غذایې رژیم له امله د طبیعي، جسمی او روحی ستونزو سره مخامخ دي. همدارنګه د ملګرو ملتونو د بشر د حقوقو رپوټونو او خپرو شویو اسنادو له مخې، د ۱۰۰ میلونو پرشاوخواکې ماشومان د خپلو کورنیوپه پریښودلو سره د سختو او ستونزمنو کارونو او یا د جرایمو د ارتکاب، فحشا او یا ګدایې له لارې ژوندکوی، برسیره په دې څه د پاسه ۵۰ ملیونه ماشومان په بدو او غیر صحی شرایطو کی کارکوی. (۱۲۰) ملیونه ماشومان د ۲ کلنۍ څخه تر ۱۱ کلنۍ پورې له زده کړې او د ښوونې له طبعی حقوقو څخه محروم دي.

په دی رپوټ کی راغلی دي چې ۳,۵ ملیونه ماشومان د هغو ناروغیو له کبله چې علاج یې کیدای شی مړه شویدی. او څه د پاسه ۱۰۰ ملیونه ماشومان په ټوله نړۍ کی له بی مهرۍ او ناوړه چلند سره مخامخ دي او له هغونه غیر انسانی کار اخستل کیږی.

د م.م د سازمان د نیشه یې توکو د څارنې د سازمان درپوټ له مخې په نړۍ کې د یوکال د هیرویې نو اندازه د ۳۲۰ ټنو په شاوخواکې ده چې ددې ناتار زیاتره قربانیان ماشومان او تنکی ځوانان دی.

سربیره پردې د یونیسف او د بشر د حقوقو رپوټ سره سم چې ۱۹۹۳ میلادی کال کی د م عمومی غونډې ته د «د جنسی ګټې اخستلو» تر عنوان لاندی خپورشو، راغلي دي: « د نړۍ په ځینو هیوادونو کې ځینی د کم عمر ماشومان پیروول اوپلورل کیږی او دغه کار د والدینو، سرپرستانو، ښوونکو او آن د هغو مؤسسو له خوا ترسره کیږی چې د خیریه

سازمانونو ننبه یی هم پر ټنډه ځلیږی. له کوچنیانو څخه جنسی ګټه اخستنه په نړی کی مخ په زیاتیدو ده چی پوره پاملرنی ته اړتیالری. دغه واقعیت باید په یاد ولرو چی هرکال په ملیونونو کوچنیان د ځینوعواملو له امله لکه: پر مخدره موادو او الکولی مشروباتو د روږدي کیدو له لارې او د اخلاقی جرایمو، غلا او داسی نورو عواملو له کبله مري او له مینځه ځی. په ځینو دغو ملکونو کې تر اوسه پوری د ټولنې ددغه مظلوم قشر له حقوقو څخه د دفاع په اړه په زړه پورې کوم خاص او منظم پروګرام نشته، حال دا چی د ۱۹۹۷ کال تر اکتوبر میاشتې پورې د نړۍ ۱۹۱ هیوادونو د ماشوم د حقوقو کنوانسیون لاسلیک کړی او ژمنه یې کړیده چې پخپل چاپیریال کی ددغه کنوانسیون او نړیوالو اعلامیو ته درناوی کوی او د هغو په مراعاتولو کی ځانونه مکلف ګڼي.

لکه څنګه چی دودې په حال هیوادونو کی مسؤل ارګانونه د ماشوم د حقوقو د اساسی مسلو په اړه پوره معلومات نلری. د همدې مقصد لپاره ددغو حقوقو په ساتنه او تامین کی له زیاتو ستونزو سره مخامخ دي او کله کله د ماشوم د حقوقو ماتوونکی او سرغړونکی پیژندل کیږی، ددی کتاب د لیکلو له اساسی هدفونو څخه یو هدف هم دادی چی هغه سازمانو او ارګانونه چی له کوچنیانو سره اړیکی لری د خپل کار او چاپیریال کی دماشوم له حقوقو څخه خبرتیا تر لاسه کړی او ددغه حقوقو د ساتنی په لاره کې خپل ایمانی او وجدانی مسؤولیت تر سره کړي.

د یادونې وړ ده چی د کتاب لیکوالان له ډیرو هڅو او ځیړنو وروسته په دې بریالی شول چی پدی وپوهیږې چی په پښتو او دری ژبو کې د ماشوم د حقوقو، نړیوالې اعلامیې، د ماشومانو لپاره د نړۍ د مشرانو د غونډې د کار برنامه، د ماشوم د حقوقو کنوانسیون په نامه له معتبرو کتابونو پرته بله هیڅ رساله او یا کتاب زمونږ د وطن په رسمی ژبو په بیل او جلا توګه نه دی چاپ شوی، ولی کوم شئ چی د ماشوم د حقوقو په برخه کی خپاره او چاپ شویدی یواځی د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون محتوا ده چی له یو کتاب څخه بلې ته او له یوې خپرونې څخه بلی ته نقل شوی یا لیکل شویدی.

له اړنګه پرته چی په اړوندو مسؤولو ارګانونو کی د ماشوم د حقوقورعایت هر اړخیزه ځیړنه غواړی او ډیرستونزمن کار دی، ځکه چی د ماشوم د حقوقو په اړه هر ارګان له پاره کولای شو یو ځانګړی کتاب ولیکو او زیات مطالب پکې وځیړو. همدا راز دا واقعیت باید هم په پام کې ولرو چی په دې کتاب کی وړاندی شوی مطالب ښایې یو موضوع په هر

اړخیزه توګه نه وی څیړلې ځکه چی ددغه کتاب د مطالبو فهرست د ۸۲ کال د غوائی د میاشتی د دریمی نیټی په سیمینار کی له اوږدې بحث او څیړنې وروسته چی په هغه کی د کورنیو او بهرنیو مؤسسو زیاتره د نظر خاوندان راټول شوی وه تصویب شو. او لیکوالان د کتاب د لیکلو لپاره وګومارل شول.

د ماشوم د حقوقو د زده کړی کتاب شپږ فصله لری. لومړی فصل یې د ماشومتوب د دورې دپیژندنی په باره کې دی. په دې فصل کی په عمده توګه د یو لړ موضوعګا نو په باب لکه: په تیرو دوروکی له ماشومانو سره دکړو وړو د څرنګوالی، د اسلام له نظره د ماشوم د حقوقو ساتنه د ماشوم د حقوقو د نړیوالې اعلامیی او د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون په اړه مطالب او معلومات وړاندی شوی چی په حقیقت کی د کتاب د نورو فصلونو لپاره معلوماتی او مقدماتی برخه شمیرل کیږی.

دوهم فصل د ماشوم د حقوقو دتامین او ساتنی په باب د قضایی ارګانونود وندې په هکله مطالب لری. په دې فصل کی قانون او حقوق څه ته وائی؟ په محکمو کی له سرغړوونکو ماشومانو سره د چلند طرز، د سرغړوونکو ماشومانو په باب د افغانستان جزائی قوانین، د ماشوم د حقوقو په تامین او ساتنه کی د قاضی او څارنوال وندې تر عنوانونو لاندی ګټورمعلومات ځای کړل شویدی چی د هغو په لوستلو سره به له قضائی چارواکو سره د هر راز مرستې او لاز ښودنې وړ مرسته وکړي.

په دریم فصل کی د ماشوم د حقوقو په تامین او ساتنه کی د امنیتی ارګانونو د وندې په اړه اساسی مطالب شامل دی. همدارنګه په دې فصل کی د ماشوم د حقوقو په ساتنه کی د پولیسو وندې، له ماشوم سره دپولیسوکړه وړه او له کوچنیانو سره د ترافیکو د پولیسو د چلند لارې چارې څیړل شویدی‌چې له دوې سره به د ماشوم د حقوقو ساتنی په برخه کی پوره مرسته وکړی.

ددغه کتاب څلورم فصل د ماشوم د حقوقو په تامین او ساتنه کی د روغتیایې ارګانونو وندې تر سرلیک لاندی ګټور مطالب راټول شوې دی. په دی فصل کی د ماشومانو د روغتیا په اړه د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون د رعایت، دناروغ ماشوم د حقوقو د ساتنی په اړه د داکټر ددندو، د طبابت د اخلاقو د نړیوالو قوانینو د مجموعی، د ماشوم د روغتیا په تامین کی د ستونزمنو کارونو د ناوړی اغیزی او دروغتیا ېې خدمتونو د ستونزو په بابِ بنسټیزو معلوماتو ته ځاې ورکړ شویدی. چی د هغو په مطالعی سره به له

روغتیایي کارکونکو سره ماشومانو ته د خدمت او د هغوی د حقوقو د رعایت په لاره کی مرسته وکړی.

پنځم فصل د ماشوم د حقوقو په تامین او ساتنه کی د ښوونکو د رول په باب معلومات لری. په دې فصل کی د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون په تامین او رعایت کی د ښوونکو د وندې تر سرلیک لاندی چی د روزنیز فرصت د برابرې حق، له توپیر او تعصب نه پرهیز، د لړه کیو د فرهنګ د ساتنی حق، په مورنې ژبه زده کړه او د درس په بهیر کی له وچ دسپلین څخه د پرهیز مسایل شامل دی او د بریالی ښوونکی د ځانګړتیاوو په باب مطالبو ته ځای ورکړ شویدی. چی په ډاګه زمونږ د ګران هیواد له ښوونکو سره به د ماشوم د حقوقو د تامین او ساتنی په لاره کې پوره مرسته وکړی.

ددغه کتاب شپږم فصل د ماشوم د حقوقو د تامین او اعادی په لاره کی د مور او پلار دوندې موضوع څیړنی او ورسره د ماشوم د ساتنی حق، د تغذې حق، د جامو حق، د تفریح او لوبو حق، د ښوونی او روزنې حق او د معیوب او معلول ماشوم حق تر سرلیکونو لاندی مطالب څیړل شوی دی چی په ښکاره توګه به د ماشوم د حقوقو د ساتنی او رعایت په لاره کی مور او پلار ته داسی بنسټیز معلومات وړاندی کړی چې وکولاې شې دغه حقوق وپیژنی او په عملی ډګر کی تری پوره ګټه واخلی.

د کتاب په پای کی پر ماخذونو اوضمیمو سربیره د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون (میثاق) یومنقل او د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د اصلاح او روزنی په مرکزونو کی تر حجز لاندی ماشومانو د ساتنې د طرزالعمل په باب د افغانستان د انتقالی اسلامی دولت د ریې س د فرمان یو نقل ته ځای ورکړ شوی دی.

د یادونی وړه چې د کتاب د مطالبو په ترتیب او لیکلو کی تر وسی وسی هڅه شویده چی له موجودو ماخذونو او سرچینو څخه کار واخستل شی ولی څنګه چی د کتاب مطالب په لنډه موده کې په بیړه لیکل شویدی له نیمګړتیا څخه به تش نه وی نو له دې کبله له ټولو لوستونکو او د نظر له خاوندانو څخه چی داکتاب مطالعه کوی، د زړه له کومې هیله کوو چی د کتاب تیروتنې او نیمګړتیاوې له خپلو رغندو نیوکو او وړاندیزونو سره د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون د ماشوم د حقوقو څانګی او یا د کتاب د لیکوالانو په پته راولیږی څو په وروستی چاپ کی په پام کی ونیول شي.

په پای کی د یادونی وړ ده چی د افغانسان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون له غړی او د ماشومانو دحقوقو د برخی د کمشنري محترمې هنگامې انوری او د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون د ماشومانو د حقوقو د برخی د مسؤول محترم نجیب الله ځدران ببرکزی څخه د علمی او مسلکی همکاریو څخه زیاته مننه کوو او په ورسپارل شویو دندوکی له پاک خدای نه دوی ته زیات بریالیتوب غواړو، ځکه دوی ددې کتاب د لیکلو پر مهال هر ډول امکانات او لازم شرایط یې مونږ ته برابر کړل. او د کتاب په لیکلو کی پرلو په پرلو له مونږ سره په زړه پورې مرسته وکړل.

په دې هیله چی دغه ناڅیزه لیکنه لوستونکوته گټوره ثابته شی او د ماشوم د حقوقو داعادي او زمونږ د جنگ ځپلی هیواد د ماشومانو د انسانی حقوقو د ساتنی لپاره یو خدمت وی، لوستونکو ته د لوستلو بلنه ورکوو.

«ومن الله التوفیق»

پوهندوی: دوکتور غلام دستگیرحضرتی

اوپوهنمل عبدالحق

لومړی فصل

د ماشوم د حقوقو پیژندنه

ننې ماشوم د سبا ورځې ښځې او نارینه دی او په راتلونکی کی ستر ټولنیز مسؤولیتونه په غاړه لري. دارواپوهنې ډیر پوهان په دې آند دي چی د ماشومتوب دوره د ژوندانه د نورو دورو په پرتله خورا مهم او حساسه دوره ده، ځکه په طبعي ډول په دې دوره کی د فرد د شخصیت بنسټ ایښودل کیږی. ددغو پوهانو په عقیده، ماشومان معمولاً د ټولنی هغه بیشمیره غړی دی چی نشی کولای په خپلواک ډول لکه څنګه چی لازم دی خپل طبعیی او ذاتی واکونه او مهارتونه وکاروي. نو له دې امله د ژوند په بهیر کی د لویانو مرستی، لاس نیوی او لارښوونی ته زیاته اړتیا لري.

له اړنګه پرته چی ماشومان د ټولنی اړیانا توان او زیان منونکی قشر دی او د ماشومتوب په دوره کی ځانګړی ځارنی او پاملرنې ته اړتیا لري او د ټولنې د نورو وګړو په شان حق لري چې په سالمه او عادلانه توګه ژوند وکړی او له هر ډول سالمو شرایطو څخه چی د هغوی د جسمی ، ذهنی، عاطفی او ټولنیزو ځواکونو دودې په خاطر اغیزمن او ګټور دی، ګټه واخلي. دا هماغه حق دی چی الهی ادیان، پوهان او دانشمندان، په تیره بیا د ملګرو ملتونو سازمان هغه د ماشوم د (طبیعی او ذاتی) حق په نامه یادکړیدی. خو له بده مرغه دغه حق په تیرو وختو کې په بیلا بیلو شکلونو او لاروچارو له ماشومانو څخه اخیستل شوی او د ټولنی دغه اړ قشر له خپلو مدنی او انسانی حقوقو څخه بی برخی شویدی.

په دی فصل کی د موضوع اهمیت ته په پاملرنې سره د ماشوم برخلیک په تیرو دورو کی څیړو او وړسی د اسلام مبین دین او نړیوالو اعلامیو او کنوانسیونونو له نظره هغه شمیر چارواکو او مسؤولینو ته چی د ماشومانو له رازراز مسلو سره سراو کار لری د ماشوم د حقوقو په باره کی دوی ته معلومات ورکړی کوو څو د هغې په مطالعې سره دماشوم حقوق وپیژني او په عمل کی له هغې نه استفاده وکړی.

۱- په تیرو دورو کې د ماشوم برخلیک:

دایو منل شوی حقیقت دی چی اوس مهال دانسان شخصیت هر اړخیزې ودې مسلو او د کوچنی د مدنی او ذاتی حقوقو او طبیعی استعدادونو ته ځانګړی پاملرنه کیږی. خو په تیرو دورو کی کوچنیان له خپلو هر ډول مدنی او طبیعی حقوقو څخه محروم وه او په تیرو بیلابیلو دو ودی د ټولنې له دغه اړخه سره غیر انسانی ناوړه چلند شوی دی. لکه څنګه چی په لرغونی روم کی تر ۳۷۴ م کال پورې د کوچنیانو له منځه وړل او وژل د مور او پلار قانوني حق ګڼل کیدل.(۱)

کوچنیان په منځنیو پیړیو کی زیاتره دانسان په لاس د جوړشویو خدایانو او بتانو قربانی کیدل. پلوتارک (Plutartk) دکارتاژانو په منځ کی د بتانو تر پښو لاندی دماشومانو د قربانې په باب داسې وایې: لویانو به په شوق اومینه خپل ماشومان د بتانو په پښو کې قربانول او هغوی چی کوچنیان نه درلودل د نورو څخه به ئی ماشومان پیرودل او بیا به یې د بت په وړاندې د هغوی سرونه غوڅول. تابه ویل چی دادپسونو او یا کوچنیو مرغانو بچیان دی یې حلالیږی(۲)

دماشومانو د قربانی پر مهال موراو پلار به هم بیله دې چی اوښکی توې کړی ددې پیښی شاهدان اوګیدونکی وی. کله چی ښځینو والدینو په خپل خه کی شکایت کاوه او یا به یې چیغې او فریادونه وهل نو لازم او بایده وه چی سوبه به یې ویستله او له خپلې ډې ګناه څخه به یې عذر خواهی کوله. کله به چی کوچنیان قربانی کیدل په دې وخت کې به دعبادتخی ټول انګړ په چیغو او فریادونو ډک شول او که به چا فریاد کاوه میشخله به چا ورته غږ نه نیوه.

د یادونې وړ ده چې د اسلام د سپیڅلي دین له ظهورنه مخکې په جزیرة العرب کې د نجونو ژوندۍ خښول یو طبیعي کار شمیرل کیده. دعربو قبیلو او پیژندل شوو اشخاصو به د شرم او ننګ له امله خپلې لونې ژوندۍ په حمکه خښولې لکه چې په قران مجید کې د نبي تمیم قبیلې په باب داسې راغلي دي: کله چې به دوی ته خبر ورکړ شو چې ښځه یې نجلۍ زیږولې ده، څیره به یې له زیاتې ناآرامۍ څخه توره شوه، په داسې حال کې چې غوښتل خپله غوسه کمه کړي، ځان به یې له خلکو پټاوه، ددې لپاره چې دغه بد خبر یې اوریدلی ؤ، نه پوهیده چې څه وکړي؟ ایا هغه په عین رسوائی کې پریږدي یا هغه ژوندۍ په ګور ومنډي، څومره به دوی د ناوړ عمل مرتکب شول(۳).

داسلام دین تر راتګ د مخه د عربو په منځ کې به ماشوم له عادي حقوقو نه محروم اود خپلو پلرونو دارادو څخه به قربان شول. که چیرې پلرونو وغوښتل چې هغوی دي ژوندي وساتي. هغوي به یې ساتل او کنه دنفقې او ژوندانه له لګښتونو ځخه د خلاصون لپاره، هغوی به یې له مینځه وړل او وژل.

د عربو په څیر په رومیانو کې هم د نجونو وژل یو دود ؤ. د روم ځواکمن قیصر هیلاریون (Hillarion) له میلاد څخه یو کال د مخه کله چې میرمن یې الیس اولادته سترګې په لاره وه، هغه ته یې په دې مضمون لیک ولیکه: «که ځوی دې وزیږاوه، هغه ژوندی پریږده، او که چیرې نجلۍ وه، هغه له منځه یوسه.» (۴)رومي پلرونو حق درلود چې خپل بچیان ؤوژنې او یا له زیږدنې وروسته هغوی په لویو لاروکې واچوي.

رومیانو عقیده درلوده چې هغه اولادونه چې غیر عادي څیره لري او یا له حده زیات ژاړي، باید ژوندې پاتې نشي، رومیانو د کورنۍ لومړنې اولاد که چیرې هلک ؤ، ژوندی ساته او پاتې به یې له منځه وړل او یا به یې په سیندونو او رودونو کې لاهو کول، او یا به ئې په ځارویو خوړل. درومیانو په نظر د ماشومانووژل دټولنې د نفوس د کنترول لپاره یوه غوره لاره ګڼل کیده. په هغو ډبرنیو کتیبو کې چې له ۱۰۰ میلادي کال څخه د اپولون (Apolon) د مرکز ددلفي په عبادتځې کې پاتې شوي، داسې لولو: «په شپږوسوو کورنیو کې، یوائې شپږو کورنیو ته اجازه ورکړشوې وه چې له یوې نجلۍ څخه زیات نجونې وروزي. آن تردې پورې چې کورنۍ اړ شوې وو چې خپلې لونې له منځه یوسي. ډیر لږ په داسې پیښیدل چې یوه کورنۍ دې اجازه ولري له دوه زامنو زیات زامن ولري.»(۵)

په فرانسه کی هم د ۷۵۲ میلادی کال د پاچاهانو دواکمنی تردوري پورې، کوندې وښځو او بی ښځو پلرونو ته اجازه ورکړه شوې وه چی خپل اولادونه وپلوري، دغه کار په فرانسوی ټولنه کې پیړی پیړی دوام وکړ او د کوچنیانو زړه دردوونکی حالت په ډیره بیرحمی سره تر سره کیده او آن داچی د کوچنیانو په وړاندی دغه شرایط د فرانسی د ستر انقلاب (۱۷۸۹) م پورې دوام پیدا کړ.(۶)

که د بشری ټولنی تاریخی بهیر ته نظر واچوو نو دا به معلومه شی چی په ځینو دغو دوروکی د کوچنیانو په وړاندی په قساوت او بیرحمی سره عمل شوې او هغوی د ژوند له هر ډول عادی حق څخه بی برخی شوی دی، په ځینو دغو دورو کی لولو: کله چی به یو مور مړه شوه، نو د هغی ژوندی ماشوم به یې هم ورسره یو ځای خښاوه، او یا که به مور غبرګونی وزیږول، یو به یې واژه او بل به یې ژوندی ساته. سپنسر پخپل کتاب (بشری ټولنه) کی لیکی: یو استرالیائی پلار به چی کله د کب نیولو دام ته طعمه پیدا نه کړه د خپلو بچیانو څخه به یې د غوښو یوه ټوټه پریکوله څو په دې ډول کبان ښکار کړي.(۷)

دایومسلم حقیقت دی چی د نړۍ په ډیرو ملکونو کی په منځنیو پیړیو کی د کوچنیانو ژوند له ډیرو دردوونکو او زیاتو ستونزو سره مخامخ ؤ، پرته له دې چی کوچنیانوته پاملرنه وشی هر راز ظلم او ستم لاندې ژوندکاوه. د ساری په توګه: ((دوهم فریدرک سزار)) په ۱۳ م پیړی کی والدینو او هم رضاعی میندوته امر وکړ چی تر څارنی لاندی ماشومانو ته یواځی خواړه ورکړی او ویې مینځی. ولې له هغوی سره د هیڅ ډول مینې او محبت حق نه لری.(۸)

په دې ډول د منځنۍ پیړی تر پایه پوری دنړۍ په ډیرو پرمختللو هیوادونو کې د کوچنیانو ژوندته پام نه کیده او برعکس پر هغوی ظلم او ستم یو عادی خبره وه. ځکه زیاتره ماشومان به چی د زمینداراتو په ځمکو کې کار کاوه، د مریې یا غلام په توګه به یو ځای له ځمکی سره د ځمکه وال یا بادار له خوا پلورل کیده، په دې ډول به له هغوی څخه د پر مختلونکی ژوند حق سلبیده. په هغه مهال کی دا یو بد دود ؤ چی ماشومان به د کورنۍ له چاپیریال او ماحول څخه لیرې ساتل کیده. په دی ډول به ماشومان د زیږیدنې له وخته له موراو پلار نه جلا کیدل او دوې د ځوانۍ او بلوغ تر وخته پورې اجازه نه درلوده چی د خپلو والدینو سره یوه شیبه هم وګوری.

افلاتون د «جمهوریت» کتاب کی لیکی: ټول هغه کسان چې عمر یې له لسو کالو څخه زیات دی باید کلي ته وشړل شی او هم هغه ماشومان چی د خپل پلار د اخلاقو تر اغیزې لاندې وي باید ګوښه کړای شي. مور نشو کولای خپل مطلوب جمهوریت له هغو ځوانانو څخه جوړ کړو چې تل د خپلو والدینو څخه دپیروی په سبب تر فشار لاندې دی(۹)

د منځنیو پیړیو په دورو کی او آن له هغه وروسته ډیر کوچنیان په سیاسی جګړو او د تاریخ د جګړه مارو پراختیا غوښتونکو په جګړوکې د برمته او بندی په ډول له خپلو والدینو څخه بیلیدل او په زور په زرګونو کیلو متره د کورنې له چاپیریال څخه لرې ساتل کیدل.

ښائی په لږ تردید سره ادعا وکړو چې ۱۷ او ۱۸ م پیړۍ د بشر د بدلون په تاریخ کی یوه ارزښتمنه دوره ده. د متفکرینو د مترقی افکاروژور آغیزه لکه: جان آموس کامینوس، ولټر، ژان ژاک روسو، فرانسس بیکن، جان لاک اونورونظریې د منځنیو پیړیو پرافکارو یو کلک ګوزار ؤچی عملاً د ماشومانو د حقوقو په باره کی د منځنی پیړۍ زوړ فکر پای ته ورساوه او په دې توګه د بشر ژوند له هغې جملی څخه ماشومانوژوند په خورا چټکی سره په نوی ډګر کې بدلون ومونډ، داسی ډګر چې په هغه کی د ژوند ټولی برخی له نوی بدلون سره مخامخ شواو د کوچنیانو ژوند ستر بدلون ومونډ، ښوونکو او روزونکو د زده کوونکو په زده کړه کې ډول ډول لارې چارې غوره او عملی کړې. خو ددغو بدلونونو په برخه کی د نړۍ په ځینو هیوادوکی بیاهم د ښوونې او روزنی لارې چارې دوهلو او خشونت له لارې ترسره کیږي. له بلی خوا د منځنی پیړۍ افکار، د سترو فیوډالانو په کروندو کی د کوچنیانو سخت او ستونزمن کار، او ورپسی د پانګوالو په تیارواو غیر صحی کارخانو کی د ماشومانو بی ځنډه هڅه، هغه زړه بوږنوونکی واقعیتونه وو چی د هغه وخت پر کوچنیانو باندی د کار پر مهال عملي کیدل.

په ۱۸۴۲ میلادی کال کی د انګلستان د سنا مجلس لارد شافتس بري (Lord Shafits Bury) ته دنده وسپارله تر څو د هغو ماشومانو په برخه کی چی د ډبرسکرو په کان کی یې کار کاوه، څیړنه وکړی. دی له زیاتو څیړنو وروسته د څیړنو پایلې داسی بیانوی: « دکانونو خاوندان پنځه کلن او شپږ کلن ماشومان د ډبرو سکرو په کان کې کار کولوته اړ باسي. دغه کوچنیان سهار وختی په څلورو بجو له خوبه ویښیږی او له دري یا څلورو کیلومترو وروسته په داسی حال کی چی زړی جامی یې په غاړه وی کان ته رسیږی او له

غرمې وروسته تر دری یا څلورو بجو پورې په سوځنده او خفه کوونکی کان کی سخت کار سرته رسوی(۱۰)

په دی څېړنو کی یو اته کلن ماشوم چی ساراگودر (Sara Gooder) نومیږی په دغه کان کی د ژوندانه د حالت او د سخت کار د څرنگوالی په اړه د شافتس بری د څېړنې کمیټی ته داسی څرگندونې کوی: «زه معمولاً د سهار په څلورو بجو او کله بیا په څلورنیمو بجو له کاره وزگاریږم. زه هیڅکله نشم کولای سبق ووایم، کله چې دکان دننه روښان وې، جرئت کوم چی یو څه په لوړ آواز سندرې ووایم، خو د کان په تړمی کی، آن دغه جرئت هم نلرم(۱۱)

پس له دې چی د کمیسیون کار بشپړ او د کمیسیون د کار ریوټ د انگلستان د سنا په مجلس کی لوستل کیده د مجلس یو استازی داسی څرگندونه وکړه: باید په پام کی ولرو چی په کان کی کارکول دغو هلکانو ته عملی او ضروری تجربه ده، دکان د کارگرو بچیان د ښوونځی په ټولگی کی تیوریک زده کړی ته اړتیا نه لری او بهتره ده چی په فابریکه یا کارخانه کی کار وکړي.(۱۲)

د یادونې وړ ده، لکه څنگه چی موویل: دماشومانو بد او دردناک حالت پیړی پیړی دوام وکړ او په د غسی ناوړه حالت کی د کوچنیانو د ژوندانه وضعې ته، نه پاملرنه د انسانی موجود په توگه، په پوره شدت سره ادامه درلوده، مگر د منځنیو پیړیو په پای او د نوی پیر (رنسانس د دورې) په پیل سره دماشومانو ژوند ته پام وشو او دهغوی په باب نوی نظر منځ ته راغی. که څه هم په وروستیو دورو کی (تر ۱۸ او ۱۹ پیړی پورې) مور د ماشومانو په وړاندی دوحشیانه چلند شاهدان یو خو له دې ټولو ستونزو سره سره د ژوند حالت او د کوچنوالی د دورې اړتیاوو ته پاملرنه ورځ په ورځ ښه او د ماشومانو حقوقی مسئلو د نړی د ملتونو د پاملرنې په محراق یا مرکز کی ځای ونیو. په ۱۹۲۴ کال کی د لومړی ځل لپاره د ماشومانو د حقوقو او هوساینو په باب په ژنیو کی یوه اعلامیه تصویب او په رسمیت وپیژندل شوه. ورپسی د ماشوم د حقوقو نړیواله اعلامیه د ۱۹۵۲ میلادی کال د نومبر په ۲۰ مه د ملگرو ملتونو د افرادو، د ولتي سازمانونو، محلی مقاماتو او دولتونو په نامه له پلرونو، میندو ښځو او نارینه ؤو څخه وغوښتل شو چی دغه حقوق په رسمیت وپیژنی او په ساتنه کی یې د قوانینو او نورو تمهیداتو له لارې چی په دغو اصولو کی جوت شویدی. هخه او هاند وکړي.

دغه اصول به په وروستیو فصلونو کی بیان شي. سر بیره په دې د ماشوم د حقوقو کنوانسیون (میثاق) د ۱۹۹۸ میلادی کال د نوومبر په ۲۰ مه نیټه د م م د سازمان په عمومی غونډه کی تصویب شو. دغه کنوانسیون یوه سریزه او ۵۴ مادې لري چی ۴۱ مادې یې د ماشوم حقوق بیانوی او ۱۳ مادې یې په هر هیواد کی دهغه داجراتو د څرنګوالی په باره کی دي.

دغه کنوانسیون د ماشومانو په باب څلور بنسټیزی مسئلی څیړې چی عبارت دی له دژوند بقاء او پاینبت، وده، ملاتړ او ګډون یا مشارکت

زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې تیروتپل شویو جګړو د بشری حقوقو سرغړونې په تیره بیا د ماشوم د حقوقو د سرغړونی په اړه زیات اسباب په بیلو بیلو ډګرونو کی په پراخه کچه رامنځ ته کړل. د ټولنی اړ ماشومان یې له ټولو ذاتی او انسانی حقوقو او امتیازونو څخه بی برخې کړل. ماشومان د اوږدو جګړو په بهیر کی د هیواد په دننه او بهر کې په ډیره بیرحمی کډوالی ته مجبور کړل او د ناوړو اقتصادی شرایطو او د ژوندانه د بدو حالاتو په رامنځته کولو سره یې په ستونزمنو او انسانی ضد کارونو بوخت کړل. اوس چی په هیواد کی د سولې او ارامی ځلانده لمر دتورو تیارو غرونو له سرونو راختلی دی، له بده مرغه اوس هم د ماشوم حقوق په ارامی، دیموکراسی او ټولنیز عدالت باندی د ځینو بی باورو ډلو له خوا تر پښو لاندې کیږی او له مینځه ځی. خو بشپړ باور لرو چی د ځوریدلو خلکو او نړیوالو ټولنو په مرسته او همکاری به په هیواد کی د ماشوم د حقوقو د تامین او ساتنی په لاره کی بری تر لاسه کړو او ټولې ستونزې به له منځه یوسوو. د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون به په جوړیدوپه تیره بیا د ماشوم د حقوقو د ساتنی ژمنګی په رامنځته کیدو سره چی د جوړیدو له وخت څخه یې له یو کال نه زیات وخت نه تیریږی دغه ډاډ منځ ته راغی چی کمیسیون په خپل ټول ځواک او وس د خلکودحقوقو د تامین، د سولې د ټینګښت، دقانون د حکومت او اجتماعی عدالت په لاره کی به په کار واچوی. او په دې برخه کی به تر پخوا زیات خپل مسوولیتونه او مکلفیتونه د خدای (ج) په اتکاء او د خلکو په مرسته تر سره کړي.

۲- ماشوم څوک دی؟

دماشوم د حقونود نړیوالې اعلامیې له مخې، په حقیقت کی ماشوم هغه څوك دی چی له ۱۸ کالو څخه کم عمر ولری. مگر داچی د هیواد ملی قوانینو د بلوغ سن کم تشخیص کړی وی (۱۳)

د روزنې د پوهانو له نظره، ماشوم یا کوچنی هغه څوک دی چی د لویانو له شخصیت سره بشپړ توپیر لری او د ژوند په بهیر کی یې تجربی محدودې وي او د ماشومتوب له ربنتینوالی او صفائی څخه برخمن وی. اولا تر اوسه د لویانو له احتمالی چالونو او بدنیتیو سره بلد او آشنانه وی او عمدتاً یو عاطفي موجود وی نه عقلانی،

ماشوم یا کوچنی له اسرارو‌ډک موجود، دلوی خدای(ج) د پیدایش معجزه او عجوبه چی نیم مادی او نیم معنوی شتوالی لری. که چیرې د نیکی خواته میلان پیداکړی له ملایکو نه هم غوره گنل کیږي.

ماشوم هغه فرد دی چی د ژوند په لومړیو کلونو کی رازراز قابلیتونه لري، په داسی حال کی چی په بل هیڅ پړاو کی په فردکي دغسی وړتیاوې نه وینو. هغه ددغو وړتیاوو په سیوری کی کولای شی عاقل او پوه وروزل شی یا ککړ او ناسالم شخص ورڅخه جوړ شی.

ماشوم هغه فرددی چی د خپلوحواسو په واسطه کولای شی پدیدی لمس کړی، ووینی، واوری او بوی یې کړې او ورو ورو ورسره آشنا شی.هغه داسې یو موجود دی چی تل فکر کوی، ناطق او عاقل او سامانو آلات پیژندونکی او دکمال پلټونکی دی، همدارنگه هغه یو سیلسی موجود دی، هغه که چیری د ژوند د پیدایښت په لومړیو وختونو کی پوهه او معلومات نه لری او یا لږه تجربه یې ورپه برخه وی، خو کولای شی ډیر شیان زده کړی او په دی و توانیږی چی خپلی زده کړې نوروته ولیږدوی ماشوم هغه څوک دی چی دښو او بدو د پیژندنې استعداد لری او هغه څوک دی چی پر ټولو ښو او بدو شیانو دلاسبری په استعداد سره کولای شی په پدیدو کی دخالت وکړی او واقعیتونو ته د ځان او ټولنې په گټه بدلون ورکړي.

هغه په ظاهر کی یو کمزوری او بی وسه موجود دی او ددې دپاره چی د کوچنیتوب له کمزوری پړاوو نه خلاص شی دوخت او زمان تیریدوته اړتیا لری او گورو چی د هغه

دکوچنیوالی دوره د بلوغ سن ته تررسیدو پورې له ټولو موجوداتو نه خورا اوږده ده ولې هغه تر ټولو موجوداتو خورا چمتوالی لري چې شیان زده کړي، یعنی د تعلیم او زده کړی وس لري.

هغه څه چی دماشوم د خویونو په باب ولیکل شول کولای شو دې پایلې ته ورسیږو چی ماشوم د فطرت یا ځانګړی طبیعی جوړښت لرونکی دی او د زیږیدنی او له هغه څخه وروسته وس او استعداد لری چی نیک او صالح فرد شی او یا برعکس بد او فاسد سړی ورڅخه جوړ شی او شیطانی صفتونه پیداکړی. که چیری ماشوم په سالمه فضا کی وروزل شی او لازم فرصتونه په واک کې ولری او حقوق یې په نظر کی ونیول شی په ربښتیا سره به په راتلونکی کی نیک او صالح سړی ورڅخه جوړ شي. یوارواپوه چی هاروکس (Horrocks) نومیږی وائی: «کوچنیان د ژوند په ټاکلو دوروکی پخپلو محدودو تجربو سره فکر کوی او په هر څه پوهیږی. هغوی په رؤیا او تخیل کی ژوند کوی اما له واقعیت سره مخامخ دي، هغوی مست دي هوښیار، ویده دی، خو ویښ» (۱۴)

لنډه داچی هر ماشوم حقونه او ځانګړتیاوې لری چی باید هغه ته پاملرنه وشی،داځانګړتیاوی دادی:

- هر ماشوم باید د کوچني والی له دورې نه خوند واخلی.
- هرماشوم باید له خپل ذاتی او طبیعی حق څخه د ماشومتوب په ورځو کی برخمن شی او د چارومسئولین دغه حقوق جوت او په ساتنه کې یې اقدام وکړی.
- بایدد کوچنی وده په داسې چاپیریال کی تر سره شی چی هلته مینه، محبت او امنیت وي.

۳- د اسلام له نظره دکوچنی حقوق:

د اسلام مقدس دین د کوچنیانو د حقوقو په اړه زیاتې لارښوونې کړی. اسلام د کوچنیوالی دوره تل د خوښیو، ښکلاؤ، محبت او خوبونو ددنیا به توګه انځوروی. د قران مجید مبارک آیتونه ماشومانو سره د لوی خدای (ج) د عشق او مینی ځرګندوی دي لکه چی پاک خدای د البلد په سوره کی په ماشومانو قسم یادوی(۱۰)

همدارنګه لوی خدای (ج) دالکهف د سورې په ۴۶ آیت کی فرمائی:

ترجمه: مال او اولاد په دنیوی ژوند کی ښکلا او زینت دی. د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد(ص) د کوچنیتوب نړۍ لکه جنت تصور کړی، فرمایي: «ماشومان د جنت پتنګان دي.» (۱۶)

د اسلام سپیڅلی دین ماشومانوته زیاته پاملرنه کړې او پلرونه یې د لوړې او اقتصادی ستونزو له کبله داولادونو له وژلو څخه منع کړیدی. د اسلام په تعالیمو کی ماشوم دومره اهمیت او مقام لری چی تر هغه وخته پورې به چی حضرت امام حسین (ع) د حضرت محمد(ص) پر اوږو ناست ؤ هغه مبارک به سر له سجدې نه پورته کاوه، لمونځ به یې د هغه له ارزښت او اهمیت سره سره، د ماشوم دژړا له امله په بیړه سرته رساوه. (۱۷)

د حضرت محمد(ص) مبارک زړه دماشومانو له محبت او مینی څخه ډک ؤ، روایت دی چی: یوه ورځ د اسلام ستر پیغمبر د منبر د پاسه خلکو ته خبر ی کولې، نابببره یې خپل لمسیان (حسن او حسین رضوان الله تعالی عنهم) ولیدل چی د خلکو په منځ کی روان دی او په سختی سره لاړ پرانیزی. حضرت محمد(ص) خپلی خبری پری کړې، له منبر څخه راکوز شو او ددغو دوو ماشومانو هر کلی ته ورغی، دواړه یې پخپل غیږ کی ونیول او پر منبر کښیناست او وې ویل:

ای خلکو! په ربښتیاچی مال او بچیان ستاسې د ازموینی لپاره دي، په خدای قسم چی ومې لیدل چی زما بچیان په سختی سره لاروهي-طاقت مې ونه کړ چی له منبر څخه راکوز نشم او هغوی په خوا پوری ونه نیسم.(۱۸)

روایت دی چی، یوه ورځ حضرت محمد(ص) لمونځ کاوه د سجدې پر مهال لمسیان یې د پیغمبر(ص) پرشاوختل، پیغمبر(ص) ونه غوښتل چی په بیړه هغوی له خپل شا څخه راکوز کړي، دومره یې سجده اوږده کړه چی مبارک لمسیان یې له مبارکې ملا څخه کښته شول- له هغه وروسته حضرت محمد(ص) سلام وګرځاوه او دعایې وکړه. یو چا تري پوښتنه وکړه چی سجده دې ولې دومره اوږده کړي؟ پیغمبر(ص) ځواب ورکړ چی: لمسیان می پرشا وختل او ماونه غوښتل چی هغوی ډیرژر، په بیړه له شا کوزکړم(۱۹)

یوه ورځ حضرت پیغمبر د خپلی لور بی بی فاطمې(رض) د کور له مخی تیریده د حضرت حسین(ع) ژړا یې واوریده، پیغمبر(ص) ونه شو کړای ودریږی او د حسین (ع) ژړا واوړې، په کورکی دننه شو او بی بی فاطمی ته یې له غوسې وروسته وویل: «آیا نه پوهیږې چی ددوی ژړا زما د خپګان سبب ګرځي» (۲۰)

داسې روایت دی چی یوه ورځ د حابس زوی العکیره د حضرت محمد(ص) لیدوته لاړ او آنحضرت(ص) یې د خپلو لمسیانو دمچولو پر مهال ولید. العکبره حضرت محمد(ص) ته وویل: ((ته دلور زامن مچوې په خدای(ج) قسم خورم چی لس ماشومان لرم تر اوسه پورې مې هیڅ یو هم مچ کړی نه دی. پیغمبر (ص) یې په خواب کی وویل: آیا دازما تقصیر دی چې خدای پاک ستاله زړه نه مهربانی ایستلی دی.(۲۱)

د اسلام د مبین دین له نظره، د ماشومانو حقونه زیات او زیاتره یې داسې دی چی لویان یې لرونکی او حقدار دي. دغه مسئله له دې نظره د یادونې وړده چی ډیرمکتبونه او مذهبونه پخپل وخت او دوره کی په هغه باندی قایل دي. داسلام له نظره ماشوم لکه یو لوی فرد یا شخص ارزښت، مقام او کرامت لري. اسلام ماشوم ته د حقوقی او بشری کرامت له نظره دلوی او ستر انسان په سترګه گوری او د لویانو په شان ورسره معامله کوی.

داسلام دمبین دین له نظره، که چیری یو څوک ونشی کولای د خپلی میرمنې له اداري او کنترول څخه ووځی او ونشی کړاې هغې ته نفقه ورکړي، کولی شی هغی ته طلاق ورکړی، خو د ماشوم په هکله داسی نه ده. هغه باید خپل ماشوم وروزی او ژوندته یې پاملرنه وکړی. اسلامی سپارښتنی وایې: بچیانو ته د پلار ښه میراث سمه روزنه ده. اسلام د ماشوم په حق کی سمه روزنه بچیانوته د موراو پلار یوه ښه ډالی او پیرزوینه ګڼي.

داسلام د فلسفې له نظره د ماشوم د حق اداکول ضروری کاردی ځکه ماشوم مظلوم دی، هغه هم د ځان په ساتنه او هم د خپل حق او حیثیت په دفاع باندی توان نه لری. دغه ځارنې او هڅې باید تر ۲۱ کلنی پوری دوام ومومي.

بیشکه چې ماشوم د اسلام د مبین دین له نظره حقوق لري. ددغو حقوقو اداء کول باید په داسی توګه وشی چی د ماشوم ګټې او ښیګڼې پکی خوندی شی او له داسې لاروچاروترسره شی چې هغې ته زیان او تاوان ونه رسیږی. داسلام له نظره د ماشوم حق یوه وجیبه یا دنده ده او ددغی وجیبی او وظیفی له سرته رسولو څخه ډډه کول ګناه ګڼل کیږي. ځکه چې ددغو حقوقو سر ته نه رسول ماشوم ته د ډیرو نیمګړتیاوو، بدرفتاریو، زیانونو او تاوانونو بنسټ شمیرل کیږی. همداراز که چیرې په کورنی او ټولنه کې ماشوم ته پاملرنه ونه شی. دوي به کږو لارو ته لاړشی. که چیری دماشوم نظر، فکر اوازادی ته پاملرنه ونشی په

ځینو ناروغیو او نا خوالو به آخته شی او یا خپل شخصیت به یې ورته کوچنی او ناخبره ښکاره شی. چې په دې برخه کې به یې له شره په امن نشو پاتې کیدای
د یادونې وړ دی چې مور او پلار او یا د ټولنې نور غړي باید دې ټکی ته پام وکړي چې د اسلام د سپیڅلی دین له نظره د ماشوم د حقوقو اداکول یوه وظیفه ده نه یواحساس ځکه خدای (ج) دغه دنده د لویانو پر غاړه یا اوږو ایښې ده او هغوی یې په دې برخه کې مسئول ګڼلی دي. ماشومان د خدای تعالی امانت دي او ددې امانت د ساتنې په برخه کې هیڅوک پر هغوی د منت ایښودلو حق نلري. البته څوک چې دغه حق اداکوی د خدای(ج) په وړاندې دثواب مستحق ګڼل کیږي. باید په پام کې ولرو چې د اسلام په لومړیو وختونو کې د ماشوم د حقوقو لپاره ځینې قوانین وضع شوی و چې نژدې له ۱۴ پیړیو وروسته بشر او بشري ټولنه ورته ورووړو رسیږي. اسلام د ماشومتوب په ټوله دوره کې چې د انسان دودې او روزنې مهمه دوره ده د ماشوم د حقوقو درعایت په اړه زیاتې لارښوونې او سپارښتنې کړیدی چې څینې یې په لنډه توګه داسې بیانیږي.

الف- دماشوم له وژنې څخه ډډه:

په اسلام کې عمومي قوانین او یو لړ سپارښتنې شته چې د بشر د ژوند د ارزښت ښکارندوی دي. په دې قوانینو یا سپارښتنو کې راغلی دی چې د ماشوم د ژوندانه د بقا او ساتنې په لاره کې هر ډول غفلت او ناغیږي ستره ګناه ده. دغه لارښوونې په دغه مبارک آیت کې څرګندشویدی: قرانکریم فرمایي:
ترجمه: خپل بچیان د لوږې او نیستۍ له ویرې مه وژنئ، موږ دوی او تاسې ته روزی ورکوو ځکه د هغوی وژنه ستره ګناه ده! (داسراء سوره ۲۱ آیت)
خدای(ج) د ټولو مخلوقاتو خالق او رازق دې او ټولو ژوندیو موجوداتو ته رزق او روزی رسوی.
لکه چې فرمایي: د ځمکې پر مخ داسې زیروح نشته چې رزق او روزی یې پر خدای(ج) نه وی.
نو ځکه داسلام مبین دین پلار او مور دماشوم دژوند د بقا او ساتنې مسئول ښودلې دي چې په دې توګه ماشوم موراو پلار ته یو امانت دی چې تل یې باید پاملرنه او پالنه وشی. د

اسلام د مبین دین له نظره مور او پلار او نور مسئولین د خپل ماشوم د ساتنې ځارنې په باب د لوی خدای(ج) په وړاندې مسئوول دي.
ماشوم د ژوند په لومړیو کلونو کې له هغو خطرونو څخه بې خبره دی چې دده ژوند په خطر کې اچوي او همدارنګه دخوراکي شیانو په برابر ولو او هم د خپل ژوندانه په ځارنه قادر نه وي، لدې کبله اسلام لویان په تیره بیا والدین د خپلو ماشومانو د ساتنې په برخه کې د هغو ناروغیو او خطرونو په وړا ندې مسئوول ګڼي، کوم چې ددوی ژوندته ګوابښ وي.

ب: دماشوم منل:

د ماشوم منل د هغه ښکاره او څرګند حق دی. ماشوم هغه میلمه دی چې مور او پلار ورته د ژوند له پاره بلنه ورکړی وي. ددغه میلمه نه منل او د هغې په اړه بې پروائی کول لوی ظلم دی. باید هغه په هر شکل او جنس چې وی، روغ یا معیوب، ښکلی یا بدرنګه، هلک یا که نجلی. ومنل شی او دوظیفی له مخې د هغه د سمې او سالمې ودې په لاره کې زیاته هڅه او هاند وشی. دماشوم یا کوچنی منل په ماشوم کې د مطلوب شخصیت د رامنځته کولویو خورا مهم عامل دی. هغه کوچنی چې ځان په ټولنه یا کورنۍ کې د منلو وړ نه بولي ښایې چې په ټولنه او کورنۍ کې ځان ټیټ احساس کړي او یا داچې د لجاجت اوناسازګاری موضوع تعقیب کړي اوپه پایله کې ځان او نور له ستونزو سره مخامخ کړي. نو ددې لپاره باید ماشوم ومنل شي ترڅو په هغه کې د عظمت او لوی‌والی احساس وده وکړی نو ځکه د اسلام دین ماشوم د ټولنې یو ګټور غړی ګڼي او هغه د نورو د مننې او ملا تړ مستحق بولي.

ج- د لما نځنې حق (داحترام حق):

ماشوم د خدای(ج) مخلوق، مور او پلار او نورو ته یو امانت دی.قران مجید د خدای(ج) له لورې هغه د احترام وړ موجود ګڼي.
(ولقد کرمنا بنی آدم) (د اسراء سورة ۷۰ آیت) بنی آدم یو داسې موجود دی چې خدای(ج) هغې ته پر ټولو مخلوقاتو فضیلت او غوره والی ورکړی دی.

﴿ وفضلنا هُم علی کثیر ممن خلقنا﴾ نو لدی کبله څوک چې د خدای(ج) د تکریم او لطف وړدی باید د نورو دبی اعتنائی او بی مهری وړونه گرځی او آن موراوپلار حق نلری هغه توهین کړی.

اسلام وایي: په حقیقت کې ماشوم ته احترام د هغه حق دی نه د موراوپلار او یا د نورو لطف او عنایت اسلام له مور او پلارنه ددغه کار حق غواړی ترڅو والدین د هغه په اداء کی گام اوچت کړی (۲۲) که چیرې د اخلاقو اوروزنی مسئله مطرح وی نو بنیاد یې په همدې احترام ولاړ دی. د حضرت محمد (ص) کړه وړه له خپلو ماشومانو او د نورو خلکو له بچیانو سره موړ ته یو سبق دی. مثلاً په هیڅ یو روایت کی نه دی راغلی چی رسول اکرم (ص) یو ماشوم په څپیړه وهلی او یا یې ورته اوښکی بهولې وي، برعکس دا قضیه مو اوریدلې ده چی کله کله انحضرت(ص) د ماشوم پر مظلومیت ژړلي او د ماشوم په بیوزلیتوب ناکرار شویدی. دغه راز مو ماشومانو ته د احترام په باب دا موضوع هم اوریدلی او لوستلی دی چی کله کله به انحضرت(ص) ځان داوښ په شان جوړول تر څو چی لمسیان یې پر اوږوسپاره شی. کله به چی یوماشوم غوښتل هغوی به یې پر اوږوپورته کول او هغوی به یې ځای پر ځای کول، په لمانځه کی به یې سجده اوږدوله، ددې له پاره چی ماشوم به یې پر شاسپور ؤ. او کله کله به یې لمونځ په چټکی سره اداکاوه څو دماشوم چیغو ته چی ژړل به یې ورسیږی او ورسره مرسته وکړی. (۲۳)

اوس مو ولیدل چی د نړۍ دمسلمانانو سترلارښود حضرت محمد(ص) له ماشومانو سره دغسی چلند او معامله کول، نور به څه عذر ولري چی په ماشومانو زړه سوی او شفقت ونه کړي او حقوق یې اداء نه کړی.

د-دخواړو حق:

دماشوم جسمی وده دمادیوسایلو په برابرولو پوری اړه لری، دماشوم بدنی وده په غذا، پوره روغتیاساتنې، اوبو، هوا، ځای، خوب، استراحت، لوبو او داسی نورو علتونو پوری اړه لری. هر ماشوم د عمر دځرنگوالی یا دروغتیااو ناروغی د شرایطوله کبله ډول ډول اړتیاوې لري. هغه څومره اندازه خوب او خواړه چی ماشوم یې د ژوند په لومړیو کلنو کی ورته اړتیالري ښایی له وروستیو کلونو سره توپیر ولری.

دایو واقعیت دی چې د ماشوم ارتیاوې په جسمانی ودی پوری اړه لری او د ارتیاوی د هغه اوبو او خوړوته په تمایل کې ځلیږی او دهغه کړه اوسلوک له دغه ارتیا څخه حکایت کوی، نو د خوړو له نظره پر والدینو حق لري چی باید د خوړو له نظره د هغه ارتیاوې پوره کړي په اسلامی لارښوونو کی د ماشوم خوړو د څرنګوالی په حق کی داسې زیاتی سپارښتنی شته چی یو څه برخه به یې په وروستیو فصلونو کی وڅیړل شی.

و- د لوبی کولو حق:

فعالیت د انسان یوه ارتیااو د جسمی او بدنی ودې او تکامل بنسټ بلل کیږی. زیاتره پوهان په دې عقیده دی چی روغ رمټ ماشوم ښه خوری، ښه خوب کوی او ښه لوبه کوی.
د لوبی په باب ډیر تعریفونه شویدی چی له هغو څخه یو څو یې دادی:
په عامه توګه لوبه هغه ډول فعالیت ته ویل کیږی چی ماشوم یې د خوند او لذت په خاطر تر سره کوی، پرته له دې چی د هغې وروستی پایله په پام کې ولری، او یا دی ته منتظروی چی یو څه ګټه ورته ورسیږی. ماشوم په پوره شوق او مینه له زور پرته یواځی د بوختیا او خوند په خاطر د غریزې په حکم، په لوبه پیل کوی(۲۴)
ماشومانو ته لوبه یو طبیعی فعالیت او د هغه له فطرت سره سم کار دی. ماشوم له لوبی سره ژوند.کوی، له هغه خوند اخلی او د هغه د سرته رسولو لپاره ډیره انرژې لري. نو ځکه که چیری مور د ځان د ارامی او سوکالی په خاطر ماشوم له لوبو منع کوو په حقیقت کی د هغه د انسانی فطرت خلاف کارکوو او د هغه نیکمرغی د خپلی ارامی څخه ځاروو. نو له همدی سببه ده چی د اسلام په منطق کی ماشوم د ژوند په لومړی دوره کی د لوبی کولو لپاره آزاد دی. د اسلام مبین دین والدینو ته سپارښتنه او امر کوی چی د ماشومانو د لوبو لپاره تر هر څه زیاته زمینه او فرصت برابر کړی. حضرت محمد مصطفی(ص)فرمائی:
((که څوک یو کوچنی ماشوم ولري باید له هغه سره د ماشومتوب او هلکتوب په حالتونو او حرکاتو کې مرسته او همکاری وکړی.)) (۲۵)
د اسلامی معتبرو روایاتو له مخی، د اسلام پیغمبر(ص) به له خپلو لمسیانو او د نورو خلکو له ماشومانو سره لوبو کی ګډون کاوه او د هغوی د هلکتوب په حرکاتو کی به شریکیده. د اسلام ستر پیغمبرحضرت محمد(ص) په یو ځای کی فرمایې:

ژباړه: «هر څوک چې بازار ته لاړشي او خپلې کورنۍ ته یوسوغات رانیسي، د هغه چاپه شان دی چې یو اړ او محتاج قوم ته صدقه ورکوي. او باید چې لومړی هغه خپلو لونو او بیایې زامنوباندی وویشي.» (۲۲)

دایو حقیقت دی چې د ماشومانو په ژوند کې لوبه له خوشالۍ او خوند سره ملګرې ده او په عین حال کې د لوبې وسایل هم د ماشوم د پوهې د سطحې د پراختیا سبب کیږي.

اسلامي اصول ماشومانوته زیات حقوق قایل شوی او د نیکمرغه ژوند لپاره یې زیاتې لارښودنې کړیدی. ددغو اصولو پوخوالې او پاکوالې چې ماشومان زمونږ د سترګو له نوراو روښنائی سره تشبیه کوی په ښه توګه څرګند دی. یو بریالی او کامیاب ماشوم خپل ملت ته یوه قیمتی خزانه شمیرل کیږی. لدې کبله ویلای شو چې د ماشومانو د لوبې په وړاندی داسلام نظر ډیر پراخ او مثبت دی او تل امر کوی چې پریږدی چې ماشوم مو تر لومړیو اووکلو پوری لوبې وکړی. (۲۷)

له بلې خوا اسلام دستر پیغمبر حضرت محمد(ص) او اَسلام د نورو پیشوایانو د ژوندلیک کیسه ددې حقیقت څرګندوی دی چې هغوی به ماشوم لوبو ته اړویستل او آن کله کله به یې پخپله له هغوی سره لوبې کولې.

ز- د نوم لرلوحق:

دماشوم په وړاندی د مور او پلار لومړنی احساس دادی چې له زیږیدو وروسته ښه او نیک نوم هغه ته غوره کړی، که چیری پلار خپل اولادته بد او خراب نوم غوده کړی، په ربښتیا چې د هغه شخصیت او حیثیت ته یې ګوزار ورکړیدی، ځکه ښه نوم د هغه د حیثیت او اعتبار غوندې دی. داسلام ستر پیغمبر(ص) فرمایې: «په پلار باندی اولاد دری حقه لری هغه ته دې ښه، نیک نوم وتاکی. لیک لوست دې ورته زده کړي. او کله چې بالغ کیږی واده دې ورته وکړی.

داسلام د مقدس دین له نظره ماشوم لپاره لومړی باید داسی یو نوم غوره شی چې ماشوم ته د والدینو رغبت وښئی او ددې څخه ګندوی وی چې هغوی له ماشوم سره مینه او محبت کوي. دوهم داچې ماشوم په راتلونکی کې له خپل نامه څخه دویاړاو سرلوړی احساس وکړي.

داسلام مبارک دین د ماشوم د نوم ایښودلو په اړه زیاتې سپارښتنې کړی او تل یې په دې تکی ټینګار کړیدی چی باید بچیانو ته نیک نوم وټاکئ . روایت دی چی د اسلام پیغمبر حضرت محمد(ص) دډیرو کسانو نومونه چی د جاهلیت په دوره کی یې په ناوړه توګه ایښی وؤ بدل کړل.(۲۹)

ح – مینه او ترحم:

په اسلام کی له کوچنیانو سره د مینی او محبت په باب زیاتې سپارښتنی شته . داسلام مبین دین خپل پیروان دې کارته هڅولی دي چی ماشومانو سره باید مینه او پر هغوی ترحم وشی . رسول اکرم (ص) فرمایلی دی: ((ماشومانو سره مینه وکړی او پر هغوی رحم وکړئ ! همدارنګه انحضرت(ص) په بل ځای کی له اولادونو سره د محبت په باب فرمائی: خپل بچیان مچ کړی ځکه تاسی ته په هر مچ سره مقام او مرتبه ورکول کیږی چی د هر مقام تر منځ واټن پنځه سوه کاله دی. (۳۰)
بیشکه چی د اسلام دین خپلو پیروانو او نورو انسانانو ته له کوچنیانو سره دمینې اوترحم په اړه بلنه ورکوي. روایت دی چی یوه ورځ یو سړی د حضرت رسول مقبول(ص) په حضور مشرف شو او عرض یې وکړ: ما هیڅکله ماشوم نه دی مچ کړی. پیغمبر(ص) وفرمایل: داشخص داسې یو څوک دی چی زمونږ له نظره داوره د جهنم او عذاب اهل دی.(۳۱)

ط – د ښوونې او روزنی حق:

له کومه ځایه چی تر ټولو د مخه د ماشوم برخلیک د موراوپلار په لاس کی دی.د اسلام ستر پیغمبر حضرت نبی کریم(ص) په لومړی پراوکی د ماشوم لیک لوستی کول د پلار بنسټیزه دنده ګڼي. ځنګه چی اولاد باید پر ژوندانه برلاسی شی او د ژوند په ډګر کې د ژوند لپاره چمتو وی نو د پوهی له وسلی نه هیڅ وسله ځواکمنه نه ده، نو ځکه لومړنی زده کړې اولاربنوونی چی د اسلام پیغمبر حضرت محمد(ص) هغه د لیک لوست په نامه یاده کړې ده او اوس داکار د نړۍ په زیاترو هیوادونو کی اجباری دی، د ماشوم حق شمیرل

کیږی په دې اړه د اسلام ګران پیغمبر حضرت رسول کریم(ص) فرمائی: «په پلار باندې د اولادنو حق دادی چی خپل بچیان ښه او مؤدب وروزي» (۳۲)

لکه څنګه چی ښوونه او روزنه داسی بنسټ دی چی د ټولنیز نظام ټینګښت او پیاوړتیا پر هغه ولاړه ده، داسلام له نظره نوروته ښوونه او زده کړه ورکول مهمترین عبادت او کلک کفائی واجب یا فرض دی. (۳۳)

بیشکه چی په مسلمانانو کی د پوهې او علم موضوع او اهمیت داسلام د مبین دین له ظهور سره ملګری ؤ، ځکه رسول اکرم(ص) له هر چانه زیات په دې کار کې کوښښ کاوه او په هر ډول شرایطو کی که د جګړې په مهال به ؤ او یا د سولې په مهال له هغه نه غفلت نه کاوه. روایت شوی چی د بدر د غزا هر مریئ به چی دمسلمانانو په لاس کیووت، په هغه صورت کی به ازادیده چی د مدینې منورې لس تنه ماشومان به یې لیک لوستې کړل. په واقعیت کی هیڅ دین د ماشومانو لیک لوست ته دومره ارزښت نه دی ورکړی څومره چی اسلام مبین دین هغې ته اهمیت ورکړی ده.

نو له دې امله اسلام مسلمانانو ته بلنه ورکوی چی د پوهې په لټه او زده کړه کې وی. دغه دین د علم زده کړه په هر نارینه او ښځینه مسلمان باندی فرض کړی دی او دغه فریضه په یو ځانګړی جنس او ډلې پورې مربوط نه ګڼی. همدارنګه د اسلام پیغمبر(ص) فرمائی: «پوهه حاصله کړئ که څه هم په چین کې وی.»

باید په پام کی ولرو چی د قرآن مجید لومړنی آیت له تعلیم او زده کړې څخه پیل شویدی چی دا کار د ښوونې او روزنې څخه د اسلام پلوی او ملاتړ ښئی. لوی خدای(ج) د خلق د سورې په ۱-۲-۳-۴ او ۵ ایتونو کی فرمائی: ترجمه: «ولوله ای محمده! په برکت د نامه د رب خپل هغه رب پالونکی چی پیداکړی یې دي ټول مخلوقات، پیداکړی یې دی انسان دوینوټل شویوټوټو څخه، ولوله ای محمده! قران حال دا چی رب ستا لوی کریم دی، هغه رب چی ښوولی یې دی لیك انسان ته په قلم سره، ښوونه یې کړیده انسان ته د هغو شیانو چی دی پرې نه پوهیده.»

ک- د روغتیا ساتنی حق

د اسلامی شریعیت له مخی پاکی او صفایې د خلوص او پاکلمنی په مانا ده. په قران مجید کی له دیرش ځلونه زیات دروغتیا ساتنی او پاکی په اړه یادونه شویده، رب العالمین د بقرې د سورت په ۲۲۲ مبارک آیت کی فرمائی: ترجمه: خدای پاک توبه کوونکی او پاکان دوست کښی. همدارنگه د قران شریف د المایدې د سورة په ۷ مبارک آیت کی راغلی دی : اراده نلری الله د تطهیر په دې تکلیف کی پرتاسی داچی مقررکړی ولیکن اراده لری الله ددې چی پاک کړی تاسې له باطنی او معنوی نا پاکی نه ،
همدارنگه په زیاتو مبارکو حدیثونو کی د پاکی او نظافت په باب اشارې شویدی لکه چی حضرت پیغمبر(ص) فرمائی: پاکی د لمانځه کونجی ده او هم په یو بل حدیث کی راغلی دی: (النظافت شطرالایمان) یعنی نظافت او پاکی د ایمان نیمایې ده.
لنډه دا چی په قرانکریم او نبوی احادیثو کې د نظافت او د بدن د پاکی په هکله زیاتې اشارې شته دی. د اسلام دین نظافت او پاکی د ښکلا او ښه وایي جوهر ګڼلی ، روغتیا ، پاکوالی او ظاهری ښکلایې د انسان لوړ صفات او عادتونه شمیرلی او هغه یې د لوی خدای په پیغامونو پوری مربوط او منسوب ګڼلی دی.
له کومه ځایه چی نظافت او جسمی روغتیا د ماشوم له اساسی اړتیاوو څخه ده د روغتیا له مهمو عواملو څخه هم شمیرل کیږی. د کوچنیوالی په دوره کی درروغتیا ساتنی رعایت د بلې هری دورې په پرتله مهم او ضروری ده ځکه د طب زیاتره ډاکتران له یونه تر شپږکلنی پوری عمر آسیب پذیره ګڼی. له همدې سببه ده چی په دغه دوره کی له راز راز ناروغیو څخه د مخنیوې لپاره دروغتیا ساتنی درعیات سپارښتنه کوی

ل – د څارنې او ساتنې حق

د اسلام مبین دین د ماشومانو ساتنه او څارنه لازم ګڼی او په شرعی علومو کې ورته((حضانت)) ویل شویدی. که چیری د ماشوم څخه څارنه ونشی او هغه په دې وقت کې له څارنې پرته پریښودل شې، په ربښتیا سره به له منځه لاړشی او یا د ټولنې په ضرر به

تمامیږی، لدی کبله داسلام له نظره له تبا هیونه د ماشوم ژغورنه او د هغه ښوونې او روزنی ته پاملرنه تر هغه مهاله چی ورته اړتیا لری واجب او لازم ګڼل شویده.

«حضانت» په شرعی اصطلاح د ماشوم له ښوونی، روزنی او ساتنی څخه عبارت دی. د هغه چا په واسطه چی په دې دنده باندی مکلف شوی وې یا په بل عبارت: حضانت د هغه چا ساتنی ته وائی چې په مستقل ډول نشی کولای خپل د ژوند کارونه سرته ورسوې او ددې ویره موجوده وی چی د ښه او بد تر منځ دنه تمیز په سبب ځانته زیان ورسوي. په ږښتیا چی د اسلام مقدس دین د ماشومانو د ساتنې او ځارنې په باب زیاتې لازښوونې کړیدی چی وروسته به دوالدینو، ښوونکو او روغتیایې کار کوونکو د ونډې په برخه کی به په مفصله توګه وڅیړل شی.

م ـ د امنیت حق:

دویرې او ډار، غم او نهلی په مقابل کې امنیت د لوی خدای له سترو نعمتونو څخه دی. د قریش د سورې په ۴ مبارک آیت کی امنیت ته اړتیا خورا مهمه بشری اړتیا و له ډلی ګڼل شوی او هغه یې د فرد په وجود کې د سلامتیا جوهر شمیرلی دی.

له اړنګه پرته چې امنیت ته د ټولو اړتیا ده، په تیره بیا دماشومانو اړتیا ورته زیاته ده. کوچنی حق لری پرته له ستونزو او جنجالاتو ژوند وکړی. سلامتی یې په خطر کی ونه ولیږی، د مالکیت له نظره خوندی وی او هر څه چی ورسره وی له ده نه وانه خیستل شی او هیڅوک ونشی کولی له هغه څخه دغه حق او امتیاز سلب کړی.

امنیت ته اړتیا، ماشوم د پناځی لټی ته راکاږی او هغه مجبوروی چی ځان له خطرونو څخه لیرې وساتی او تل ددفاعی اړخونو دموندولو په لټه کی وي. هغه حتی د امنیت د تامین په باب هڅه کوی چی د ناارامی پر مهال خپل لاسونه پر سترګو کیږدی څو ناارامه او ناراحته صحنی ونه ګوري، دویرې اوډار له عواملو څخه لرې او داخوډب له خطره ګوښه پاتی شی.

هر څوک خپل امنیت له بیلابیلو لارو څخه تامینوی، ځینی دتیښتې له لارې، ځینې د پټیدو او ځینی نور بیا په نورو پوری د تړاو له لارې خپل امنیت خوندی ساتی. داچی ماشومان په دې موضوغ ټیګارکوی چی د خپلو والدینو محبت او مینه له لاسه ورنه کړي د اپخپله د دوی د طبیعی امنیت غوښتنې یو څرک دی. امنیت له بیلوبیلو اړخونو څخه د

ماشوم د ژوندد دوام لپاره او د هغه په روغتیا ساتنی کې مهم عامل شمیرل کیږی. په حقیقت کی امنیت د ماشوم د طبیعی ودې او رتیا تامینوی او دویږې ناارامی، تشویش، غوسې، اندیښنی، خپگان عوامل او د هغه د دایمی ودې د بهیر نور حالتونه په ټپه دروی او له منځه یې وړی.

ن ـ د عدالت حق:

لکه چی مخکی هم ورته اشاره وشوه د اسلام له نظره ماشومان له یو لړ حقوقو سره دنیا ته راځی، مور او پلار او دولتی مسؤولین مجبورږي چی دغه حقوق تاءمین کړی. له دغو حقوقو څخه یو دادی چی د ماشوم او دده د ژوند په باب له عدالت نه کار واخستل شی. دایو واقعیت دی چی ماشوم په هغه محیط او چاپیریال کی چی عدالت موجودوې زیاته هڅه او هاند کوی او هیله لری چی والدین او لویان ددوی په وړاندې دمساوات او عدالت له اصولو او موازینو څخه کاو واخلی او د هغوی د ژوندانه په بهیر کی عادلانه چال چلندوشي د والدینو تبعیض اوتوپیر له دندی څخه یو ډول تیښته او د کوچنیانو په حق کی ظلم دی چی په هیڅ ډول دوی نښی کولای د ماشوم په وړاندی هغه ته ځواب ووایې. ماشوم د عدالت غوښتونکی دی او دا کار د هغه په روحی ارامتیا باندی ستره اغیزه لری. کوچنی غواړی د هغه په باره کی عادلانه قضاوت او سالم تصمیم ونیول شی او هیڅکله د تر سره شوی کار په وړاندی ونه رټل شی اوسزا ونه وینی. هغه هیله نلری چی د هغه کار په وړاندی چی پکی دده گناه نه وی تنبیه شی او یا کله کله که چیری دده دورونو او خویندو ترمنیح شخړه یا دعوا پیښیږی یواځی دې مجازات شی او مور او پلار له نورو اولادونو څخه چی له ده نه مشران دی پلوی او ملاتړ وکړي.

په پای کی ویلای شو چی اسلامی لارښوونی د ماشوم دودې ټول ارخونه څیړلی او د هغوی د ژوند د هر پړاو په باره کی یې د هغوی د سمې روزنی لپاره زیاتی لارښودنې کړی او د هغو د تطبیق په لاره کی یې چارواکو ته امر کړیدی جی دلته موږ د هغو ډیره کمه برخه بیان کړه البته د کتاب د فصلونو په اړه به په هره برخه کی د اسلام له نظره د ماشوم حقونه وڅیړل شی او معلومات به وړاندې شی.

۴ – د ماشومانو د حقوقو نړیواله اعلامیه (۱۹۵۹ کال د نوامبر ۲۰مه):

د ۱۹۵۹ م کال د نوامبر په ۲۰مه د ملګروملتونو عمومی اسامبلۍ دماشوم د حقوقو اعلامیه تصویب کړه. ددې اعلامیې په اساس د ماشوم مقام او شخصیت د ماشومانو د فکری او جسمی ودې په خاطر د لازمو اقداماتو د سرته رسومو او د هغوی ترمنځ د اخلاقی او ټولنیز مسوولیت د حس د لوړولو په برخه کی زیاته پاملرنه وشوه.

اعلامیې ټول پلرونه او میندې، داوطلب افراد، ملی او محلی مقامات او دولتونه دې ته راوبلل چی په دغه اعلامیه کی درج شوی حقوق په رسمیت وپیژنی او د هغه د ښه رعایت لپاره د قوانینو او نورو اقداماتو له لارې کوښښ وکړی.

دغه اعلامیه په لسو اصلونو کې په دې مؤخه چی د ماشومتوب دوره له نیکمرغۍ سره جوخت تیر شی او ماشومان له خپلو حقوقو او ازادیو څخه برخمن شی تر څو په راتلونکی کې خپل ځان او ټولنی ته ګټور ثابت شی، رسماً عامو خلکو ته ورسول شی. دغه اصول دادی:

لومړی اصل: د توپیر په باب:

ماشوم باید په دغه اعلامیه کی له ټولو درج شویو حقوقو څخه برخمن شی. ټول ماشومان پرته له نژادی، قومی، ژبنی، عقیدوی، ټولنیز یا ملی اصلیتونو، شتمنۍ، فردی او کورنۍ او نورو توپیرونو او ځانګړتیاو په پام کی نیولو سره د ژوندانه د مساوی حقوقو خاوندان دی.

دوهم اصل دماشوم د ځانګړی ملاتړ په باب:

کوچنی باید له ځانګړی ملاتړ څخه برخمن شي او د هغه د بدنی، فکری، اخلاقي او اجتماعی ودې لپاره ضروری شرایط او وسایل په آزاد چاپیریال، په سالمه او طبیعی توګه د قانون او یا اړونده مراجعو په واسطه د هغه په واک کې کیښودل شی. په قوانینوکی باید د همدې منظور لپاره د ماشومانو ګټو ته د لومړیتوب حق ورکړشی. ماشوم باید (دلویانو په پرتله) له ځانګړی ملاتړ څخه برخمن وي.

دریم اصل: دنوم او ملیت د حق درلودلو په باب:

ماشوم باید د زیږیدو له لومړیو شیبو څخه د نوم او ملیت څښتن وګرځی.

څلورم اصل: دماشوم د امنیت اوسمې روزنې په باب:

ماشوم باید له ټولنیزامنیت څخه برخمن او په سم چاپیریال کی وروزل شی. نو ددې لپاره ماشومان او میندې باید له هغه ځانګړی ملاتړ او څارنې څخه برخمن شی کوم چی له زیږیدنې د مخه دوی ته لازمه دی. ماشوم بایدله خوړو، استوګنځی، تفریح او مناسبو روغتیائی خدمتونو څخه د ګټې اخیستنی پوره امکانات ولری.

پنځم اصل: د معیوبو ماشومانو په باب:

جسمی اوذهنی معیوب ماشومان باید ددوی له وضعی سره سم تر خاصې پاملرنې، ځانګړی زده کړې او څارنې لاندی وي.

شپږم اصل: د مینې او تفاهم په باب:

ماشوم دخپل شخصیت د بشپړې او اړخولزې روزنې لپاره مینې او تفاهم ته اړتیا لری او بایدتروسې وسې د خپلو والدینوتر پاملرنې لاندی دمحبت په فضا کې وروزل شی، کوچنی ماشوم پرته له استثائی حالاتو څخه باید له موره بیل او جلانشی، ټولنه او ټولنیز مقامات مؤظف دی چی بی کوره او بیچاره ماشومانوته خاصه پاملرنه وکړی. دولت ته سپارښتنه کیږی چی د بیوزلو کورنیو له اولادونو سره ددوی د سالمی ساتنی او روزنی په مقصد د نقدی شیانو او نورو اسانتیاوو د برابرولو مرسته وکړی.

(ماشوم د خپل شخصیت د بشپړې او اړخولیزې ودې لپاره مینې او تفاهم ته اړتیا لری)

اووم اصل: دزده کړې او تفریح په باب:

کوچنی باید له وړیا او اجباری زده کړې څخه لږ تر لږه دزده کړې په لومړیو پړاؤنو کې برخمن شی. کوچنی باید له داسې زده کړی برخمن وي چې د هغه د عمومی فرهنګ له پرمختګ او ترقی له پاره اغیزمن وی تر څو وکولای شی په مناسبو شرایطو کې خپل استعداد، فردی قضاوت، اخلاقی او اجتماعی مسؤولیت ته وده ورکړی او ټولنې ته یو ګټور غړی ثابت شی.

دماشوم د زده کړې او لارښودنې په کار کې باید د هغه ښیګڼی او مصلحتونه د چارواکو لارښود وي. دغه راز مسؤولیت په لومړی سر کې د والدینو په غاړه دي. ماشوم ته باید د

لوبو هغه شرایط چې د زده کړې د هدفونو له لارې تر لاسه شوې وي برابر شي. ټولنه او ټولنیز چارواکی باید هڅه وکړی چې ددغو حقوقو څخه د ګټې اخیستنې پوره شرایط برابر او رواج کړی.

(ماشوم باید له ورېا، اجباری او لومړنی زده کړی څخه برخمن وي او د زده کړې مؤخه داوي چې کوچنی په راتلونکی کې د خپلې ټولنی ګټور غړی شی. ماشوم د جسمی او فکری مناسبی ودې لپاره، د لوبو او ساعت تیری حق لري).

اتم اصل: د لومړیتوب د حق په باب:

ماشوم باید په هر ډول شرایطو کی تر ټولو لومړی په هغو کسانو کی شامل وې چې ه اسانتیاوو او حمایت نه برخمن وي.

نهم اصل: له زیبنباک، ظلم او دروند کار څخه د حمایت په باب:

کوچنیان باید د هر ډول زیبنباک، بی پروائی، ظلم او بدمرغی په وړاندې حمایت شی، باید د مبادلې وسیله ونه ګرځی همدارنګه ماشوم باید مناسب عمر ته له رسیدو دمخه په کارونوکې استخدام نشی، همداشان په هیڅ ډول باید ماشومان داسې کارته ونه ګمارل شی چې ددوی جسمی سلامت او زده کړې ته زیان ورسیږی او یائی د بدنی، فکری او یا اخلاقی ودې له پاره خنډ وګرځی. ماشوم باید د هر ډول بی پروائی، ظلم، شقاوت او زیبنباک په وړاندی حمایت شی، باید د تبادلې یعنی راکړی ورکړی وسیله ونه ګرځی او هم باید داسی کارونوته استخدام نشی چې د هغو د فکری، جسمی ودی او زده کړی مانع وګرځی.

لسم اصل: له تبعیضاتو څخه د مخنیوی په باب:

ماشوم باید د هر ډول عمل او کړنې په وړاندې چې نژادی، مذهبی او نورو توپیرونو دودول، شونی کوی وساتلی شی. ماشوم باید د تفاهم، زغم په روحیه، د خلکو تر منځ ددوستی، سولې او نړیوالې وروری ته معتقد او په دې پوهه چې دده استعداد او ځواک باید د همنوعانو د خدمت لپاره وقف شی، وروزل شې. ماشوم باید له هر ډول عمل او کړنې چې نژادی، مذهبی توپیرونه شونی کوی وساتل شی. ماشوم باید د تفاهم، زغم، صداقت، وروری، سولې او همنوع ته د خدمت په روحیه وروزل شی.

۵- ماشوم د حقوقو کنوانسیون (۱۹۸۹ کال د نومبر ۲۰ مه)

جوته ده چې ماشومان د نړۍ د نفوسو ستره شمیره جوړوی، نو ځکه د هغوی راتلونکی ژوند او سالمی ښوونې او روزنې ته پاملرنه د بشری ټولنې په راتلونکی او په ځانګړی توګه د نړۍ سولی او آرامی په پراختیا باندې مهمه اغیزه اچولای شی.

د هغو شواهدو او معلوماتو له مخې چې پدې وروستیو کلنو کې د ملګرو ملتونو د بشری حقونو د مرکز له خو خپاره شوی تقریباً د (۱۰۰) میلونو په خواشاکی ماشومان د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ شوی او په دې ډول دسختواو ستونزمنو شاقه کارونو سرته رسولو او یا هم د اخلاقی جرمونو د مرتکب کیدو، فحاشی او ګدایې له لارې دژوند اړتیا بسیاکوی. برسیره پردې په میلونونو نورماشومان د ناوړه روغتیایې شرایطو، بی سوادی، د علاج وړ ناروغی، فقر او بدبختی سره ژوند تیروی. هغه رپوټ چې د بشر د حقوقو نړیوال کمیسیون له خوا د فبروری د میاشتی په ۱۹۹۷ م کال دملګروملتونودسازمان دری پنځوسمی غونډی ته وړاندې شو، په حقیقت کې د نړۍ ټولو هیوادونو ته یو ویښوونکی او ټکان ورکونکی خبرداری ؤ، ځکه چې ځینو ځانګړو شرکتونواوسازمان د ماشومانو د پلورلو، فحاشی او د ماشومانو د بربنډو عکسونو له لارې ګټې تر لاسه کوی(۳۵).

دیادونې وړ ده چی د ملګرو ملتونو سازمان له ډیرو کلونو راهیسی د ماشومانو حقوقوته زیات پام راګرځولی ده او وخت په وخت یې دغه موضوع پخپلو اعلامیو او کنوانسیونونو کې څېړلی او تصویب کړیده. لکه چی په ۱۹۴۵ کال کې د ملګروملتونو د صندوق په تاسیسیدوسره د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیی د بشر د حقوقو د نړیوالو میثاقونو په تصویب سره د ماشومانو وضعی او حقوقو ته زیاته پاملرنه او توجه کړیده. د همدی مقصد لپاره یې په ۱۹۵۹ کال کې د ماشوم د حقوقو اعلامیه تصویب کړه خو ورپسی یې د یو کنوانسیون تصویب ته چی د ماشوم حقوقو ته اجرایې ځواک ورکړی ډیره اړتیا ولیدل شوه. تردې چی په ۱۹۸۹ کال کی یو اوږد او مفصل کنوانسیون د ملګروملتونو د عمومی غونډی له تصویب نه تیر شو او ددولتونو لاسلیک ته ورسید.

په هر حال د ۱۹۹۰ کال د سپتمبر په دوهمه نیټه د تصویب شوی شلم سند له ویش وروسته یا عمومی منشی ته له الحاق نه پس دغه کنوانسیون اجرائی ځواک وموند او تر ۱۹۹۷ کال پورې د نړۍ نږدې ۱۹ هیوادونو پکی غړیتوب حاصل کړ. (۳۲)

د ماشوم د حقوقو کنوانسیون یوه سریزه او ۵۴ مادې لری او په دریو برخوکی بیان شوی ده. لومړی برخه یې چی د کنوانسیون زیاتره مواد (له لومړی مادې نه تر ۴۵ مادې پورې) د ماشوم او دهغه ذاتی او مدنی حقوقو څرنگوالی او ددغه حقوقو د رعایت لپاره د غړیو هیوادونو ژمنې ته ځانگړی شویدی.

دوهمه برخه (له ۴۲ مادې نه تر ۴۵ مادی پوری) د کنوانسیون اجرائی او نظارتی میکانیزم او د ماشوم د حقوقو د تشکیل، ترکیب او د کمیتی د عمل څرنگوالی بیانوی.

دریمه برخه (له ۴۶ مادې نه تر ۵۴) مادې پوری د اعلامیې د تصویب څرنگوالی، له کنوانسیون سره د الحاق او له کنوانسیون نه د خارجیدو او دې اعلامیی ته د شاملبدو حق بیانوی.

په دې لیکنه کی د موضوع داهمیت له مخی ددغه کنوانسیون لومړی برخه تر څیړنی لاندی نیسو او ددویمی او دریمی برخی له څیړلو څخه چی زیاتره د کمیسون له اجرائی او نظارتی میکانیزم او له کنوانسیون څخه دوتلو او د شاملیدو حق بیانوی، صرف نظر کوو.

ددغه کنوانسیون په لومړی ماده کی ویل شویدی: ددغه کنوانسیون له نظره ماشوم هغه انسان ته وایه شی چې د ۱۸ کلو څخه لږ عمر ولری، خو داچی دماشوم په باب د لاړم الاجراء قانون له مخې، دبلوغ سن له ۱۸ کلو څخه لږ تاکل وی.

ددوهمی مادې له مخی، دکنوانسیون غړی هیوادونه ماشومانوته دغه حق له هر ډول توپیر پرته لکه: نژاد، جنس، مذهب، سیاسی عقیدې، ملی ریښی، زیږیدنی او نورو حالاتو څخه په خپله ماشوم یا والدین یا دهغه قانونی سرپرستان محترم ګڼل شوی او تضمینوی چی د توپیری عملونو یا د موقعیت پر بنسټ د توپیر په وړاندی د کوچنیانو د حمایت د تامین په خاطر لاړم عملی ګامونه پورته کړی.

۳-۴ او ۵ مادوهم له بیلا بیلو لاړو څخه د دولتونو ژمنی او لاړم اقدامات چی باید د ماشومانو ګټو او په دغه کنوانسیون کی د مندرجو حقوقو د پلی کولو له پاره ده د لومړیتوب حق ورکړی.

۲ او ۷ ماده د ماشومانو د ژوند، نوم لرلو، تابعیت، امنیت او هوساینی حق ته اشاره کوی او په ۱۸-۱۹-، ۲۰-۲۸، ۲۱ او ۲۹ مادو کی د دولت ژمنې، د ماشومانو څخه د ناوړه جنسی استفادی، دماشوم د استثمار څخه د مخنیوی . هغوی ته د سرپرست د تاکلو، دروغتیاساتنی د څارنو، غذائی مواد، دوړیا او اجباری لومړنیو زده کړو په باره کی مطلبونه بیانوی.

له ۳۱ مادی څخه تره ۴۱ مادی پورې ددغه کنوانسیون موضوعگانی د ماشومانو د حقوقو او ددولتونودژمنو د اعلام په ترڅ کی د هغوی له اجباری کار څخه د مخنیوی په اړه د کار د ساعتونو تاکل ، په وسله والو دښمنیو کی د هغوی نه گډون ، په وسله والو ځواکونوکې دماشومانو داستخدام. اعادلانه محاکمو، د برآت اخستو اصل او د پټې محاکمی په باب یې اعلام کړی وایې: د ماشومانو مجازات، اعدام او عمری بند منع دی او هغوی د ازادی، د عقیدی د څرگندولو، په سوله یزو ټولنو کی د گډون کولو حق لري او دغه حقوق یواځی له قانون سره سم په ځینو مواردو کی لکه د نورو د عزت او ابروساتنه یا د امنیت او عمومی نظم ساتنه او اخلاقی مسئلو پوری محدودیږی. دولتونه باید دغه حقوق د ماشومانو او لویانو ته واوروې او دوی په دې حقونو پوه کړی.

د پورته مطلبونو په پام کی نیولو سره د قانون د ساتنی، امنیتی او روغتیایې ارگانونو او ښوونکو او والدینو د لازیاتو معلوماتو په مقصد ددی کتاب په پایله کې د ماشومانو د کنوانسیون مواد او نور اړونده ضمیمی راغلی چی د مطالعی سپارښتنه یې کیږی.

دوهم فصل

د ماشوم د حقوقو په ساتنه کې د قضايي ارګانونو وندې

هرڅوک چې په يوه ټولنه کې ژوند کوي، په حقيقتکې په ټولنه کې يو لړ حقونه لري چې د نړۍ په ټولو هيوادونو کې دغه حقونه د قوانينو له لارې په رسميت پيژندل کيږي. او بايد چې له تيري او تجاوز څخه خوندي پاتې شي، دغه مصؤنيت دا خبره ايجابوي چې د فرد د ځان او مال، ناموس، پت او حيثيت آزادي د تهديد او تيري له خطرڅخه خوندي وي او که کله کله پر دغو حقوقو تعرض او تيري کيږي، دولت د افرادو د حقوقو د ساتونکي په توګه په مقابله لاس پورې کړي اوتيري کوونکي د خپلو عملونو په سزا ورسوي.

هغه مهم بنيادي ارګان چې د ټولنې د افرادو حقوق او آزادۍ ټاکي او تيري کوونکي محاکمه کوي او دسزا ورکولو صلاحيت لري، قضايي ه قوه او د هغې اړوند ارګانونه دي. قضايه قوه هغه خپلواکه قوه ده چې د فردي او ټولنيزو حقوقو ملاتړ کوونکي اود عدالت مسئول او تحقق ببنونکي دی. دغه قوه دا لاندې دندې په غاړه لري:

الف: د ظلم، زیاتی او شکایتونو په باره کی رسیده گی او د حکم صادرول، د لانجو او شخړو حلول او اوارول او په هغه چارو کی چی قانون یې تاکی لازمی پریکړی اوعملی گامونه پورته کول.

ب: د عامه حقوقو ژوندی کول او د عدل او روا آزادیو پراختیا.

ج: د قوانینو سمه څارنه او د هغې د پلی کولو له پاره عملی گامونه پورته کول.

د: د جرم کشف او تعقیب، د مجرمینو مجازات او تعزیر، د حدودو او دتدوین شویو جزائی مقرراتو اجراء.

هـ: له جرم او پیښو څخه د مخنیوی لپاره لازم عملی گامونه اخیستل او د مجرمینو اصلاح،

لنډه دا چی د یوې ټولنی د غړو ټول اساسی حقوق کې مدنی وی او که سیاسی آزادی لکه د برابری حق، د بیان او عقیدی، د ټولنی او مطبوعاتو، د انسان دپت، مال، شغل ساتنه دنظریو نه پلټنه، د ځوروني منع، برائت اصل دعادلانه او علنی محاکمی حق، د هیواد په عمومی ادارو کی د گډون حق، اقتصادی، ټولنیز او فرهنگی حقونه لکه د ښوونی او روزنی حق، دکار او مناسب شغل د لرلوحق، دټولنیزې هوساینی څخه د برخمن کیدو حق په اساسی او عادی قوانینو کی د همدی قضایې ه قوې له لارې د اجراء، څارنې او تعقیب وړدي.

له کومه ځایه چی قضایې ه قوه او څارنوالی د حقوقو او قانون څخه د ساتنی د ارگانو په نامه یادیږی او زمونږ د بحث وړ موضوع د ماشوم د حقوقو په تامین او ساتنه کی له قانون څخه د ساتنې د ارگانونو ونډه جوړوی. او له بلی خوا هم د یو هیواد په اساسی قانون او نورو قوانینو کی د افرادو ټول حقوق تسجیل کیږی نو ځکه په دغه فصل کی لومړی غواړو د قانون او حقوقو په باره کی بحث پیل او ورپسی د سرغړونکو ماشومانو په وړاندی د قاضیانو او څارنوالانو دندې او مسئولیتونه وڅیړو.

۱- قانون څه شئ دی؟

دقانون اصطلاح د لرغونی یونان د کانون (Canon) د کلمی معرب دی چی د قاعدې او دستور مانا لري. او عربانو هغه په لږ تحریف سره په قانون اړولې ده. چی په دری ژبه کی هم دغه اصطلاح د عربی ژبی په څیرد استعمال ځایونه لری او نن ورځ زمونږ د هیواد د حقوقو په فرهنگ کی هم په همدې نامه نومول شویدی.

په عربی ژبه کی قانون د شیانو د اندازی او مقیاس په مانا ده(۳۷)او همدارنگه په یو بل ځای کی قانون درسم، قاعدې، لارې او ایې ن په مانا هم کارول شویدی(۳۸)

د حقوقو د علم له نظره: قانون هغه قاعده ده چی واکمنو مقاماتو (مقننه قوې) هغه وضع کوی او ابلاغوی.داقانون د خلکو ښیګټی تضمینوی او پر ټولو د اجراء او تطبیق وړوې.(۳۹)

۲- حقوق څه شئ دی؟

حقوق دغه لاندینی مانا وې لری:

د لغت له مخې، حقوق د حق جمع او حق د باطل ضد دی. په عربی ژبه کی دغه کلمه هم په همدی مانا کارول شویده. د اسلامی روایاتو له نظره حق تل د باطل په وړاندی وي لکه څنګه چی روا د ناروا په وړاندی ده (۴۰)

حق دري اعتباری مانا وې لری:

- حق د جواز او صلاحیت په مانا: کله چی مورږ وایو، ماشوم حق لري چی ښوونځی ته لاړشی او زده کړه وکړي، ښوونځی ته تګ د هغه روا حق دی. ښوونځی ته د هغی د تګ په وړاندی هیڅ ډول مانع نشته، ماشوم ته د ښوونځی د تللو حق دا مانا لری چی حقدار ماشوم کولای شی له خپل دغه حق څخه ګټه واخلی یا یې وانه خلی.
- حق د استحقاق د غوښتنی په ماناده. د ساری په توګه وایو کوچنی پر مور او پلار حق لری او یا مور او پلار پر کوچنی حق لري، دا په دې معنی ده چی ماشوم له والدینو څخه د حق غوښتونکی دی او یا مور او پلار له ماشوم څخه. په دی حق کی تل د بل چا لاس شامله ده. اودی حق ته متعدی حق وایې. مثلاً کله چی وایو: خلک پر دولت او دولت پر

خلکو حق لري. دغه حق تر څو پورې چې سرته ونه رسيږي له مينځه نه ځي تر هغه وخته پورې چې دغه غوښتنه د پورورلی له خوا ادا نشي هغه نه بری الذمه کيږي.

- حق د استحقاق په مانا ده: په دې مانا چې‌کله چې يو مجرم د بشر له حقوقو څخه د سرغړونې له مخې مجازات کيږي، وايې چې دغه حق يعنې سرغړونکی ددغه شان مجازاتو مستحق دی او يا يو څوک يو ماشوم ته ددې د ښو کارونو په وړاندی مکافات ورکوی، دغه ستايل يا مکافات دده حق دي يعنې هغه ددې پاداش مستحق دی چې دغه مفهوم د استحقاق په مانا کارول کيږي.

۳- په محکمو کې له سرغړوونکو ماشومانو سره چلند:

مخکې له دې چې په اختصاصي محکمو کې له سرغړوونکو ماشومانو سره د چلند ډول وڅيړو لازم دی چې پدی خبره پوه شو چې سرغړونکی يا متخلف ماشومان څوک دی اوسرغړونه يا تخلف څه ته وائی؟

سرغړوونکی ماشوم هغه چاته ويل کيږي چې په يو داسې عمل لاس پورې کړی چې قانون يا شريعت د هغه ارتکاب منع کړی وی او يا په بله ژبه: سرغړوونکی ماشوم هغه ماشوم دی چې د سر غړونې په گناه متهم يا تورن وي او دا عمل د قانون او شرعی له اوامرو څخه د سر غړونې يا تخلف په توگه پيژندل شوی وی هر د جزاوړ سلوک جی د دولت اړونده قانون يې تايې د کړي او فرد يې په ارتکاب لاس پورې کړی وی، تخلف يا سرغړونه بلل کيږي. دی مطلب ته په پاملرې سره يوه پيچلی او مهمه موضوع چې نن د زياتو څيړونکو، تولنپوهانو، جرم پوهانو، اروپوهانو او نورو پاملرنه يې ځانته رااړولی ده، د لږ عمر مجرمينو يا سرغړونکو يا متخلفو ماشومانو موضوع ده چې ورځ په ورځ زياتيږی. خپاره شوی ارقام ښئی چې د ژوندانه د حالت د ښه کيدو او مؤسسو او تولنيزو خدماتو د چټک زياتوالی سره سره د نړی په ډيرو هيوادونو کی د ماشومانو جرمونه په خورا چټکی سره زياتيږی.

په دی اړه چې ولی د لږ سنو افرادو جرايم د زياتيدو په حال دی؛ بيلا بيلی فرضيی وړاندې شويدی. يو شمير خلک د ماشومانو د جرايمو بنيادی علت د جگړو په دوام او د ژوندانه په غير عادی او نا منظمو شرايطو کی وينی او په دی عقيده دی چې بی امنی، اسارت،

مهاجرتونه د دښمن په اړوکی اجباری کار، په تیره بیا د مادې ودی او معنوی پرمختګ تر منځ واټن د ماشومانو او ددوی د کورنۍ تر منځ د فکری تضاد باعث ګرځی او له د غو تضادونو څخه د ماشومانو پیداشوی اعتراضونه په بیلو بیلو عنوانونو په اجتماعی ضد رفتار سره لکه ډول ډول جرایم په ټولنیز نظم او ارامی کی د اختلال، بی قیدی حالت، سرکشی، د کورنۍ پریښودل او اعتیاد سره څرګندوی.

په اوسنۍ پیړی کې د ماشومانو د سرغړونې زیاتوالی په تیره بیاله تاو تریخوالی سره جوخت د جرایمو ارتکاب د ټولنیزو ستونزو څخه شمیرل کیږی او عمومی افکار یې اندیښمن کړیدی.

اوسنی حالت ته په پاملرنې سره لومړنۍ پوښتنه چی مطرح کیږی، داده چی د نړۍ زیاتره هیوادونه هڅه کوی او چاره لټوی چی د سرغړونکو ماشومانو د جرم د ارتکاب علت او لا مل پیدا کړی او له هغه سره سم پخپلو قوانینو کې بنیادی بدلونونه راولي. نن ورځ د نړۍ په زیاترو ملکونو کی د کوچنیانو لپاره یو لړ قوانین شته چې په هغو کی د ښو او بدو تمیز، د خیر او شر توپیر اود سختو مجازاتو د نه پلی کولو ته پکې پاملرنه شوې اوپوهان په دې فکر کی دی چې د مجازاتو او تنبیه له لارې نشو کولای دکوچنیانو د سرغړولې اود جرم د تکرار مخه ونیسو. څرنګه چی په دې باره کی معقوله او منطقی لاره د درندو مجازاتو له ټاکلو پر ځای د سرغړونکو ماشومانو د اصلاح له پاره لازم تدبیرونه نیول شوی دی. نو ځکه لومړۍ د ډیرو هیوادو قضائی ارګانونه په تیره بیا ځانګړې محکمی د (سرغړونکو کوچنیانو د محکمو) په نامه اټکل کړی چی د ۱۸کلو څخه دکم عمر ماشومانو جرایمو ته د رسیدلو واک لري. زمونږ په هیواد افغانستان کې هم دغه محکمه د « ماشومانو د اختصاصی محکمی » په نوم موجوده ده.

دوهم: دکوچنیانو د محکمی د پریکړو هدف یا موخه د سرغړونکو یا متخلفو ماشومانو ښوونه او روزنه، اصلاح او بیا رغاونه ده.

دریم ـ دسرغړونکو ماشومانو د ساتنی ځای هم یو ځانګړی ځای دی چی د اصلاح او روزنی د مرکز یا داراتادیې ب په نامه یادیږی.

په دغه مرکز کی اغیزمنی لاری چاری ټول اصلاحی او روزنیز اړخ لري. ځکه چې مخکی وویل شو: په مجازاتو او تنبیه نشو کولای د ماشومانو له سرغړاوي او د جرم له تکرار څخه مخنیوی وکړو.

د تیرو څیړنو له مخې چې سرته رسیدلي دي زیاتره خطرناک، حرفوی مجرمین هغه کسان دي چې لومړنی جرم یې د کوچنیتوب په کلونو کې کړیدی(۴۱) نو له دې امله جیل او سخت مجازات د کوچنیانو د کړووړو په مثبت بدلون کې نه یواځې هیڅ ډول اغیزه نه لري، بلکې برعکس کله کله هم د هغوی د غچ اخستنې حس زیاتوی او هغوی د جرم د بیا بیا تکرارولو په لور لیږدوي. که څه هم په زیاترو هیوادونو کې د ماشومانو د محکمې په تشکیل پورې اړوند قانون یواځې د ماشومانو له جرایمو سره د مبارزې لاره ګڼي، خو دغه واقعیت باید په پام کې ولرو چې دغه قوانین کافي نه دي او نه ټول اټکل شوي هدفونه په بر کې نیسي ځکه چې که په اوسنیو شرایطو کې دماشومانو او یا لویانو حالت ته پاملرنه وکړو دې نتیجې ته رسیږو چې نن ورځ که په یوماشوم باندې ظلم او ستم کیږي هیڅ ډول ځانګړې جزائي مقررات د جزا د عمومي قانون له مقرراتو پرته زموږ په هیواد کې د ماشومانو د ساتنې او حمایت لپاره نشته. نن د نړۍ په زیاتو هیوادوکې د ماشوم ضرر او ازاراو د هغوی د حقوقو د غصب مسئلې ته ځانګړې توجه شویده. په دې توګه چې د ماشومانو د محکمو ترڅنګ هغو ماشومانو ته د مرستې او ساتنې په موخې چې دخپلو لویانو او سرپرستانو او روزونکو ترظلم او زیاتې لاندې واقع کیږي منظم سازمانونه شته، ترڅو دوی وساتي او ددوی د ژوند راتلونکې ته پاملرنه وکړي. که څه هم زموږ په هیواد کې هم د ماشوم د حقوقو د ساتنې لپاره د دارالتادیب او روزنځې په نامه یو ځانګړی ځای شته، خو له بده مرغه دغه مرکزونه نشي کولای د کوچنیانو ټولې هیلې او غوښتنې تر سره کړي او عملاً په دې برخه کې اغیزمن کاروکړي. د هغه ورځې په هیله چې ماشومان چې زموږ دژوندانه د بڼ ګلان دي، له مړاویتوب څخه وژغورل شي اومونږ په دې ستر انساني کار کې خپله ایماني او وجداني دندې ترسره کړو.

ډیر داسې ځلي لیدل شوي چې کله چې ماشوم د لویانو د غوښتنې پر خلاف په یو عمل لاس پور کوي فوراً هغه تهدیدوي او جیل ته یې استوي. هغوی نه پوهیږي چې د مجازاتو پر ځای اصلاح او روزنه د ماشوم په راتلونکې ټولنیز ژوند، نظم اود آرامې په ساتنه کې څه اغیزه لري نو قاضیان. څارنوالان، په تیره بیا د ماشومانواختصاصي محکمه د کار په بهیر کې له دې مسئلې سره په مخامخ کیدو د حکم په صادرولو اویا د نویو لارو او چارو په سرته رسولو سره حتی المقدور جیل یا دارالنادیب نه د ماشومانو له لېږلو څخه ډډه

وکړی څکه تجربی ښودلې ده چی په بندی کولو سره د ماشومانو محکومول او جیل ته د هغوې لیږل، هلته له حرفوی مجرمینو سره آشناکیږی او خطرناک جرمونه زده کوی.
لکه څنګه چی لیدل کیږی د سرغړوونکو ماشومانو د سلوک اصلاح دیره موده غواړی او ډول ډول لارو او چارو په واسطه سرته رسیږي. دماشومانو محکمې یا واکمن مقامات باید د ماشوم د شخصیت او هغه عمر په پراختیا او زیاتوالی سره، هغه لارې او چارې چی تر سره کیږی،هغې ته تغیرور کړی او دماشوم د حقوقو د تامین او ساتنې په لاره کی ټولې پریکړی او تصویبونه د ماشوم د سلوک د اصلاح او د بیا روزنې او دماشوم د راتلونکی ژوند د ښې پایلی په خاطر تر سره کړي. او باید د ماشوم قانونی سرپرست او یا اولیاؤ ته د اصلاحی چلندونو تر سره کولو لارې چارې د ډله ایزه اطلاعاتو له لارې وخت په وخت وښودل شي.
له ارنګه پرته چی کله کله په قضا کې د ماشومانو ستونزې او پیچلی مسئلی د حل او فصل وړ نه وی. په دی باب قاضی او څارنوال په تیره بیا د یوې ټولنې ټول غړی باید څان دراتلونکی نسل په وړاندی مسؤول وګڼی او د ماشومتوب له هماغه لومړی دوری څخه له دولت او د چارو له مسوولینو سره، عادی، اجتماعی ژوند ته د رسیدو په خاطر د هغوی د هدایت او لارښوونی لپاره پوره همکاری وکړی. همدارنګه د ماشوم د حقوقو ساتنه او پالنه هم باید د دولت د پروګرام په سرلیک کی ځای ولري تر دې پورې چی د ماشومانو د جرایمو له پیښیدو څخه د مخنیوی شرایط او امکانات مخکی له مخکی برابر شی. او له عادی، ټولنیز ژوند سره ددوی د تړاو او انطباق ، او له نورو سره د دوی د ښه چلند او د قوانینو د رعایت لپاره د اصلاح او بیا روزنې لار ولټول شی.
د ماشوم د جرمونو د څیړلو پر مهال د قضائی ارګانو او د کشف کارکوونکو سلوک او چال چلند له ماشوم سره ډیر مهم دی. که چیری په لومړی برخورد کی د ماشوم پر ذهن باندی د قضایې ارګانوکړه مثبت او مطلوب اغیزه ونه کړی د هغه وروستی اصلاح تقریباً ناشونی کوی. څکه چی پدې وخت کې ماشوم، ټوله د محاکمې بهیر او قضائی غړې د څان دښمن ګڼی او د محکمی په بهیر کې مثبت عکس العمل نه ښیي او له هماغه پیل نه به د محکمی په وړاندې ددښمنی نه ډک سلوک ښکاره کړی. چی په ډاګه به ددغه منفی چلند اصلاح او دهغه د بیا روزنې سلوک له ځنډ او خنډ سره مخامخ کړی.

دپورته مطلب په پام کې نیولو سره په ۱۹۲۰ م کال کې د ملګرو ملتونو د سازمان دوهمه کنګره د ماشومانو له جرایمو څخه د علاج، درمل او مخنیوی لپاره داسی لارښوونه او سپارښتنه کړیده:

الف: د ماشومانو نوم باید پرته له علته او محدودیته ونه کاروو او هر ماشوم چې قاعده او دستور ماتوی او یا کړه یې داسی وی چې د یرغل او تاوتریخوالی بڼه و لري باید هغه مجرم ونه شمیرو.

ب: په ټولو هیوادونو اوبشری ټولنو کی باید داسی قوانین د ماشومانو لپارهٔ وضع نه شی یا پراختیا پیدا نه کړی چې هر ماشوم چې د یو کوچنې خطاوکړی سمد لاسه تنبه او مجازات شی.

۴- په محاکمو کې د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون رعایت:

نن ورځ د جزاء د حقوقو او جرم پیژندنې د پرمختګ په سیوری کې دغه فکر مطرح شوی دی چې د ماشومانو محکمه باید د بشر د حقوقو د نړیوالو اعلامیو، دمدنی او سیاسی حقوقو د نړیوال میثاق، په تیره بیا د ماشوم د حقوقو د نړیوالې اعلامیې او د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون پر اساس د ماشومانو له محاکمې پېډه وشی. دادی په لاندې ډول د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون (میثاق) هره ماده چې په محکمو او څارنوالیو پوری اړوندې ځانګړی برخی لری څیړو.

د ماشوم ګټې:

د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون په ۳ ماده کی راغلی دی چې د ماشوم پورې اړوند ټول اقدامات که د عامه هوسایني د مؤسسو له خوا وی یا د خصوصی محکمو، اداری یا عدلی مقاماتو له خوا باید چې د ماشوم زیاتره ګټې پکی په نظر کی ونیسی. دولت مؤظف دی د والدینو یا نورو کسانو د غفلت په صورت کی چې د ماشوم څارنه په غاړه لری، له ماشوم څخه لازمې څارنې وکړي، سربیره پردې زمونږ دمدنی قانون په ۲۵۱ ماده

کی هم راغلی دی: « که چیرته ثابته شی چی یو شخص چی د کوچنی ساتنه په غاړه لري دښیګنې له پاره کارونکړي، محکمه کولای شی ماشوم د ساتنی او روزنی لپاره هغه چاته وسپاری چی په دوهمه درجه کی ددوی د حضانت یا ساتنی مستحق دې».
نو له دې کبله محکمه کولای شی کله چی د کوچنی مصلحت غوښتنه وکړی دماشوم د ساتنی په باره کی تصمیم ونیسی او ماشوم د کورنۍ له ککړ چاپیریال څخه وباسی. دغه پریکړه او تصمیم هغه وخت مجاز دی چی له کورنۍ څخه د ماشوم بیلول ضروری وی.

دبیان د آزادۍ حق:

دماشوم دحقوقو د کنوانسیون ۱۲ ماده حکم کوی: « دې کنوانسیون ته ژمن هیوادونه باید هغه کوچنی چی پخپلو اړوندو موضوعاتو کی د نظر خاوندوی. ډاډه کړی څو خپل نظریات په ازاد ډول بیان کړي او دماشوم سن او کال او پوخوالی ته په پاملرنې سره دماشوم نظریاتو ته ارزښت ورکړشی.»
دې هدف ته درسیدو لپاره باید کوچنی ته د نظر د څرګندولو زمینه برابره شی، په تیره بیا داداری او قضائی تصمیم نیولو په غونډو کی له ملی قانون او مقرراتو سره سم د کوچنی نظریات وآوریدل شي.

د پټی محاکمې حق:

دکوچنی ځانګړی ژوند او هویت د اسرارو او محرمیت ساتنه، د هغه څرګند حق ګڼل کیږی چی باید د محاکمې په ټولو پړاؤنو کی محترم وشمیرل شی او د ډله یزواطلاعاتو په وسایلو کې دې دکوچنی د محاکمی د بهیر له خپریدو څخه ډډه وشي. د کوچنیانو د محکمی په بهیر کی پر قاضی سربیره چی د ټولنې قانوی استازی دی، یوازې د ماشوم واکمن سرپرست، مدافع وکیل او هغه کسان چی په مقدماتی تحقیقاتو کی یې نظر اخستل شویدی. د اصلاح او روزنی د مرکز استازې، هغه هم په دی شرط چی محکمه د هغوی حضور لازم وبولی د محاکمی بهیرته بلل کیدای شی حال دا چی هیڅ نندارچی او یا نورو خلکو ته په محکمه کی د حاضریدو حق نه ورکول کیږی. برسیره په دې رادیو

تلویزیون، مطبوعات او خبریالان هم حق نلری د محکمی له جریان یا بهیر څخه فلم واخلی او یا دا چی د ماشوم هویت او ځانګړتیاوی خپاره کاندي. حتی په زیاتره هیوادونو کی قاضی او څارنوال ته له دې کارنه د سرغړوونې په صورت کی مجازات هم په نظر کی نیول شویدی.

باید وویل شی چی د انګلستان د ۱۹۳۳ کال تصویب شوی قانون له دینه هم یو ګام اوچت کړی او څرګنده کړه یې ده: د کوچنیانو محکمې باید په هغو ورځو کی چی عمومی محکمې نه جوړیږی غونډه وکړی، د محکمی لوازم او تجهیزات هم باید غیر له هغو وسایلو څخه وی چی د لویانو په محکمه کی په کاریږی په دغو هیوادونو کی د کوچنیانو نوې محکمی داسی جوړې شویدی چی د شکل او ظاهری بڼې له نظره زیاتره له یو عصری، مجهز درسی ټولګی سره ورته والی و لری. نه له یو ې جزائی محکمې سره.

د تورنو ماشومانو حقوق:

دماشوم د حقوقو د کنوانسیون ۳۷ ماده د تورنو ماشومانو یا له قانون څخه د سرغړوونکو ماشومانو د حقونو په اړه، د مرګ د مجازاتو اوابدی بند بندیز، له کورنۍ سر اړیکې، د قانونې مرستو او نورو کومکونو تر لاسه کول، دماشوم څرګند حق ګڼی.

لکه څنګه چی کوچنیان د اصلاح وړ، او انعطاف منونکی طبعیت لري، نو ځکه قاضیان او څارنوالان باید د بد لارو ماشومانو داصلاح او بیاروزنی له پاړه د هغوی په ګټه خپل قراررونه او پریکړې صادرې کړی او د سن، جنسیت، جسمی او روحی وضعی، د زده کړې د سطحی، ذوق او استعداد، دماشومانو د محکومیت د مودې له دقیق تفکیک وروسته هغوی ځانګړي مرکزونو ته واستوی تر څوله په اصلاحی روزنیزو ځایونوکې، تر څارنې لاندې ونیول شي. برسیره په دې، دملګرو ملتونو د عمومی غونډې د ۱۹۵۸ کال د نومبر د ۲۹ مې نیټې د تصویب شوي قانون د موادو سره سم په ټولنه کی د متخلفو ماشومانو د ساتنی، لارښوونې، روزنې، د حرفې زده کړې او نورو اصلاحی اړخونو له پاره، باید چی هغوی له لویانو څخه جلا او په روزنیزویا حرفوی مرکزونو کې ترځانګړي شرایطولاندې له نورو بندیانو څخه بیخی بیل، دزده کړې په مؤسسو کې د هغوی سن، جنسیت، شخصیت

او نورو خاصو مسئلو او اړتیاوو ته په پام سره، هغوی د ښوونې او روزنې، ساتنې، جسمي او روحي پالنې لاندې ونیول شي.

د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون د ۳۷ مادې د (ب) فقره حکم کوي: «د کوچنی توقیف او بندی کول باید له قانون سره سم دوروستۍ چارې په توګه د ډیرې لنډې مودې لپاره ترسره شي.»

دغه مطلب ښایي په دې دلیل د کوچنی د حقوقوپه کنوانسیون کی شامل شوی وی چی له پیړیو وروسته دتجربی په اساس ثابت شوی چی د محکومینو ساتنه په تیره بیا د جیل په چاپیریال کی د بیلاری ماشوم ساتنه د اصلاحی، روزنیزو چلندونو له اجراء پرته په هغه کی د غچ اخستنی حس پیاوړی کوی. د محکومیت او بند موده که هر څومره کمه هم وی ماشومان هغه په بی عدالتی سره انګیړي او ځان له ټولنې څخه رټلی ګڼي. که چیری د محکومیت له بشپړیدو مخکی نوموړی کوچنیان د کورنۍ د مینې ډکی غیږې او ټولنیز عادی ژوند ته د ستنیدو لپاره چمتو نشی، له ازادۍ وروسته هم که چیری د کورنۍ د غړو له بی پروائی سره مخامخ شی او د زده کړې د دوام او یا په کار کې د هغوی د مشغولتیا له پاره امکان موجود نه وی، د جرم له تکرار، د جیل او دارالتادیب یا اصلاحی او روزنیز مرکز له بیا ورتګ څخه به ډډه ونکړی او په سلوک کې به یې بدلون رانشی.

دغه شان د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون د ۳۷ مادی د (ج) په فقره کی راغلی دی: «له ازادۍ نه محروم ماشوم باید له لویانو څخه جلا کړای شی. خو دا چی په نه بیلولو کې د ماشوم ګټه وی.»

حقوقی مشورې او د اعتراض کولو حق:

د ماشوم د حقوقو دکنوانسیون د ۳۷ مادې د تبصرې پر اساس، هر ماشوم چی په محکمه کې د ازادی د سلب سره مخامخ وی، په صادر شوو احکامو باندې د اعتراض کولو حق لري. د هغوی اعتراض باید ډیر ژر په دوهمه محکمه او یا په بل واکمن مقام کې په پوره ناپیلتوت او استقلال سره وڅیړل شی.

دقانون ماقبل ته د نه رجعت کیدو حق:

د هغو اصولو له جملې څخه چې باید د قانون په وضع کولو کې مراعات شی څو د ټولنې د افرادو حقوق له مینځه لاړ نشی، هغه ماقبل ته د قانون د رجعت نه کول دی. دغه اصل یو نړیوال منل شوی اصل دی. په دې ډول چې څوک نشی کولای د یو عمل د ارتکاب په تور چې د ارتکاب پر مهال، قانون هغه عمل جرم نه وی ګڼلی او وروسته بیا هغه جرم او د مجازات وړ اعلام کړي، محکوم او مجازات کړی. دغه حق د ماشوم د حقوقو کنوانسیون د (۴) مادې د الف برخې په دوهم بند کې په دې توګه بیان شوی: «هیڅ ماشوم دیو عمل په وړاندې او یا د یو داسی کار له سرته رسولو څخه د ډډه کولو په منظور چې دارتکاب په مهال د ملي یا نړیوال قانون په واسطه منع شوی نه وی، باید تورن، محکوم او یا له قانون څخه سرغړوونکی ونه پیژندل شی.»

د برائت اخستلو او بی ګناهی حق:

د بشر د حقوقو یو مهم او منل شوی اصل، د برائت اصل دی یعنی هغه اصل چې د خلکو په بی ګناهۍ دلالت کوی تر څو پورې چې په کافی دلایلو او قراینو سره د هغوی جرم ثابت نشی.

دغه اصل له هغو اصولو څخه یو اصل دی چې په ټولو حقوقی ارګانونو کې څیړل شویدی د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې د (۱۱) مادې لومړی بند وایي: «هر څوک چې په یو جرم تورن شوی وي بیګناه شمیرل کیږی - تر څو پورې چې د یوې عمومی دعوی په بهیر کی چې په هغه کی د دفاع لپاره ټول لازم تضمینونه تامین شوی نه وی، مقصر او قانونا مجازات شی.»

ددغی اعلامیې (۲) بند وایي: «هر څوک چې د یو جرم په کولو تورن شی، حق لری بی ګناه وګڼل شی تر څو چې له قانون سره سم ګناه یې معلومه شی.» د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون د (۴) مادې سره سم د جزا قانون د حکمونو په سر غړونه هر تورن ماشوم تر څو پورې چې د هغه جرم له قانون سره سم ثابت نه شی، بیګناه ګڼل کیږی.

دلګول شوي تور څخه د خبرتیا حق:

دوارد شوی تور څخه خبرتیا د هر فرد په تیره بیا د سرغړوونکی یا تورن ماشوم څرګند حق دی. کوچنی حق لری د لګول شوی تور په برخه کی له څارنوال یا قاضی څخه هر اړخیز معلومات تر لاسه کړی. او د لګول شوی تور د دفاع لپاره ځان چمتو کړی.
دغه شان سرغړوونکی یا تورن ماشوم برسیره په دې چی له لګول شوی تور څخه ځان خبروی، مور او پلار یې هم باید سملاسی د هغه په تورن کیدو خبر شی. قاضی او څارنوال باید له ځنډه پرته د ماشوم د خلاصون امکان وڅیړی. د قانون د انفاذ اداري باید داسی عمل وکړي چی د کوچنی له قانونی دریځ او د هوساینی د حالت له ودې سره انډول یا مناسب وی. او همدارنګه د هغه له زیانمن کیدو مخه ونیسی.
دغه ټکی د کنوانسیون په (۴) ماده کې داسی بیان شویدی: «ماشوم باید په ځان باندې د لګول شوی تور څخه نیغ په نیغ ډیر ژر او که چیری مناسبه وه، دوالدینو او یا قانونی سرپرست له لارې خبر شی. او د خپلی دفاعې د برابرولو لپاره له قانونی مرستو څخه برخمن وی».

په قضا کې دمورنۍ ژبې نه د استفادې حق:

د تورن په باب جزائی اجراآت د ماشوم په مورنۍ ژبه تر سره کیږی. تورن د پیښی له موادو او اسنادو سره د بلدتیا حق د ژباړن په واسطه او په محکمه کی د خبرتیا حق په مورنۍ ژبه لری. د ژباړن لګښتونه ددولت په غاړه دي. دغه ټکی د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون په (۴۰) ماده کی داسې بیان شویدی: «کوچنی په هغه صورت کی چی د محکمی په بهیر کی د نورو په خبرو پوه نه شی او یا پخپلی مورنۍ ژبی خبرې ونه کړای شی په وړیاډول د یو ژباړن له مرستې برخمن کیږی.»

له څنډې پرته د محاکمې حق:

د نړیوالو مقرراتو او پریکړو سره سم د کوچنی د فردی او ټولنیزوګټو د ساتنی او دهغی د اصلاح، روزنې او یا درملنې په خاطر باید د محاکمی ټول پړاونه (تعقیب، مقدماتی تحقیقات، محاکمه او نور اجرات) باید دیو ماهر شخص تر نظر او پاملرنې لاندې په چټکی سره تر سره شي. ځکه ماشوم د جرم له کولو وروسته پریشانه او خپل راتلونکی برخلیک ته اندیښمند وی. خپګان او اندیښنه د هغوی په روحی حالت باندی ناوړه اغیزه کوی او د هغی اصلاحی او روزنیزی لاری چاری له ستونزو سره مخامخ کوی. نو له دې کبله د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون (۴۰) ماده حکم کوی: ((پیښه باید بیله څنډه د یوې مرجع یا واکمن، خپلواک او بې پرې قضایې پلاوی له خوا د یوې نښې او له قانون سره سمی محاکمې په بهیر کی د متهم دوکیل په وړاندې یا نورو حقوقی څارونکو، والدینو او نورو سرپرستانو په وړاندی په هغه صورت کی رسیدګی وشی چی د ماشوم له ګټو سره مغایر ونه ګڼل شی.

پخپله خوښه دګواهۍ او اقرار حق:

دغه موضوع د هیواد د تیرو کلونو په اساسی قوانینو کې په ډاګه بیان شوی او په ښکاره توګه د اقرار کولو او د حقایقو د برسیره کولو او یا د شهادت ورکولو لپاره د خلکو څورول منع شوې او سرغړوونکی یې د مجازاتو وړ بللی دی... د ۱۳۴۳ کال اساسی قانون د (خلکو اساسی حقوق او دندې) تر سرلیک لاندی داسی وایې: ((هغه څرګندونې چی له تورن یا بل چا څخه د زور او جبر له لارې تر لاسه شی، اعتبار نه لری.)) یا دا چی په یو بل ځای کی دې موضوع ته داسې اشاره شویده: ((هیڅوک نشی کولای د حقایقو د برسیره کولوپه مقصد له بل چا څخه که څه هم هغه شخص تر تعقیب ، ګرفتاری یا توقیف لاندې وی او یا په جزاء محکوم وی. په تعذیب اقدام وکړی او یا امر وکړی)). د ۱۳۲۶ کال په اساسی قانون کی لولو: ((له تورن یا بل شخص څخه د زور له لارې اقرار اخستل، شهادت یا اظهار، اعتبار نلری.))

دغه ټکی دماشوم د حقوقو د کنوانسیون په (۴۰) ماده کې داسی بیان شویده: ((کوچنی باید اړ نه کړای شی چی شهادت ورکړی اویا په خپل گناه په زوره اعتراف وکړی)). دماشوم مخالف شهودی تحقیق او هغه شاهدان چی دماشوم په گټه شهادت ورکوی باید تر برابرو شرایطو لاندی صورت ومومي او شاهدان باید د محکمی په موافقه محکمی ته راوستل شی.

د دفاع حق:

د قانون له نظره د دفاع حق د تورن د حقوقو له جملی څخه دی، تورن حق لری چی د عدلی تعقیب په هر پړاو کی پخپله، یا دمدافع وکیل په مرسته له ځانه دفاع وکړي. د څارنوالی د کشف او تحقیق ارگانونه او محاکم مکلف دي چی هغه چا ته د قانونی دفاع وسایل برابرکړی چی د هغه پرضد جزایي دعوی تر سره شوی یا اقامه شوی وی. نو ځکه تورن حق لری ځانته مدافع وکیل وټاکی او په هر پړاو کی چی لازم وگڼی، هغه له مینځه یوسی، دماشوم د حقوقو د کنوانسیون د (۴۰) مادې د تبصرې د (۲) بند د ۰۳) پراگراف او د بیجنگ مقرارتو د (۱ - ۱۰) مادو سره سم د محاکمې په ټولو پړاونو کی د مدافع وکیل ټاکل د تورن د حقوقو یوه برخه شمیرل کیږی. که چیرې کومه محکمه له تورن څخه د وکیل نیولو حق سلب کړی صادر شوی حکم، قانونی اعتبار نلری.

۵- د متخلفو ماشومانو په باره کی د افغانستان جزائی قوانین:

د ځینو هیوادو نو په جزائی قوانیو او یا تامینې او روزنیزو اقداماتو کی ماشومانوته د یو ځانگړی عمر اندازه او حدود ټاکل شوی دی. ددی قانون پر بنسټ که چیری یو ماشوم چی له دې ټاکل شوی حد نه یې عمر لږ وی او په جرم لاس پوری کړی دقانون په وړاندی غیر مسؤول شمیرل کیږی. د ساری په توگه: په امریکا، سویس،او پرتگال کی ماشومان د اووه کلنی تر دوری پورې غیر مسؤول گڼل کیږی. او د جزائی مقرراتو د تطبیق وړ نه دي. په انگلستان او هالند کی (۱۰) کاله په یونان کی (۱۲) کاله، په لهستان کی (۱۳) کاله، په اطریش، بلجیک، چکوسلواکیا، ایتالیا، آلمان او یوگوسلاویا کی جزائی سن کم تر کمه (۱۴) کاله ټاکل شویدی. فرانسوی حقوق پوهانو لومړی د ۷ کلنی عمر دداسی سن په توگه چی جزائی مسؤولیت نلری، د منلو وړ گڼلی دی. خو وروسته یې په دې نظر بیا کتنه وکړه

او (۱۳) کلن سن یې په رسمیت وپیژانده. باید وویل شی چی د یو غیر ممیز کوچنی او یو پوه او بالغ شخص تر منځ د عمر د پراوونو له مخی ځینی توپیرونه اوځانګړتیاوی موجودی دې چی د جزا په تاکلو کی هم د اتکل وړدی. جزائی قانون له نظره د بشر د هر غړی په ژوند کی کولای شو دغه دري پراونه وتاکو.

لومړی پړاو: دماشومتوب دوره او د مطلق تمیزنشتوالی

په دې پړاو کی اصولاً فرد د ښو او بدو د تشخیص شعور او ناوړو اعمالو ددرک قدرت نلری او اعمال یې که چیری مجرمانه وی هغه ته د انتساب وړ نه وی.

د پام وړ ده چی اختلالات او عکس العملونه چی د تنکیو ځوانانو په کړووړو کی د بلوغ پر مهال راپیدا کیږی، د ماشومتوب مهم او اساسی دوران ته د نه پاملرنی اغیزه او په دغه دوره کی د افرادو د فکری او عقلی ودې په لاره کی درغنده، دقیقو روزنیزنو پروګرامونو نشتوالی دیچی په نتیجه کی له چاپیریال سره د ماشوم د نا سازشی او غیر انطباق سبب ګرځی او همدارنګه د قانون او ټولنی په وړاندی دماشوم د اخلاقی او اجتماعی انحرافاتو موجب ګرځي.

دوهم پړاو: دماشومتوب او نسبی تمیز پړاو:

په دی پړاو کی ماشوم لا دودې او قانونی لویوالی مرحلې ته نه دی رسیدلی خو په نسبی توګه کولای شی ښه او بد سره بیل او تر یوې اندازې پورې د خپلو اعمالو پایله پیش بینی کړی. په دغه دوره کې د تمیز او تشخیص احساس مهم نقش لوبوی. په دغه دوره کی د کوچنیانو د تمیز او تشخیص قوه د تردید وړده چی آیا هغه جرم چی دوی یی سرته رسوی شعوری بڼه لری او که نه؟؟

دریم پړاو: د بلوغ پړاو او قانونی پوخوالی سن:

په دې پړاو کی کلی قاعده داده چی د بشر ټول افراد په ځانګړی عمر کې د پوره جسمی او عقلی ودی لرونکی وی. او د ښو او بدو د تمیز قوه په پوره توګه لرې او کله چی په جرم لاس پوری کوی، هغوی ته دانتساب وړوی. مګر داچی د ناڅاپی پیښی له امله د تمیز قدرت یې له لاسه ورکړی وی. په هر حال په ټوله نړۍ کی د کوچنیانو د کړو وړواندازه پراخه ده چی په سختی سره کولای شو د ټولو جرایمو په باب کلی حکم وکړو مګر داچی وویل شی چی

دغه اعمال معمولاً د کوچنیانو او ماشومانو په واسطه صورت مومي چی د ځانګړی عمر تاکلو حدودو کی د ۱۸ نه په کم سن کی واقع دی.
زمور په ګران هیواد افغانستان کی د ۱۳۵۵ کال د جزائی قانون د لومړی فصل په دریم باب کی چی همداارس د اجراء ور دی د جزاء او موانعو تر سرلیک لاندی په ۲۳ ماده کی (له ۷۰ مادې نه تر ۹۳ مادې پورې) دماشومانو د سرغړونو په هکله لاندې مادی د پام وړدی:

۷۰ ماده:

صغیر هغه کوچنی ته ویل کیږی چی عمریې د اوو او ۱۳ کلونو تر منځ وی.

۷۱ ماده:

مراهق هغه شخص ته ویل کیږی چی ۱۳ کاله یې بشپړ کړی او ۱۸ کاله یې نه وی پوره کړی.

۷۲ ماده:

هغه ماشوم چې د ۷ کلونو یې عمر کم وی، پر هغه باندی دِدعوی اقامه نشی کیدای.

۷۳ ماده:

سن د تابعیت د تذکرې له مخی تثبیت کیږی، محکمه کولای شی د صغیر د ظاهری حالت په لیدلو سره د هغی عمر وټاکی او یا په دی برخه کی د طبی کاریوهانو نظریه حاصله کړي.

۷۴ ماده:

که چیری صغیر د قباحت مرتکب شی محکمه کولای شی ددغه قانون د مندرجو جزاګانو پر ځای صغیر د قضا په غونډه کې توبیخ کړی او یایې والدینو یا هغه چاته چی د هغه پر نفس دولایت حق لری یا هغه امین شخص ته چی په راتلونکی کی د هغه د ښی روزنې ژمنه وکړی، د سپارلو حکم صادر کاندی. او یا داچی په دارالتادیب یا خیریه مؤسسو یا اصلاحی روزنیزو مرکزونو کی چی د دولت له خوا د همدی مقصد لپاره تاسیس کیږی د حجز حکم وکړی.

۷۵ ماده:

که چیری صغیر د جنحې مرتکب نشی محکمه کولای شی د هغه په اړه دغه تدبیرونه ونیسی:

۱- ددې قانون د ۷۴ مادې مندرجو اشخاصوته دهغه سپارل، په دې شرط چی نومورې موده له درې کالو څخه زیاته او له شپږو میاشتو څخه کمه نه وی. او تسلیم شوی شخص د صغیر ښه روزنه په راتلونکی کی په لیکنې ډول متعهد شی.

۲- په دارالتادیب یا اصلاحی مرکزونو کی دده حجز له شپږو میاشتو څخه تر درې کالو پورې وې.

۷۶ ماده:

۱- که چیرې صغیر د جنایت مرتکب شئ چی جزایې اعدام یا بندوی محکمه کولای شی په دارالتادیب یا خیریه مؤسسو او یا اصلاحی مرکزونو کی د هغه په حجز حکم وکړی، په دی شرط چی د حجز موده یې له پنځو کلو څخه زیاته نه وی.

۲- که چیری د جنایت جزاء اوږد بندوی د حجز موده له یو کال نه کمه او له څلورو کلو نوڅخه زیاتیدی نشی.

۷۷ ماده:

که چیری صغیر متعهد شخص ته له سپارلو وروسته د تعهد د مودې په بهیر کی د جنحې یا جنایت مرتکب شی. محکمه کولای شی ژمن په لاندی توګه په نقدی سزا محکوم کړی:

۱- د جنحی د ارتکاب په صورت کی له ۱۰۰۰ نه تر ۲۰۰۰ افغانیو پورې.

۲- د جنایت د ارتکاب په صورت کی له ۲۰۰۰ تر ۵۰۰۰ افغانیو پورې.

۷۸ ماده:

که چیری صغیر خپلوانوته نه وی سپارل شوی، د محکمی له خوا خپلوانوته د هغه سپارل دده یا دده د خپلوانو په غوښتنه ترسره کیږی، په دې شرط چی د سپارلو د حکم له تنفیذ څخه لږ تر لږه یو کال تیر شوی وی. د مطالبی اعادی بیا غوښتنه د هغه د ردولو له نیتې څخه تر (۲) میاشتو پورې جواز نه لری. که محکمه خپلوانوته د صغیر په سپارلو حکم وکړی. دغه حکم د صغیر د سپارلو د حکم په څیر پیژندل کیږی.

۷۹ ماده:

هغه صغیر چې په دارالتادیب یا خیریه مؤسسو او یا اصلاحی مرکزونو کی تر حجز لاندې راځی، دارونديې مؤسسې د آمر په وړاندیز، د څارنوال په موافقه او دلوی څارنوال په منظوری له مؤسسې څخه وتلی شی. نوموړی صغیر په هیڅ ډول په دغو مؤسسو کې له پنځو کلو څخه زیات یا د ۱۸ کلنۍ سن له بشپړولو وروسته، اوسیدای نشی.

۸۰ ماده:

که چیرې صغیر د حکم له صادریدو وروسته، څوک پټ یا له هغه سره په اقرار کولو مرسته وکړی د شپږو میاشتو په بند تر ۲۰۰۰ افغانیو پوری په نقدی سزا محکوم کیږی.

۸۱ ماده:

ژمن ته د سپارلو حکم، د ۱۸ کلنۍ سن په بشپړیدو سره ساقط کیږی.

۸۲ ماده:

که چیری مراهق د قباحت مرتکب شی محکمه کولای شی ددغه قانون تاکل شوی جزا هغه محکوم کړی او یا والدینو یا هغه چاته چې پر نفس یې دولایت حق لري اویا هغه امین شخص ته چې د هغه په راتلونکی کی د ښې رویې ژمنه وکړی، په سپارلو حکم وکړي.

۸۳ ماده:

که چیری مراهق د جنحی مرتکب شی محکمه کولای شی د نوموړی جرم د پیش بینی شوی جزا پر ځای ددغه قانون د ۷۲ مادې مندرج تدابیر د هغه په باب ونیسی.

۸۴ ماده:

۱- که چیری مراهق د کوم داسی جنایت مرتکب شی چی سزایې اعدام یا دایمی بتد وی محکمه کولای شی په دارالتادیب کی دهغه په حجز چی له دووکلونه کم او له ۱۵ کلونه زیات نه وی، حکم وکړی.

۲- که د جنایت پیش بینی شوی جزا یې بندوی، په دارالتادیب کی د حجز موده یې لږ تر لږه له یو کال نه کمه او زیاته اندازه یې د حد اکثر له نیمایې څخه اوږد بند زیاتیدای نشی.

۳- که چیری د جنایت زیاته اندازه جزا له لسو کلو څخه کمه وی. محکمه کولای ی په دارالتادیب کې د هغه په حجز چی له یو کال نه کم او د هماغه جنایت له پیش بینی شوی جزا د اکثر حد له نیمائی نه زیات نه وی حکم وکړی.

۸۵ ماده:
۱- د جرم د ارتکاب پر مهال د صغیر او مراهق عمر د مسؤولیت د تاکلو اساس ګڼل کیږی.
۲- که چیری صغیر د جرم مرتکب شی او د حکم د صادریدو په مهال مراهق شی د صغیر په شان ورسره چلند کیږی.
۸۶ ماده:
۱- که چیرې مراهق د جرم مرتکب شی او د حکم د صدور په مهال اتلس کلنی سن پوره کړی د مراهق په شان ورسره معامله کیږی.
۲- که چیری مراهق د جنحی یا جنایت مرتکب شی چی جزایې په قانون کی اوږد بند یا پیش بینی شوی متوسط بندوي محکمه کولای شی د جنایت په صورت کی په دارالتادیب کی د حجزد مودې پر ځای په متوسط بند او په جنحه کی په لنډ بند حکم وکړې.
۳- په پورتنی فقرې کې په مندرجو مادوکی د محکومیت موده په هیڅ ډول له هغی مودې نه چی د جنایت یا جنحې په وړاندې په دارالتادیب کی د حجز لپاره په دی قانون کې پیش بینی شویدی، تجاوز نه کوی.
۴- په دې قانون کې اتکل شوی اوږد او متوسط بند څخه پرته جزاګانې په نقدی جزا چی له پنځو زرو نه تجاوز ونه کړی، تعویض کیږی.
۵- که مراهق په دارالتادیب کی د حجز په موده کی ۱۸ کلنی سن پوره کړي د محکوم بها حجز د پاتې مودې د تیرولو لپاره اړوند جیل ته لیږدول کیږی.
۸۸ ماده:
د صغیر او مراهق د جرم تکرار په دې قانون کې د مجازاتو د تکرار او د پیش بینی شویو تدبیرونو د نیولو مانع نه ګرځی.
۸۹ ماده:
که چیری صغیر یا مراهق څو څو ځلی په حجز محکوم شی په اصلاحی مرکزونو کی د محکوم بها حجز ټوله موده له پنځو کلو او په دارالتادیب کی له ۱۵ کلو څخه تجاوز نه کوي.

۹۰ ماده:

۱- که چیرې یو مراهق چې د اتلسو کلو عمر یې نه وي بشپړ کړی او د محکوم بها جزاء په دریو کې دوه برخې په دارالتادیب کې تیره کړي، محکمه کولای شی د مراهق یا د مور او پلار او یا د یو بل شخص په غوښتنه چې د هغه پر نفس دولایت حق لري د هغه د خلاصون حکم صادر کړي، په دې شرط چې دارالتادیب د نوموړی مراهق ښه چلند دیو راپور په ترڅ کی تصدیق او څارنوال هغه تایې د کړي په دې صورت کی مراهق هغه چاته سپارل کیږی چی ددغه قانون په ۷۴ ماده کې لیکل شوی دی.

۲- که چیرې مراهق د اتلسو کلو عمر بشپړ کړی او د محکوم بها جزا دریمه برخه یې په دارالتادیب کې تیره کړی وی، هغه وخت خلاصیدای شی چې د خپل راتلونکی ښه چلند په باب لیکلې ژمنه ورکړی.

۹۱ ماده:

د جرم په تکرار پورې اړوند احکام، تبعی، تکمیلی او امنیتی تدبیرونه پر صغیر او مراهق باندې د تطبیق وړنه دې مصادره، د ځای بندول او هغو ځایونو ته له تگ څخه منع کول چې د اخلاقو دانحراف لامل گرځی له دې حکم څخه مستثنی دې.

۹۲ ماده:

د صغیر او مراهق په برخه کې په بند باندې د نقدي جزا تبدیلول، جواز نلری.

۹۳ ماده:

هغه څوک چې د جرم د ارتکاب په مهال یې اتلس کلنی سن بشپړ او شل کلنی عمر یې نه وی پوره کړی، په اعدام نشی محکومیدای په دې حالت کې عمری بند د قایم مقام په توګه اعلامیږی.

د یادونې وړ ده چې د سرغړوونکو ماشومانو لومړنی محکمه په ۱۸۹۹ میلادی کال کی د امریکا په متحده ایالتونو کې جوړه شوه او ورپسی د نړۍ نورو هیوادونو د کوچنیانو له تخلف څخه د مخنیوی او دهغه د اصلاح، روزنې او علاج لپاره د امریکا د قوانینو له مخې د سرغړوونکو ماشومانو د قوانینو او محکمو په جوړولو اقدام وکړ په افغانستان کی اوس د سرغړوونکو کوچنیانو محکمه دوړو ماشومانو د تاءدیبی محکمی او اړونده

اجراآتو د مقرري په وسیله صورت مومي. چې دغه مقرره په (۳۰) مادو کې په لاندې ډول طرحه او تدوین شویده:

لومړۍ ماده:

دغه مقررات او قواعد د ماشومانو د تاديبي محکمې اړونده اجراآت تنظیموي.

دوهمه ماده:

د کوچینانو جرایموته رسیدګي چې د هغوی عمر له (۷) نه زیات او له (۱۵) نه کم وي د ماشومانو د محکمو واک او صلاحیت دی.

دریمیه ماده:

هغه کوچنی چې د (۷) کلو عمر نه وي پوره کړي، په هیڅ ډول د پولیسو او څارنوالۍ تر تعقیب لاندې راتلای نشي.

څلورمه ماده:

هغه ماشوم چې سن یې تر (۱۵) کلنۍ پورې دی که چیرې د جرم مرتکب شي محکمه کولای شي هغه ته تادیبي سزا چې د حال سره یې مناسبه وي، وټاکي یا محکمه کولای شي هغه خپل شرعي ولي ته وسپاري څو د هغه مسوولیت او روزنیزه ساتنه داړوندمقام له لارښونې سره سم په غاړه واخلي. او یا ماشوم دارالتادیب او یا بل ځای ته د حکومت له تجویز سره جوخت ولیږل شي. په دغو نومورو ځایونو کې د کوچنی د استوګنې زیاته اندازه (له پنځو کلونه) تجاوز نشي کولای.

پنځمه ماده:

که چیرې یو یا څو تنه ماشومان د نورو اشخاصو په ګډون د یو جرم په کولو مرتکب شي او یا د جرم په سوته رسو کې مرسته وکړي دغه موضوع یواځې د کوچنیو مجرمینو د احوال په پام کې نیولو سره د کوچنیانو په محکمه کې تر څیړنې لاندې نیول کیږي.

شپږمه ماده:

د ماشوم د عمر ټاکنه او تثبیت د جرم د پیښیدو د نیټې په اعتبار صورت مومي. او د جزائی اجراآتودقانون (۱۹۳۰) مادې د حکم په پام کې نیولو سره، واکمنه محکمه د

کوچنی کورنۍ استوګنځی خپله محکمه ده. خو په هغه صورت کی چی د ماشوم حالت او وضعی د بل ځی له پاره وړوی.

اوومه ماده:

محکمه د ماشوم ټولو جرایمو ته په پټه توګه رسیدګي کوی، په محکمه کی یواځی ولی. یا وکیل او یا هغه کسان چی په لومړنیو څیړنو کی یې نظر غوښتل شوی وی او باخبره شاهدان او د دارالتادیب استازی چې محکمه د هغوی حضور لازم وګڼي حاضریدای شی د محاکمې د بهیر خپرونه د مطبوعاتو یا رادیو له لارې او یا فلم اخستل او د تورن د شهرت افشا کول بشپړ منع دي.

اتمه ماده:

هغه کوچنی چی د څو جنایتونو او یا جنحو مرتکب ګرځی ټول تر سره شوي جرایم یو وخت او په عین محکمه کی تر څیړنې لاندی نیول کیږی. د جرایمو د ډیروالی په صورت کی د ماشومانو په باب مجازات، جواز نلری.

نهمه ماده:

هغه کوچنی چی د قباحت مرتکب ګرځی قاضی هغه د محاکمې په غونډه کې تر تادیب لاندی نیسی. او یا په (۴) ماده کی درج شویو اشخاصو ته یې د سپارلو حکم کوي.

لسمه ماده:

هغه کوچنی چی د محکمی د حکم له مخې شرعی ولې او یا بل چاته سپارل کیږی، داسی لیکلې ژمنه چی په راتلونکی کې د هغه ښه اعمال څاري، ضروری ګڼل کیږی.

یوولسمه ماده:

که چیرې قاضې د تحقیقاتو په پای کی ماشوم غیر عادی تشخیص کړی په اړوندو مؤسسو کې دې دکوچنی په درملنه قرار صادر کړي او که چیرې د ماشوم په روزنه او یا ټولنیز چاپیریال کی عیب او نقص ووینی دقرارپه صادرولو او یا د روزنیزو مقرراتو په پلی کولو لاس پورې کړی.

دولسمه ماده:

د کوچنیانو قاضی ورک لری که چیرې د ماشوم کړه وړه د اغماض وړوي د اخطار په باره کی د قرار په صادرلو اقدام وکړی او یا د ماشوم د اصلاح له پاره صادر شوی حکم وځنډوي.

دیارلسمه ماده:

(۱۵) کلن ماشومان او یا له هغه نه د زیات سن کوچنیان که چیری د قباحت یا جنحی مرتکب شی محکمه دې له دغه لاندینیو لازو څخه یوه غوره کړی:

الف: ماشوم دې له شرعی مقرراتو سره سم تعزیر کړي، مگر باید په نوموړی تعزیر کې دې د کوچنی او نتکی ځوان عدم تجربه د عمومی مخففه حالت په توگه په پام کی ونیسی.

څوارلسمه ماده:

د ماشومانو محکمه له هغو راپورونو سره سم چی د ماشومانو د حالت، دهغوی د ښوونی او روزنی په باب ددارالتادیب او یا بلې روزنیزې سرچینې له خوا لیږل کیږی، کولای شی په تیرو پریکړو یو ځل بیا نوې کتنه وکړي په دې ډول چی نوموړې مودې یوه پر څلورمه برخه کمه کړی او دارالتادیب ته دماشوم د لیږلو څخه برخه کی د پریکړو په اړه، کولای شی نوموړی تصمیم شرعی ولې ته د ماشوم د سپارلو په تصمیم بدل کړي. دماشومانو د محکمی پریکړه په دې باب غوڅ دی.

پنځلسمه ماده:

د (۱۵) کلن او یا له هه نه د زیات عمر ماشوم په باب د اعدام یا قصاص د جرمونو فیصله - د کوچنیانو د محکمو صلاحیت نه دی.

شپاړلسمه ماده:

که چیرې ماشوم د (۱۵) او (۱۸) پوره کلونو تر منځ د کوم جنایت مرتکب شی اعدام او قصاص پرې نه لازمیږی.

دهغوی مجازات له پنځو کلو څخه تجاوز نه کوی او په غیر جنایت کی هم باید په مجازاتو کی یې تخفیف راشې.

اوولسمه ماده:

له (۱۵) نه زیات تر (۱۷) کلنۍ پورې د جرایمو رسیدګي د عمومی محاکمو واک او صلاحیت دی. خو ددوسیې جوړونه او بشپړونه یې لکه د کوچنیانو ددوسیې په شان تنظیمیږی.

اتلسمه ماده:

هغه کوچنی چی دیو جرم مرتکب کیږی د هغی د کورنۍ او ټولنیز ژوند په اړه ټول ژور او مفصل معلومات د مؤظفو کسانو له خوا په ځانګړو فورمو کې لیکل کیږي. او بیا د تحقیق له دوسیې سره یو ځای محکمې ته د ځیړنې او استنتاج لپاره سپارل کیږی.

نولسمه ماده:

که چیری یو شخص د ماشوم د جرمی اعمالو په اثر زیانمن کیږی د کوچنی په جزائی محکمه کی ددخالت حق نلری یواځی د حقوقی محکمی له لارې کولای شی د ماشوم دولی یا وصې او یا قانونی ساتندوی پر ضد د تاوان غوښتنه وکړی.

شلمه ماده:

د ماشومانو محکمه د قراینو، نښو نښانو د ځیړنې او د تالاشې او نیولو صلاحیت د قوانینو، نښو نښانو، نیونې او تالاشی پورې د ځیړنې د اړندو جزائی اجراآتو د قانون احکام تر کوم ځایه چی د کوچنیانو د محاکمې د اړوندو مقررو له ماهیت سره سم وي، د تطبیق وړ دی.

که چیری محکمه د تحقیق په پای کی دې پایلی ته ورسیږی چی دماشومانو سن له (۱۵) کلو زیات دی دوسیه څارنوال یا مدعی العموم ته بیرته سپاری څو د واکمنې محکمی له خوا تر غور او څیړنی لاندې ونیول شی.

یوویشتمه ماده:

د شاهدانو او اهل خبره اشخاصو د لګښتونو په برخه کی د جزائی اجراآتو د قانون له مخی د ډاکتر او ژباړونکی له پاره هم د تطبیق وړوی.

دوه ویشتمه ماده:

د تحقیق مامورین مؤظف دي چی د دغو لاندنیو ماشومانو دوسیې د تادیبی یا اصلاحی تصمیم نیولو له پاره دماشومانو محکمی ته وسپاری:

۱- هغه ماشوم چی حالت، اخلاق، محیط او ماحول یې د تخلف ارتکاب ته میل او رغبت پیدا کړي.

۲- دولې له معقول کنترول څخه په مکرره توګه وتښتی او یا په پرله پسی ډول ځان د ولی یا وصی له معقول کنترول څخه خارج کړی.

۳- له معقولو دلیلونو او یا دولې له اجازې پرته له یوې ورځې نه زیات له کوره ووځي.

۴- له مشهوره بالفساده خلکو سره تماس او ناسته ولاړه ولري اویا په پرله پسی ډول شکمنو او تورنو ځایونو ته تګ راتګ وکړی.

۵- په داسی اعمالو لاس پورې کړی چی دده او د نورو د اخلاقو د خرابی لامل وګرځی.

۲- د بیلاری توب له خطر سره مخامخ وي.

درویشتمه ماده:

په جزائی پینبو کې د ماشومانو تعقیب او د کوچنی د دعوی اقامه د ځانګړی څارنوال دنده ده. د کوچنیانو څارنوال یا مدعی العموم ته لازمه ده چې د هغې لایحې سره سم چی د عدلیې وزارت له خوا جوړیږی اجراآت وکړي.

څلورویشتمه ماده:

دماشوم لګښتونه چی د محکمی د حکم په اساس د شخص یا ځانګړی محکمې تر څارنې لاندې نیول کیږی مور او پلار او یا هغه چا څخه اخستل کیږی چی قانوناً باید د ماشوم نفقه ورکړی که چیری نفقه ورکوونکی لګښتونه ورنه کړای شی، له خیریه مؤسسو څخه مرسته غوښتل کیږی.

پنځه ویشتمه ماده:

دماشومانو د محکمو قاضیان یا هغه څوک چی د هغوی له خوا ګومارل کیږی کم تر کمه په هرو درېو میاشتو کی یو ځلی شخصاً دارالتادیب او نور ځایونه چی ماشومان د بنوونې او روزنې لپاره ورته سپارل کیږی، وګوري، د بنوونې او روزنې څرنګوالی او د هغوی اخلاقی پرمختګ دې وڅیړي او نتیجه دې ستړې محکمې ته وړاندی کړی.

شپږ ویشتمه ماده:

د کوچنیانو محکمه مؤظف ده چی تل خپل هغه قرار وځاری کوم چې د ماشوم د درملنې یا روزنې په باب یې صادر کړی دی.

اووه ویشتمه ماده:

دماشوم ددرملنې یا روزنې په اړه د قرار د تطبیق د ځارنې پر مهال محکمه د یو بشپړ یا متمم تدبیر په توګه لازم تدبیرونه نیولای شي.

اته ویشتمه ماده:

دکوچنیانو د محکمی پریکړې غوښې او وروستی دي.

نهه ویشتمه ماده:

دغه مقرره د قضا په مجله کی د دري ورځې له خپریدو وروسته نافذ ده.

په پای کی دې نتیجې ته رسیدلای شو چی د ماشومانو د تخلفاتو په باب جزائی قانون او د ماشومانو د تادیبی محکمی اړوند مقررات او اجراآت چی همدا اوس د جقوقو او قانون د ساتنی په اورګانونو او یا زمونږ د ګران هیواد افغانستان په قضا ئی دستګاه کې نافذ دي، زیاتره مواد یې د ماشوم د حقوقو له نړیوالو کنوانسیونونو او اعلامیو سره سم تدوین او جوړشوی دي او ډیر مطالب یې د کوچنیانو د ګټو او بیا روزنې سره برابر لیکل شویدی او ماشومان اصلاحی اړخونه یې په پام کی نیولی دي. خو پوښتنه دلته ده چی دغه قوانین او مقررات کله کله د کاغذ پر مخ د تورو لیکنو په توګه پاتې شوی او زمونږ د هیواد په قضائی ارګانونو کی له هغونه عملاً کار نه اخستل کیږی. هیله من یو چی زمونږ د ګران هیواد قوانین او مقررات د اسلامی معیارونو او نړیوالو مقرراتو او کنوانسیونونو په پام کی نیولو سره داسې تدوین شی چی د هغې په مرسته زمونږ د هیواد جنګ ځپلی ماشومان وکولای شی له خپلو طبیعی او ذاتی حقوقو څخه ګټه واخلي.

باید په پام کی ولرو چی د افغانستان د اسلامی انتقالی دولت دریې س فرمان چې تر حجز لاندې ماشومان د ساتنی او روزنې د څرنګوالی په باب صادر کړی ددی کتاب په دویمه ضمیمه کی مطالعه کولای شی.

۶- دماشومانو د حقونو په ساتنه کی د قاضی او څارنوال ونډه:

قضاوت ستر کار او په ټولنه کې غټ منصب او لوړ مقام دی او هر څوک نشی کولای دغه مقام په غاړه واخلی. له همدی امله لوی خدای(ج) دغه ستر منصب پیغمبرانو او اولیاؤ ته څانګړی کړیدی او د قران مجید د (ص) د سورې په ۲۲ مبارک ایت کی فرمائی: ((ای داؤده! ماته په ځمکه باندی خپل استازی ټاکلی دیې نو باید چی د خلکو ترمنځ په عدالت سره حکم وکړې)). له پیغمبرانو او اولیاو وروسته هغه کسان کولای شی دادنده په غاړه واخلی چی د خدای په کتاب، د پیغمبر په سنتو نو او پوه وی او قضائی، حقوقی او مسلکی پوهه ولري، ناسخ او منسوخ، عام او خاص، مطلق او مقید سره وپیژنی او د قضاوت پر مهال د قضا د حقوقو اصولو او موازینو پر بنیاد د عدل او دنصاف له مخی د خلکو دعواګانې او قضیی وڅیړی او هغه شخړې او لانجی چی د خلکو ترمنځ پیښیږی حل او فصل کړی. ددې منصب په برم او پرتم کی همدومره بس دی چی پیغمبر (ص) د لومړی ځل لپاره دغه دنده په غاړه درلوده. او له ځانه وروسته یې دغه منصب راشدینو خلفاؤ ته سپاری.

د قضاوت ددندې په ارزښت کې لږ آیاتونه او روایات شته چی ټول یې داسې پندونه او نصیحتونه دی چی ددغه مسلک کارکوونکو ته ورکړشوی او هغوی ته یې د عدل او انصاف په څارنه او سرته رسولو کی امر کړیدی او هغوی ئی د نفسی او جسمی خواهشاتو له پیروی او د حق او حقیقت له لارې له اوختلوڅخه منع کړی دی. لنډه دا چی ددې دندې او مسلک خاوندان برسیره پر دې چی مسلکی پوهې ته اړتیا لری ، باید چی متقی او پرهیزګاره وې او تل خدای (ج) په هر کار کی حاضر او ناظر وګڼی او مقصد یې د عدالت او انصاف ساتنه او ټینګښت وی.

لکه څرنګه چی پورته ورته اشاره وشوه د څارنوال او قاضی شخصیت د خلکو ددعوو په حل او د نورو ټولنیزو ستونزو په څیړنه کی مهم دی نو لازمه ده چی دوی د مسلکی پوهې تر څنګ د عدل او انصاف یوه بیلګه وی. ددغه مسلک یوه څانګه په هغو قاضیانو او څارنوالانو پورې اړه لری چی د ماشومانو په څانګړو محکمو کی کار کوې.

د نړی په زیاترو هیوادونو کی دماشومانو د محاکمو په قوانینو کی د اصلاحی لازوچارو د ټاکلو د سرغړوونکو ماشومانو په هکله د بیا روزنې یا درملنې ، د هغوی د حمایت او

لارښوونې لپاره له تخلف څخه د مخنیوی په غرض د هر ډول تصمیم نیولو او د حکم صادرولو حق قاضی، څارنوال او یا واکمن مقام ته سپارل شویدی. دماشومانو قاضی یا څارنوال په دې ستر ټولنیز کار کی د بریالیتوب لپاره باید د ماشومانو پر حقوقو، ټولنپوهنه، جرم پوهنه ، اروا پوهنه ، ښوونه او روزنه،او د خپل هیواد په ټولنیز، اقتصادی او سیاسی حالت ښه پوه او خبروړ. دوی باید د محکمی په بهیر کې د ماشومانو باور ځانته راجلب کړی او په سړه سینه، مهربانی، مینه محبت، صبر او زغم سره د هغوی کړه وړه او له ټولنې سره د دوی انطباق لاملونه وڅیړی او د تخلف د علتونو له معلومولو وروسته دې د اصلاحی لارو چارو څخه د کار اخستلو له لارې د کورنی اختلافونو او ستونزو دلرې کولو لپاره د هغوی په باره کی حکم صادر او قضاوت وکړي، ددغه مهمی وندې د لوبولو لپاره باید د ماشومانو قاضی یا څارنوال له هرپلوه د نوموړی مقام دنیولو جوګه وي. نوله همدی امله ده چی دې هدف ته درسیدو لپاره د کوچنیانو په ډیرو ځانګړو قوانینو کی د قاضی یا څارنوال د ټاکلو شرطونه چی د ماشوم د حقوقو او نړیوالوحقوقی کنوانسیونو د پوهی په اړه دی وړاندیزونه شویدی. په دې مانا چی د ماشومانو د محکمو قاضی یا څارنوال باید په مسلکی پوهی سربیره د اسلام دمبین دین، د ماشوم د حقوقو او نړیوالو اعلامیو او ټرونونو له مخی د ماشومانو د حقوقی مسئلو په باب پوره پوهه او معلومات ولري.

دبیجینګ مقرراتو د ۱ نه تر ۲ او ۳-۲ مادو له مخې د ماشومانو ځانګړی وضعی او د اصلاحی - روزنیزو لارو چارو اجراء ته په پام نیولو سره باید قاضی یا څارنوال یا دماشومانو ماهر د محاکمی په مراحلو کی په تیره بیا د محکمی په تعقیب ، تحقیق، دلارو چارو یا مجازاتو د عملی کولو اودرغنده تصمیم نیولو او د لازمو احکامو د صادرولو واک او صلاحیت ولری، تر څو دماشوم حقوق خوندی او مجازات یې له شخصیت سره سم وټاکل شی.

دیادونې وړ دی چی هغه بل نوښت چی د سرغړوونکو ماشومانو د محکمی دتشکیل په چوکاټ کی په نظر کی نیول شوی په محکمه کی د غیر حرفوی قاضانو او څارنوالانو شاملول دی. که چیری دماشومانو د محکمی د تاسیس او جوړیدو موخه یا هدف د تخلف د علت ټاکنه، او دماشومانو د اصلاح، بیاروزنې او یا درملنی لپاره د تصمیم نیول وي،

نو بهتره ده چې د محکمې په جوړیدو کې د روزنیزو، ټولنیزو او روحي چارو له ماهرانو څخه هم استفاده وشي.

په دې اړه د نړیوالې ټولنې ددفاعي ښوونځي سازمان سپارښتنه کوي چې د محاکمو په پریکړو کې باید د نظر د خاوندانو او نورو هغو مسلکي غړو چې د ماشومانو له ډول ډول مسئلو سره تړاو لري وغوښتل شي او دوی ته دې حق ورکړشي چې د محکمې په دوران کې ګډون وکړي. ددوی په اند دا کار به د ماشومانو د تخلف د موضوعګانو د سالمو پریکړو له پاره د زیات اهمیت وړ وي.

په محکمو کې د متخصصینو فکر او نظر چې په حقیقت کې یو ډول منصفه غړی جوړوي، یواځې مشورتي بڼې لري خو د پېښې وروستي حکم پخپله قاضي، څارنوال او یا د محکمې ریې س کوي. د کوچنیانو قاضي یا څارنوال د دوسیې په جوړولو کې آزاد دی تر څو په خپل تشخیص سره په لازمو قضیو باندې اقدام او پریکړې وکړي. دماشومانو د محکمې قاضي کولای شي د نورو څانګو له ماهرانو له هغې ډلې نه له طبي ډاکټر، روحي ډاکټر، اړواپوه او ټولنپوه څخه هم داستفاده وکړي او د تورن ماشوم په برخه کې د تصمیم د نیولو په مقصد د هغوی نظر وغواړي.

برسیره پر دې په ډیرو هیوادونو کې دماشومانو قاضي یا څارنوال د ماهرانو له ډلې ټاکل کیږي، د هغوی د انتصاب احکام د څو کلونو نه وروسته صادریږي تر څو نومورې قاضیان او څارنوالان د خدمت په بهیر کې وکولای شي له ټولنیزو شرایطواو قضائي ارګانونو له جوړښتونو، د اصلاح، روزنې او درملنې د مرکزونو او د حپل دندې په اړه پوره معلومات تر لاسه کړي او تر خپلې څارنې او حمایت لاندې ماشومانو له چلند جسمي او روحي ودې او بدلونونو څخه ځان خبرکړي.

دسرغړوونکو کوچنیانو د قاضیانود چلند او دماشومانو د قاضیانو د نړیوالې همکارۍ د همغږۍ کولو په منظور چې په ۱۹۷۰ کال کې د ژنیو په ښار کې جوړشو دماشومانو د قاضي د تخصص لزوم تایې د او د حقوقو په پوهنځي کې یې د ماشومانو د جرایمو د مضمون په تدریس ټینګار وشو. د ۱۹۷۴ کال په غونډه کې چې په اکسفورد کې جوړه شوه، د نړیوالې ټولنې دوهمې څانګې د ماشومانو قاضیانو ته داسې سپارښتنه وکړه.

لومړی: لازمه ده چې قاضیان او څارنوالان د مهمو ټولنیزو کارکوونکو په توګه ځانګړې زده کړې تړلاسه کړي او یا د تحصیل له دورې وروسته پخپله دماشومانو په محکمه کې زده کړه وکړي.

دوهم: دماشومانو د محکمې د قاضي دنده ده چې د روزنې هغه لارې او چارې وټاکي کوم چې سرته رسول یې د روزنې او اصلاح د مرکز په غاړه دي او هم دارټیا پرمهال هغه ته بدلون ورکړي.

دریم: د ماشوم د مقیدې او مشروطې ازادۍ په صورت کې د ماشومانو د محکمې قاضي باید په هرې ممکنې طریقې سره چې وي د ماشوم د اولیاؤ د ولایت حق او د هغه د کورنۍ عاطفي اړیکې خوندي وساتي.

څلورم: آن کله چې د ماشومانو د محکمې دخالت په محدودې ازادۍ او یا د ماشوم د روزنیزقیمومیت پورې تړلې وي هغې پریکړې چې دماشومانو قاضي یې نیسي باید پر هغو طبي، اجتماعي او روحي څېړنو ولاړوي کوم چې د ماشوم درروزنې دلارو او چارو په ټاکلو کې ضروري دي.

داصلاحي، روزنیزې درملنې د لاروچارو د غوره کولو په منظور د کوچنۍ د شخصیت پیژندلو ارټیا د ماشومانو د کار پوه قاضي او څارنوال په مشرې د سرغړوونکو ماشومانو د محکمې د جوړیدو خورا مهمه انګیزه ده. نو ځکه د ماشومانو قاضي او څارنوال چې د ماشومانو د محکمې په جوړیدو او د محاکمې په بهیر کې مهمې دندې په غاړه لري د اصلاحي، روزنیزو لاروچارو د تطبیق لپاره، د ماشوم د شخصیت په پام کې نیولو باندې مؤظف دي. قاضي او څارنوال باید لومړی د ماشوم شخصیت وپیژني او دماهرانو له هغې کله د ټولنیزو مرستندویانو، روحي داکترانو، اروپوهانو، ټولنپوهانو او د طب د داکترانو په مرسته دی د جرم په ارتکاب کې اغیزمن عوامل وڅېړي او دماشوم رښتینې شخصیت دې د اتفاقي عوارضو له نظره جوت کړي او بیا دې د اصلاحي روزنیزو او یا درمانې لاروچارو سپارښتنه وکړي. دماشومانو قاضي باید دی مهم او غټ کارته د رسیدو لپاره پخپل وار ټول کنوانسیونونه، ټرونونه او دماشوم د حقوقو نړیوالې پریکړې په ژوره توګه مطالعه کړي، له ټولنیزو علومو، روزنیزو علومو، روانشناسۍ، جرم شناسۍ سره دې اشنائي پیدا او د کوچنۍ د عصر او زمان له اجتماعي او اقتصادي موقعیت څخه دې ځان خبر کړي. دماشوم قاضي یا څارنوال باید په صبر، عزم او زغم سره دماشوم د کورنۍ او

اجتماعی ستونزو دلړ کولو لپاره د یو لارښود، ساتندوی، زړه سواند، خیرخواه او نیک آند شخص په توګه د ماشوم ډاډ او باور ځانته جلب او هغه ترخپلې ساتنې او لارښوونې لاندې راولي.

دپام وړه چې زمور په ګران هیواد افغانستان کې څه د پاسه دوه نیمو لسیزو جګړو زمور په ټولنه باندې ناوړه اغیزه کړې چې خورا دردونکې ننبه یې د جګړو ځپلو ماشومانو د شمیر زیاتوالی دی. په زرګونو ماشومان چې د جګړې په بهیر کې معیوب او یا له مور او پلار او ولي څخه بې برخې شویدی د هیواد په بیلو بیلو سیمو کې په سختو او زړه دردوونکو شرایطو کې ژوند کوي. ځکه نو د هغوی زیات شمیر په غیر شعوری توګه د انحرافاتو او د جرایمو دارتکاب خواته مخه کړې. طبیعی ده چې دغر علتونو دماشومانو د انحرافاتو او جرایمو ګراف لوړ بیولی او دهیواد د حقوقو د ساتنې ارګانونه او نورې مؤسسې له جدی ستونزو سره مخامخ کړیدی.

د حقوقو د ساتنې د ارګانونو چارواکی په تیره بیا هغه قاضیان او څارنوالان چې د ماشومانو په تادیبی محکمو کې مهمې دندې سرته رسوی باید پوه شی چې څنګه کولای شی د هیواد دراتلونکی نسل اړونده ستونزې حل او بیلاری او سرغړوونکې ماشومان داسې وروزی یا ورته تادیبی جزا ورکړی چې د حقارت احساس ونه کړی او شخصیت یې د اصلاح وړ وګرځی.

د پورته مطلبونو په پام کې نیولو سره هغه قاضیان او څارنوالان چې د کوچنیانو په محکمو کې کار او فعالیت کوي، ستر مسؤلیتونه په غاړه لري، هغوی باید دې مهم اصل ته پام وکړی چې دماشومانو تحقیقی او محاکماتی چارې داسې تر سره شی چې له هر ډول زور او ګواښ او سپکاوی څخه تش وي او ماشومان د محکمې په بهیر کې یواځی د ځان د سمون او بیاروزنې لپاره فکر وکړي او یا په بله ژبه: ماشومان دې د تحقیق او محاکمې په بهیرکې او یا له هغه نه وروسته په دې باورشی چې ددوی اعمال د ټولنې د اخلاقی غوښتنو په خلاف دي. او د هغو په دوام سره نشی کولای ټولنی ته د خدمت وړ وګرځی.

هغه قاضیان او څارنوالان چې د کوچنیانو دوسیې څیړي باید په زړه سواندی چلند، په مینه او محبت سره سرغړونکی ماشومان خپلو ناسمو اعمالو ته متوجه کړي اود دوی په باب د اصلاحی او تربیتی اهدافو پر بنیاد خپل حکمونه او پریکړې صادرې کاندې.

په دې هیله چې زموږ دګران هیواد قاضیان او څارنوالان چې دماشومانو په ځانګړو محکمو کې دنده لري دماشوم د حقوقو ټول کنوانسیونونه، ټرونونه او نړیوالې پریکړې په ژوره توګه مطالعه او پخپلو وروستیو اجراآتو کې له هغه نه عملاً کارواخلی او د کوچنی د حقوقو د ساتنې او اعادې په برخه کې خپلې دندې او مسؤولیتونه تر سره کړي.

دریم فصل

دماشوم د حقوقو په ساتنه کې د امنیتی ارګانونو ونډه

نن ورځ چې مونږ د دوه زره څلورم میلادی کال په درشل کې یو، د حقوق پوهانو او تولنیزو مصلحتو د هغو پر له پسې هڅو شاهدان یو چې د فرهنګ او د بشر د حقوقو د درناوی په برخه کې په نړۍ کې سرته رسیږي. دغه کوښښونه چې نژدې څه د پاسه نیمه پیړۍ او یا د ملګرو ملتونو د سازمان له جوړیدو سره جوخت له نوی نظام څخه برخمن دي د ډیرو ملیتونو ورځنی ژوند باندی ژوره آغیزه کړیده.

ښکاره ده چې دنړۍ د بیلا بیلو هیوادونو اساسی او عادی قوانین د بشر د حقوقو له اصولو او قواعدو څخه الهام اخستی دی. په دي اوس مهال کي چې مورږهم نوي اساسی قانون جوړ کړی دي، دا باور پیدا شوی چې قانون پوهان او د هیواد چارواکی وکولای شی ددغو قوانینو په وضع کولوسره، هغه انسانی اصول په پام کې ونیسی چې د بشر د حقوقو په تیره بیا د ماشوم د حقوقو د اعادې په محتوی کې شامل دي او د هغو قوانینو له تصویب نه ډډه وکړی کوم چې د بشر د حقوقو او دماشوم له حقوقو سره توپیر لری.

افغانستان د ملګرو ملتونو د غړی او د بشر د حقوقو د نړیوالی اعلامیې او د مدنی اوسیاسی حقوقو د نړیوالو تړونونو په تیره بیا د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون د لاسلیک کوونکی په توګه شمیرل کیږي، نو ځکه ټول دولتی ارګانونه، پرتیره بیا د هیواد امنیتی دستګاوې مکلفې دی چی ددغو تړونونو او کنوانسیونونو په پیروی، عملی لاره غوره کړی. او د ټولو اړوندو مراجعو چارواکی په تیره بیا پولیس د قانون د حاکمیت د تطبیق او رعایت په ترڅ کې له سرغړوونکو ماشومانو سره ښه چلند وکړی او د هغوی د ارتکابی عمل ځانګړی او ټولنیز ضررونه او منفی اړخونه بیان او توضیح کاندي او د سرغړونکو ماشومانو د ذهن په روښانه کولوکی د ښوونکی او روزنونکی په ښه خپل نقش ولوبوی او د بریالی او مهربان ښوونکی په ډول د سرغړوونکو ماشومانو په بیا روزنه کی بنسټیزه ونډه واخلي او له دغه شان کوچنیانو سره د چلند پر مهال له هر راز زور زیاتی او د ماشوم له جسمی تنبیه څخه دې ډډه وکړی.

د بشر د حقوقو د نړیوالو ژمنو له مخې، په تیره بیا د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون (۲) ماده دغه کنوانسیون ته له ژمنو هیوادو څخه غواړی چی د هیواد په ټولو قوانینو او مقرراتو کی باید د ماشوم حقوق درنګ، توکم، مذهب، سیاسی عقیدې، ملی تبعیض او دماشوم د وضعی، والدینو او د هغه د قانونی سرپرستانو پرته، محترم وګڼل شي. او د تبعیضی اعمالو په وړاندې د ماشومانو د ساتنی لپاره لازم اقدامات په نظر کې ونیول شي.

لکه چی لیدل کیږی د (ماشومانو د جرایمو) موضوع له هغو سره ددغه راز پیښو د څیړنې او چلند څرنګوالی د جزایې اجراآتو په بیلا بیلو پړاؤنو کی د کشف، تحقیق او محاکمې په باب د دولتونو پام ځانته رااړولی او هاند کیږی چی د جرم له ارتکاب څخه دماشومانو د ژغورلو په باره کی او یا که چیری دوي کله کله یو جرم ته لاس اجوی، له اغیزمنو لارو چارو څخه په استفادې سره د پولیسو د تعقیب او د سرغړونکو ماشومانو تر حجز لاندی نیولو په اړه، ځانګړی مکلفیتونه او شرایط وضع او عملی کړي.

د هغو توپیرونو له مخې چی په دغه راز پیښو کی دلویانو مجرمینو د پیښو په پرتله درسیدګی، د څیړنې د هدف او د جزائی تدبیرونو د تجویز په لحاظ شته دي، د نړۍ حقوقی جوړښتونه دې ته اړ کړی دی چی د کشف او تعقیب لاړې چارې او په مجموع کی دماشومانو محکمې دلویانو له محکمو څخه جلا جوړې کړي او هر ارګان چی له دغه شان

مسئلو سره مخامخ کیږی، دې کارته متوجه کړی چی باید په هر ډول شرایطو کی دکوچنیانو د بیا روزنې لپاره فکر وکړي او په پای کی د هغوی د سمون او بیا روزنې په برخه کی ځانګړو روزنیزو ځایونو او مرکزونو څخه استفاده وکړی.

اوس په نړۍ کی جنایې ټولنپوهانو د جنایې ژوند پیژندونکو پر خلاف په دې باور دی چی د ماشوم ضمیر د پاکی هنداري په څیر دی چې هر ډول ښه او بد انځور پر ځان منې او هره شیبه منلو ته یې چمتو وی. نو لدې کبله زموږ د ګران هیواد امنیتی ارګانونه بایدله هر څه زیات د سرغړوونکو ماشومانو ژوند لیک او ټولي ټولنیزي غوښتنې وپیژنی او د ټولنې د امنیت په وړاندې له مسؤولیت او د سرغړوونکی ماشوم د کړوړو له پایلو څخه پوره معلومات اوخبر ولری.

باید په پام کی ولرو چی د کشف او تحقیق بهیر او بالاخره د ماشومانو د محکمی قوانین د لویانو د قوانینو سره توپیر لری، نو لازم دی چی له ماشومانو او لویانو سره د چلند څرنګوالی هم باید یوله بل سره توپیر ولري، د کشف او تحقیق مؤظفین باید د کوچنی د ژوندلیک راپور په مفصله توګه جوړ او څارنوالی ته وړاندې کړی او په دی باره کی د نظر د خاوندانو په لاړ ښوونه د ماشوم شخصیت په ذهنی، روحی، عاطفی او ټولنیز لحاظ تحلیل او د ماشوم د شخصیت له ژورې مطالعی وروسته دې مراتب د څارنوالی مقام ته وړاندې کړی نه د هغی جنائی دعوی په ښه چی دقاعدې له مخې پر لویانو اقامه کیږی. البته محکمه د ماشوم د ژوندانه دراپور له اوریدو وروسته د ماشوم د انحراف د علاج په باب چې د هغه له خصوصیاتو او د ژوند له مشخصاتو سره اندول یا متناسب وی تصمیم نیسی او وخت په وخت خپل ی پریکړی څارې او مراقبت یې کوي.

دپاملرنې وړ ده چی دکتاب په دې فصل کی یواځی د ماشوم د حقوقو رعایت د امنیتی ارګانونو په تیره بیا د پولیسو له نظره څیړو او غواړو چی په دی پوه شو چی، زموږ د هیواد په قوانینو کی دماشوم د حقوقو دسانتې په برخه کې امنیتی ارګانونو څه ډول اقدامات سرته رسو او ددی هدفونو په پرمخ بیولو کی څه ډول ګامونه اوچت شویدی او په دی باره کی څه تضمینونه وړاندی کوی. دلته مخکی له دې چی په اصل موضوع پیل وکړو، لازم دی چی د پولیسو او د پولیسو ددندې په اړه معلومات وړاندی او بیا په امنیتی ارګانونو کی دماشوم د حقوقو د کنوانسیون د موادو رعایت وڅیړو.

۱- پولیس او د هغه دندې:

په عمومی توګه پولیس دنظم او قانون د کلمی سره مترادف استعمالیږی. د پولیسو د سازمان درامنځته کیدو اساس او بنست باید له هغه وخته ولټوو کوم چی بشر ښاری ژوند غوره او د نظم ساتنی په ټولنه کی ارزښت پیدا کړیدی. په تیرو زمانو کې د بشر د ژوندانه له هماغه پیل څخه ټول سیاسی، پوځی او قضائی ځواک د کورنی دریې س په نامه د یوه تن په لاس کی ؤ او وروسته له هغه چی د کارویش منځ ته راغی ځینی صلاحیتونه نورو سازمانونو ته هم وسپارل شو چی پولیس له هغی جملې څخه دی.

مصریانو، یونانو او رومیانو له ډیرو پخوا زمانو راهیسی پولیس درلودل. مصر د نړۍ له ډیرو لرغونو هیوادونو څخه دې، چی پولیس یې درلود.

((منس)) یعنی د هغه هیواد لومړنی فرعون، ډیرپخوا د ارسطو له خولی ویلي ؤ : ((پولیس د یو ملت لپاره خوراستر لومړنی نعمت دی.))(۴۲)

د مصر د دولت د رسمی اسنادو له مخی چی د نړیوالو جنایی پولیسو په کتابتون کی موجود دی، مصری فرعونان د نړۍ لومړنی پاچاهان ووچی د امنیت د ساتنی او د خپلو مالونو د ساتنی له پاره پولیس راپیداکړل او بیا یې د هغوی د اختیاراتو ساحه د خلکو د ژان اومال په بیه پراخه کړه.

دیادونې وړ ده چی د نړۍ په هیوادونو کې پولیس په ژانګړی ډول تعریف شوی او له بیلو بیلو اړخوو څخه یې د هغوی دندې تاکلی او بیان کړیدی چی نشو کولای دلته د هغو په باره کی مفصل تشریحات او معلومات وړاندی کړو. د ډیرو لیکوالو له نظره د پولیس کلمه په حقیقت کی په درې مفهومونو استعمال شویده:

لومړی ـ د ښاری مقرراتو د ټولګی په مانا.

دوهم ـ د ښاری مقرراتو په سرته رسولو کی د ژارنی او پلتنې په مانا.

او دریيم ـ د نومورو مقرراتو په سرته رسولو کی د توظیف شوی عمومی سازمان په مانا.

نن د پولیسو دستګاه د فرد او ټولنې د اړیکو تنظیموونکی سازمان دی ، په دی مانا چی د هیڅا کړه باید د نورو ارامی ګډه وډه نه کړي اود ټولنې ګټې په ښه توګه تامین شی. نو ځکه د پولیسو رول او وندې یواځی ترمیم نه، بلکی له جرم څخه مخنیوی، د مشاهدې له

لاری حمایت، او په محل کې د حضور او ښتون دنده هم په غاړه لري. د مشاهدې، مخیوی، حضور او حمایت کلمې د پولیسو ماموریت ټاکي.
پروفیسور استفانی او پروفیسور لواسورLevaseur هم د پولیسو د کلمی لپاره دري مفهومه راوړي دی. ددی په نظر د پولیسو لومړی مفهوم د هغه مقرراتو له مجموعی څخه عبارت ده چی د عمومی مقاماتو له خوا وضع او پر خلکو تطبیق او عملی کیږی. د پولیسو په دوهم مفهوم کی د هغو مقرراتو توضع او اجرا شامله ده چی موخه یې د امنیت او ارامی تامین او د عمومی سولې ساتنه ده.
درییم مفهوم هغه شئ دی چی په اوس مهال کی پولیسو ته ویل کیږی او مقصد تري هغه دولتی کارمندان دي چی د امنیت او ارامی، عمومی نظم او د عمومی سولې د ساتنی هغه اړونده مقررات اجراکوی کوم چی دواکمنو مقاماتو له خوا منځ ته راغلی وي. (۴۳)
د گرونبل د پوهنتون د حقوقو، سیاسی او اقتصادی علومو د پوهنځی استاد موریس دانیل د پولیسو ساده خو جامع تعریف کوی او وائی: «پولیس په کلی ډول په یوه سیاسی ټولنه کی د عمومی نظم د ساتنی متصدي دی.(۴۴)
د جنائی پولیسو د اصولو او روشونو د کتاب لیکوال فارالیک لیکی: «هغه دولتی سازمان چی ماموریت یې داساسی قانون ملاتړ له تخلفاتو څخه مخنیوی، د عمومی نظم تامین او د خلکو د سر او مال ساتنه وی، پولیس ګڼل کیږی. » (۴۵)
د ملګرو ملتونو د سازمان د څیړنو مرکز چی په ۱۹۷۳ میلادی کال کی د پولیسو د وندې او د بشر د حقوقو څخه ملاتړ په باره کی په استرالیا کی غونده کړې وه پولیس یې داسی ستایلی او تعریف کړیدی:
«د سولې او عمومی نظم ساتنه، د ژوند، ازادی،او مالونو حمایت او ساتنه، د جرمونو مخنیوی او برسیرنه، د مجرمینونیول او د جزائی تحقیقاتو سرته رسول د پولیسو دندې جوړوی. » (۴۶)
په کلی ډول، د پولیسو دندې معمولاً په دوه کټګوریو باندې ویشلی شو:
اداری پولیس او قضائی یا جنائی پولیس.
اداری پولیس پخپله په دوه پراخو او محدودو مفهومونو استعمالیږی. چی پراخه مانا ئې، هغه څارنه او مداخله ده چی دولت یې د عمومی نظم د ساتنی او په ټولنه کی د خلکو د فعالیت لپاره تر سره کوی او ددخالت لاری او چاری یې د نظم په ساتنه، دلوایحو او

مقرراتو په اجراکولو کی د هغو اجرا او څارنه ده. د اداری پولیسو محدود مفهوم ټول هغه اقدامات دی چې د جرایمو، ګډوډیو او اوړودوړ له پیښیدو څخه د مخنیزی په غرض کیږی. دغه ډول پولیس ته تامینی یا امنیتی پولیس او احتیاطی پولیس هم ویل کیږی. ځکه هر ډول قاعده او امنیتی اقدامات تدبیرونه چی وضع کوی د ګډوډی مخنیوی کوی، ښکاره ده چی پورتنی احتیاطی او تامینی اقدامات په عین حال کی ټولنیز نظم او فردی حقوقو او ازادیوته هم پاملرنه کوی. مثلا د اجتماعی ښو اخلاقو په وړاندې یوغیراخلاقي فلم له ښودنی څخه د مخنیوی اقدام، اویا د موټر دلایسنس د صدور یا د ولګردی او غلا څخه د مخنیوی په اړه اقدام او یا د اړو دوړ څخه د مخنیوی په باب اقدام ټول اوټول د اداری پولیسو دندې او اقدامات بلل کیږی.

د پولیسو دوهمه څانګه، هماغه قضائی یا جنائی پولیس دی چی د یو ټولنیز ناوړه کار څخه مخنیوی کوی. په دې صورت کی دی چی قضائی یا جنائی پولیس د جرم په کشف، د دلایلو په راټولولو او د مجرم په نیولو لاس پورې کوی. همداوخت دي چې کله کله بیا د قضائی او اداری پولیسو عملیات له یوبل سره ګډه پوله پیداکوي او دندې یې بیلول څه ناڅه مشکل شی. همدارنګه هغه ساتونکی چی د خلکو د ژوند، مال او نوامیسو ساتنه او څارنه په غاړه لری او یا د تګ راتګ دندی تنظیموی ددي که (ترافیک) ویل کیږی. او دیو اداری پولیس کار تر سره کوی خوکله چې داچی جرم پیښ شو او هغه د جرم د کشف کوونکی او یا د متخلف د نیوونکی په نامه د عمل په صحنه کی راشی، اداری واک یې په قضائی او جنائی واک بدل شی.

نو ویلای شو چی پولیس کله چی اداری دنده تر سره کوی عمل یې د جرم دفع او کله چې د جنائی پولیس په نامه کار کوی عمل یې د جرم رفع کول دي. د (اداری او جنائی) پولیسو دوه اړخیزه دندې کله کله له یو بل نه سره نه جلا کیږي، بلکی د هغوی له یو بل سره لازم او ملزوم او یا مکمل او متمم ګڼل کیږي. د تیوری له مخی د اداری او جنائی پولیسو ددندو په تاکلو کی ویل شوي دی: «د قضائی یا جنائی پولیسو دنده هغه وخت پیل کیږی چی د اداری پولیسو دنده پای ته رسیدلی وي.» (۴۷)

نو له دې امله د پولیس دندې په بشپړ ډول د بشر د حقوقو، په تیره بیا د ماشوم د حقوقو له تامین سره نه شلیدونکی اړیکی لري. ځکه پولیس د خپلی دندې د سرته رسولو پر مهال ښایي د بشر یا ماشوم حقونه وساتي او یا هغه نقض کړي.

د پولیسو د دندی ظرافت په دې کی دی چی داسی عمل وکړی چی د حق حامی وی نه د هغه ناقض او ماتوونکی. د ساری په توګه: کله چی پولیس تورن یاشکمن کس نیسی او هغه ته یې خپل لومړني حقوق ښیئ او پری پوهوی ئې، (لکه د سکوت د حق او له قضائی سلاکار څخه د استفادی پر حق پوهول) د هغه د انسانی حقوقو حمایت او احترام کوی او کله چی د اقرار په اخستلو پیل کوی او خلګ زوروی، نوموړی حقو نه تر پښو لاندې کوی، په ټولنه کی خپل احترام کموې او ځان د بیلو بیلو خطرونو او مسوولیتونو په تیره بیا جزائ مسؤولیتونو سره مخامخ کوی. په دې توګه په ټولو تحقیقاتی پړاوونو کی له لومړی اړیکو نه نیول تر توقیف پوری د ټولنی د حقوقو او پولیسو تر منځ له یوی خوا او د فرد حقوق له بلی خوا، اړیکی ټینګیږی. نو له همدی امله ده چی د ملګرو ملتونو سازمان د بشر او د ماشوم د حقوقو څخه په ملاتړ کی د پولیسود وندې موضوع ژوره څیړلې او د پولیسو د دندې په اړه یې د ماشوم او بشر د حقوقود رعایت لپاره مهمې سپارښتنی کړیدی.

له اړنګه پرته چی فردی ازادی او مساوات د انسان اساسی او بنیادی حقوق دي او د پولیسو د عادی او جنائی دندو ځانګړتیاوې داسی دی چی تل له هغو سره اړیکي او پیوند لري. لکه چی لیدل کیږی زیاتره د یو هیواد اساسی قوانین د خلکو ازادیو ملاتړکوی، اساسی قانون دخلکو ځان، مال، استوګنځی، عزت او شرف له تیری او تجاوز څخه د خوندی ساتلوپه موخه طرح کیږي او دغه حقوق معمولاً د قوانینو د اجراء کوونکود عاملینو په واسطه چی پولیس له هغي ډلي څخه دی یا په خطر کی ولیږی او یا ساتل کیږی.

په رښتیا چی د پولیسو ددندواو د خلکو د اساسی حقوقو تر منځ نیغ په نیغه اړیکي موجودي دي او په ډیرو اداری او امنیتی عمومی قوانینو کی د پولیسو په تعریف کی هغه د قانون د ساتندوی په نوم یاد شویدی.

څرګنده ده چی امنیتی ارګانونه، په تیره بیا د پولیسو دستګاه په ټولنه کی ډیری مهمې دندې په غاړه لری او په رښتیا چی ددې ارګان غړی په ټولنه کی د بشر د حقوقو دمدافعانو او حمایت کوونکو په توګه کنټل کیږی. ددغه ارګان کار کوونکی باید له نړیوالو معیارونو سره سمه په مسلکی پوهه سنبال وي او خپلی دندې په صبر او زغم سره تر سره کړی.

۲- پولیس او د ماشوم د حقوقو ساتنه:

د ازادی غوښتنی فکر په رامنځته کیدو او د ټولنی په وړاندی د فرد په ملاتړ سره په تاریخ کی دغه عقیده دود شوه چی تورن د جزائی محاکماتو مهم او اصلی لوری دی. د جزائی محاکمو ټولې غملړلې پیښی د هغه بدمرغه انسان له پاره دی چی تورن نومیږی چی په حق او یا نا حقه تر تعقیب او ازار لاندی نیول کیږی ، پت او عزت او ازادی اوحتی ژوند یې دنابودی سره مخامخیږی. نو ځکه لازمه ده چې تورن باید د محاکمی په بهیر کی بشپړ ازادی ولري او ټول واک او اختیار یې په لاس کې وی څو وکولای شی له ځانه دفاع وکړی.

ددغو فکرونو درامنځته کیدو په خاطردخلکو بې ځایه نیونې اود تامینی قرارونو صدور ورو، ورو د اوسنی نړۍ په امنیتې نظامونو کی کم شو، د پټو پولیسو د ارګانونو په وسیله د خلکو د توقیف واک او اختیار له منځه لاړ اوپه دې اړه د پولیسو اختیار محدود شو. اوس مهال د ټولو جزائی پریکړو او فیصلوپه وړاندې اعتراض د مننی وړ وګرځیده او د ټولو جزائی حکمونو د اعتراض قابلتیا د یو مهم انسانی اصل په توګه په رسمیت وپیژندل شو او د جزائی محاکماتو په ساتنه پورې اړوند اصول نوې بڼه پیدا کړه. نور نو پولیس اجازه نلری د خلکو د استوګنی کورونو ته ورننوځی او د جرم د مشهودوالی او یا د تورن د نیولو په پلمه او یا د جرم د سامان آلاتو د تر لاسه کولو په پلمه د خلکو داستوګنی کورونه وپلټی.

دویلو وړ ده چی اوس امنیتی جرمونه تعریف او توصیف شویدی او د هغو ساحه مشخص شویده. نن په زیاترو بشری ټولنو کی د امنیتی جرایمو په پلمه له امنیتی نظامونو څخه د خلکو په وړاندې بیځایه سختګیری او تشدد له منځه تللی او پر ځای یې له دغه فکر او اند څخه کار اخستل کیږی چی مجرم یا تورن یا سرغړوونکی ذاتاً له دغو اعمالو او چلندونو سره یو ځای نړۍ ته نه دی راغلی. اوس مهال د جرایمو د کشف او جزائی محاکمو په بهیر کی د بشر او ماشوم د حقوقو له اصل څخه چې‌نن ورځ درسمی اسنادو په توګه دملګرو ملتونو له خوا منل شویدی اود نړۍ ټول هیوادونو د هغی د تطبیق ژمنه کړیده، الهام اخلی.

له کومه ځایه چې د بحث وړ موضوع په امنیتي ارګانونو کې د ماشوم د حقوقو تطبیق او رعایت د ی نوځکه په امنیتي ارګانونو کې دماشوم د حقوقو رعایت تر ځیړنې لاندې نیسواو د کشف او تحقیق (پولیسو) د مؤظفینو د خبرتیا او پوهاوی لپاره د ماشوم د حقوقو دکنوانسیون مواد بیانوو څو چارواکی پخپلو اجراآتو کې هغه په پام کې ونیسی او په تطبیق کې یې اقدام وکړي. ددغه کنوانسیون مواد د پولیسو د اجراآتو په باب په دې ډول دی:

الف: دځورونې منع:

دماشوم د حقوقو د کنوانسیون د (۳۷) مادې الف فقره وایي: «هیڅ ماشوم باید تر زورونې یا نورو ظالمانه، غیر انسانی اعمالو یا هغه مجازاتو لاندې رانه شی چې له انسانی کرامت سره یې توپیر ولري. د اعدام یاد عمری بند مجازات د خلاصون له امکاناتو پرته دهغو کسانو په برخه کې چې سن ئې له (۱۸) نه کم وی باید تطبیق نشی».

له تورن څخه د اقرار پر مهال د ځورونې څخه کار اخستل یوه تاریخی سابقه لری او دا کار په امنیتي ارګانونو کې له ډیر پخوا راهیسی عملی او په ځینو هیوادونو کې د انسان حقوقوته له پاملرنې پرته له دغه انسانی چلند څخه د غیر قانونی عمل د تنفیذ او تطبیق لپاره استفاده کیږي. حال داچې له تورن څخه د پیښې د کشف په خاطر تحقیق یو ډول ځانګړې پوهه او سلوک غواړي چې ناوړه، وحشتناک اعمال نه ایجابوی او آن هغه ناجایز او بیځایه ګڼي: د حقایقو د کشف پرځای د ناوړو او غیر انسانی لاروچارو څخه کار اخستل، پر واقعیتونو باندې سر پوښ اینبودل دي. دا کار ویره او ترهه پیدا کوی او ددې لامل ګرځی چې بیګناه شخص په زور او جبر سره د هغه جرم په ارتکاب اقرار وکړی چې هیڅکله یې سرته نه دی رسولی. او یا داچې اصلی مجرم یا ګنهکار د خیر په غوندې کینې او دیو جرم په ارتکاب څو تنه نور په ناحقه اعتراف وکړی او ځان تورن او تومتی وشمیری.

نو له دې امله پر خلکو زور زیاتی کول، ځورونه او تعذیب له انسانی کرامت او شرافت سره یو مغایر او مخالف کاردی. ځکه دغه راز اعمال که د عادی خلکو له خوا وشی او یا ددولتی چارواکو له خوا، که دغه شان اعمال د غچ اخستنې له پاره وی او یا داچې له تورن نه د اقرار اخستلو په غرض له قانون څخه خلاف عمل او ناسم کار دي. دغه ډول د جبر او

زور په واسطه اقرار اخستل د اعتبار وړ نه دی او هم د قانون یا شرعی، بشری کرامت، د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیی او نړیوالو تړونونو څخه مخالف کار دی. لکه چې د بشر د حقوقو د نړیوالی اعلامي په (۵) ماده کی وائی: «هیڅوک نشی کولای څوک وځوړوی یا داسی مجازات پرې تطبیق کړی چی ظالمانه وی او یا دانسانی او بشری شؤناتو خلاف وی.» همدارنګه په همدې برخه کی د مدنی، سیاسی نړیوال تړون (۷) ماده اعلاموي: «نشو کولای هیڅوک تر داسی زورونی، آزار یا ظالمانه مجازاتو لاندې ونیسو چی له انسانی کرامت سره مخالف وی.»(۴۸)

نو لازم دی چی د شکمنو او تورنو کسانو په برخه کی له هیڅ راز ځوروني (روحی یا جسمی)، تعذیب څخه کاروانه خستل شی او که چیری له دغه کارنه هدف د شخص اقرار اخستل وي د شریعت او قانون له مخې هغه اعتبار نلری. دغه راز اجراآت باطل او مردود دی او مرتکبین یې چی معمولاً د عامه خدماتو چارواکی (پولیس) دي د عدلی تعقیب وړ او د سختی سزا د تطبیق وړ ګڼل کیږی.

دیادونی وړده چی د ځوروني موضوع زمونږ د هیواد په اساسی او جزائی قوانینو کې هم په ډاګه بیان شوې او اړونده ارګانونه یې په هر ډول شرایطو کی د خلکو له ځوروني، ازار او زیاتی څخه منع کړیدی. لکه چی د ۱۳۰۳ کال د لومړنی اساسی قانون له تدوین وروسته ځورونه او تعذیب او هر ډول مجازات چی په نظامنامه او قوانینو کی نه وي، د ټولنیزو ښیګڼو پر خلاف ناسم عمل بلل شویدی. ددې اساسی قانون د افغانستان د اتباعو د عمومی حقوقو په اړوند فصل کی داسی راغلی دی: «ځورونه او د مجازاتو نور ډولونه ټول موقوف دي او د عمومی عسکری، جزایې نظامنامې څخه بهر هیڅاته مجازات نه ورکول کیږی.»

برسیره پردې، په ۱۳۱۰ کال کی د افغانستان د دولت په اساسی اصولو کی هم دغه ټکی داسی راغلی: «ځورونه او نور ټول مجازات موقوف دي او د مبارکې شرعی له حکمونو او د دولت د اصولنامونه بهر هیڅاته سزا ورکول کیدای نشی.»

د ۱۳۴۳ کال د اساسی قانون په دریم فصل کی د خلکوّ د حقوقو او اساسی دندو تر سر لیک لاندی داسې ویل شویدی: «دانسان په غدایول جواز نلری، هیڅوک نشی کولای حتی د کشف لپاره له بل چا ځینې که څه هم هغه شخص تر تعقیب، نیونې او یا توقیف لاندې وي او یا خو په جزا محکوم وي، تر فشار او عذاب لاندې ونیسي.»

په یو بل ځای کی دې مطلب ته داسی اشاره شویده : « د داسی سزا تاکنه چې د انساني کرامت څخه مخالفه وي، جواز نلري، هغه اظهار چې له تورن یا بل شخص څخه په زور او جبر اخیستل کیږي، اعتبار نلري. »

لکه څنګه چی لیدل کیږي زمونږ دهیواد په اساسي قوانینو کې نه یواځی د انساني کرامت پرخلاف هر ډول جزا، تحقیر او سپکاوی د مجازاتو په توګه دروحی او جسمي ځوروني او تعذیب تطبیق منع دی، بلکی له تورن څخه په زور او جبر اقرار اخیستل یا اظهار ناروا او ناجایزګڼل شوی دی چی ددغه راز حالت داثبات او شتون په صورت کی اقرار او اظهار بالکل د اعتبار وړ نه بلل کیږي.

دعامه خدمتونو هر غړي په تیره بیا پولیس او نور امنیتي کارکونکي چی دغه شان غیر قانوني کار وکړي د مجازاتو وړ شمیرل کیږي. البته دا کار دهغه ډله خلکو حالت ته هم ګوته نیسی چی دځوروني د عملي کولو په اړه امر ورکوي. (۴۹)

له بلې خوا دځوروني ضد کنوانسیون دیوې مادې له مخې، هر عمل چی دهغه په اثر جسمي یا روحي درد یا تکلیف هغه شخص ته ورسیږی چی داطلاعاتو دترلاسه کولو او یا له هغه او یا بل چا څخه داقرار اخیستلو په منظور پرې جزاتطبیقیږي، ځورونه بلل کیږي. (۵۰)

دکنوانسیون په دې ماده کی په ډاګه ویل شوي چی : « دیو شخص تنبیه په هر ډول لاملونو سره چې د تبعیض هر ډول ننبه پکی ښکاره شي ځورونه ګڼل کیږي ». ددې مادې په توضیح کی دې مطلب ته اشاره شویده چی ددغه کنوانسیون دمقرراتو له مخی هغه وخت دغه بدني یا روحي اعمال ځورونه ګڼل کیږي چی د واکمنو دولتي مقاماتو په لمسون، رضایې ت او یا دهغو درضایې ت بښونکی سکوت په اساس عملي شي.

دځوروني و منع د کنوانسیون په (۲) ماده کی له غړیو دولتونو څخه په ډاګه غوښتل شوی چی په قانوني، قضایې ، اداري او نورو اغیزمنو اقداماتو سره دخپل ورک په ساحه کی د ځوروني څخه ډډه وکړي اوتر هر ډول شرایطو لاندی او په استثنایې حالاتو کی لکه : جګړه له ځوروني، او د ځوروني نورولوړو دستورونو ته مشروعیت ونه بخښي.

دځوروني دمنع کنوانسیون په (۱۰، ۱۱ او ۱۲ مادو کی غړی دولتونه مکلف ګڼل شوي او له هغو غواړي چی په تحصیلی او تعلیمی دورو کی دځوروني څخه د ډډه کولو قانون په

داسی محتوی کی څای کړی او د کنوانسیون دښه اجراء لپاره پخپلو تجربو او روشنو کې د نوې کتنې په ترڅ کی له هر ډول ځوروني څخه ډډه وکړي.

دزور او ځوروني د منع کنوانسیون د (۱۰)، (۱۱)، (۱۲) مادو له مخې ویلای شو چی زمونږ په هیواد کی دپولیسو هغه شمیر افسرانو ته باید دښوونی او روزنی شرایط په نظرکی ونیول شي چی غالباً له سرغړونکو ماشومانو سره سروکار لري او یا اساساً د کوچنیانودجرم په مخنیوې بوخت دي. په ولسوالیو او لویو ښارونو کی باید د پولیسو څانګړی واحدونه دغه هدف ته درسیدو په خاطر جوړ شي. البته ددغه کتاب لیکل له دغه راز فعالیتونو څخه یو فعالیت دی چې دخلکو حقوقو په تیره بیا د ماشوم د حقوقو په باره کی د معلوماتو د زیاتوالی په منظور د هیواد امنیتي مسؤلینوته برابر شوی دی او هیله من یو چې د پولیسو ارګانونه او دستګاوې تری سمه او معقوله استفاده وکړي. او له سر غړوونکو ماشومانو سره د چلند پر مهال، د هغه په تطبیق او عملي کولوکی اقدام وکړي.

لکه څنګه چې پولیس دخلکو خدمتګار او د یو هیواد په نظام کی دقانون لومړی پلي کوونکی ارګان شمیرل کیږي. ډیره مهمه ده چی هغوي په یوه مناسب چلند او د انسان له مقام سره سم د پیښو په اړه عمل وکړي. څکه لومړني تیری چی د تورن او نوروخلکو پر حقوقو کیږي په لومړی پړاو کی هماغه دجزایې دوسیې جوړونه ده او د پولیسو افراد هغه لومړني کسان دي چی د جرم، شکایت کوونکی او تورن له صحنو سره مخامخ کیږي او باید ضروری وړتیا ولري. څو له پیښو سره په چلند کی سم عمل وکړي چی دغه وړتیا دزده کړې او تجربې له لارې حاصلیږي.

دیادونې وړ ده چی په اوسنیو شرایطو کی چی دافغانستان پولیس دانترو پول پولیسو یوه برخه ګرځیدلی ده، هغوی ته دبشر د حقوقو ساتنی په اړه دلسو معیارونو زده کړه یو ضروري کار دی دا لس ګونی اصول چی نړیوال سازمان د نړۍ د بیلابیلو هیوادونو د ماهرو افسرانو او پولیسو په مرسته لیکلی او معیارونه دملګروملتونو د منشور، جنایې قضاوت، او د بشر د حقوقو د معیارونوپربنسټولاړدي.دهیواد دپولیسو د زیاتو معلوماتو، خبرتیا او ذهنونو د روښانه کولوله پاره په لاندې ډول بیایږي:

- قانون دهر چا حقونه له توپیرپرته، په مساویانه ډول پیژني او ساتی یې، په تیره بیا دګوابښ او تشددپه وړاندې.
- هیڅوک نشي کولای پخپل سر څوک و نیسي، توقیف یي کړي او یا فراریي کړي.

- ټول هغه کسان چې آزادي يې سلب شوې وي، بايد ظلم، ستم، تشدد پرې ونشي او نه وځورول شي.
- ټول خلک پرته له تبعيضه د قانون په ساتنه کې ونډه لري.
- هرسړې دعادلانه محاکمې حق لري.
- هر سړې کولای شي سوله يې زه ټولنې يا غونډې جوړې کاندي.
- هر سړې د بيان د آزادۍ حق لري.
- دقانون هيڅ يو تطبيق کوونکي غړی دظلم، تشدد، ځوروني او انساني ضد فشار اجازه نلري

که چيرې هيوادونه له اضطراري حالت يا سياسي ګډوډۍ يا جګړې سره مخامخ شي بيا هم ددغه شان اعمالو دغوښتنې او عملي کولو حق نلري، بايد ټوله پاملرنه د بشر د حقوقو ساتنې په تيره بيا دماشومانو، ښځو، بوډاګانو، کډوالو، بيځايه شويو او لږه کيو دحقوقو دساتنې په اړه تر سره شي. (۵۱)

په پای کې کولای شو د پورتنيو ټکيو له ليکلو څخه داسې نتيجه تر لاسه کړو چې د زړه سوانده پوليسو روزنه چې وکولای شي د ټولو هيوادوالو امنيت ساتنه په پوره صداقت او امانتداری سره سرته ورسوی او دماشوم له پيښو سره په چلند کې دهغوی حقوق رعايت کړي، په اوسنيو شرايطو کې زموږ د ټولنې خورا مهمه اړتيا شميرل کيږي. په حقيت کې که چيرې زموږ د هيواد قوانين او مقررات سم او سالم وی او مقنن يا قانون جوړونکی هم پياوړی تجربه ولری او د نظر خاوند وی او په پوره دقت او فکر سره د قانون په ليکلو لاس پورې کړی. خو کله چې د پوليسو غړی پر حقوقی او جزايې قوانينو واکمنی ونه لری او دکوچنيانو له حقوقو څخه خبر نه وی، په ربښتيا چې په ټولنه کې به د ماشوم دحقوقو هدفونه تحقق پيدا نکړی او په پايله کې به ماشومان له فساد، ناخوالو او بد مرغيو سره مخامخ شی او هم به د ماشومانو په برخه کې عدالت او انصاف په هيڅ ډول تامين نه شي. نو له دی کبله له حقوقی او جزايې مسايلو څخه دمعلوماتو په لرلو د سمبال مسلکی پوليسو روزل ، ډير مهم او دپاملرنې وړ موضوع ده.

ب - له آزادۍ نه بې برخې کیدل :

دماشوم د حقوقو کنوانسیون د (۳۷) مادې د (ب) په بند کې راغلی دی : ((هیڅ ماشوم نه باید په خپل سر، له قانون پرته له خپلې آزادۍ څخه بې برخې شي، باید د کوچنی نیول، توقیف او بندي کول له قانون سره سم او د وروستۍ چارې په توګه دلږې مودې لپاره ، صورت و مومي .))

له آزادۍ او یا آزادۍ څخه د محرومیت مقصد هر ډول نیونه ، توقیف، یا بندی کول او یا په عمومی او ځانګړی ځای کی دیو شخص ځای پر ځای کول دی چې له (۱۸) کلو نه کم عمر شخص ته اجازه نه ورکول کیږي پخپله اراده د قضایې ، او اداری واکمن له امر پرته له هغه نه خارج شی. (۵۲)

بنکاره خبره دا ده چی خلک ازاد پید شوي او د ازادۍ له حق څخه برخمن دي او هیڅوک ددولت په ګډون حق نلري، له قانونی اجازی او د واکمنی محکمی له حکم پرته د هغی آزادی په مؤقته یا دایمی توګه سلب کړی . په مؤقته یا دایمی توګه د آزادی سلب که د احتیاطی تدبیرونو د نیولو په خاطر وی او یا دا چی د محکومینو د ټاکلی نیټی د تیرولو لپاره ، د قانون له حکم او د واکمنې محکمې له تجویز پرته نشی تطبیقیدای. ځکه چې د شخص ازادۍ ته تاوان اړوي، هغه حق چی دټولنی ددرناوی وړ دی او سلب کول یې ناوړه او بد کار ګڼل کیږی، که چیری یوچاته قانون دا اجازه ورکړې وی او یا محکمه د قانون په لارښوونه په دې کار لاس پوری کوي. دا به هغه مهال وی چې د ضرورت له مخی د ټولنیزو ګټو د تامین له پاره وی او یا دا چې په ټولنه کی د قانون د تطبیق او د عدالت د ټینګښت له پاره ګټور ثابت شی.

له اړنګه پرته چی د بشر دحقوقو نړیواله اعلامیه، مدنی او سیاسي نړیوال تړونونه، د ماشوم حقوق او اساسي قانون او همدارنګه زمونږ دهیواد دجزایې اجراتو قانون ټول او ټول د اشخاصو د بی موجبه آزادی د سلبولو څخه د مخنیوی په خاطر او د هغوی د آزادی د حق د ساتنی لپاره طرح او تدوین شویدی د مثال په ډول : ((د مدنی او سیاسی حقوقو دنړیوال تړون دطرحی او تدوین د (۹) مادی په بند کی داسی راغلی دي ((نشو کولای هیڅوک پخپل سر ونیسو یا توقیف یې کړو او له هیچا څخه آزادی سلبولای نشو مګر له قانون سره سم.))

باید وویل شي چی : دملګرو ملتونو ټول اصول او قواعد له آزادۍ څخه دمحرومو ماشومانو دساتنی په اړه حکم کوی او دماشوم دحقوقو ترون تل دغه موضوع په هر اړخیز ډول بیانوی چی له آزادۍ څخه محرومیت باید هغه وروستی حالت وی چی په هغه لاس پوری کوو او موده یي باید لږ تر لږه، استثنایي حالاتو پوری محدود وي .دماشوم د حقوقو د کنوانسیون په یوه ماده کی په څرګند ډول دې موضوع ته اشاره شوی او د م.م د سازمان غړي دولتونه چی له دې کنوانسیون سره یي ژمنه کړیده، ددې مادی په پلي کولو مکلف ګڼل شوی چی له آزادي نه محرومیت په داسي حالاتو او شرایطو کی باید تر سره شي چی دماشومانو بشری حقونه تضمین کړی . په دغه تضمین کی هغه ګټور فعالیتونه او اغیزمنی لاري چارې شاملې دي چی دکوچنیانو راتلونکی عزت او سلامتیا د ودې او پراختیا له پاره ضروري دی او مختلفو ماشومانو سره په راتلونکی کې ددوی د ظرفیتونو او استعدادونو په پراختیا کی د ټولنی د سالموغړو په توګه مرسته کوي .

ج - د توقیف منع :

توقیف په ټاکلی ځای کي دقانون له حکمونو سره سم دواکمنو مقاماتو له خوا دیو شخص د مؤقتې آزادی له سلبولو څخه عبارت دی . (۵۳)

له اړنګه پرته چی دیو شخص توقیف دواکمن مقام له خوا صورت نیسی واکمن مقام چی په ځانګړو حالتوتو کی دوګړو دتوقیف صلاحیت او اختیار لری ، دقانون له خوا ټاکل کیږی اوله هماغه مقاماتو او وګړو پرته بل هیڅوک دامنیتی ارګانونو (پولیس) په ګډون دقانون له اجازی پرته د وګړو د توقیف حق نلری، ځکه دشخص آزادی یواځی دقانون په حکم سلب کیدای شي .

هر ډول توقیف چی په قانون کی ورته اجازه نه وی ورکړی . د قانون خلاف او دخلکو پر آزادیو او حقوقو تیری دی . دغه موضوع د هیواد د (۱۳۴۳) کال داساسي قانون په (۲۹) ماده کی داسی څرګنده شویده :

((نشو کولای هیڅوک تعقیب، ګرفتار یا توقیف کړو، مګر د قانون له حکمونو سره سم .))

د توقیف او نیولو په صورت کی باید داتهام موضوع ډیر ژر له دلایلو سره یو ځای تورن ته ابلاغ او په پریکړو و پوهول شی او لږ تر لږه یې په ۲۴ ساعتو کی مقدماتی دوسیه واکمن قضایي مقاماتو ته ولیږدول شی او ډیر ژر دې دمحکمی لومړني دوسیه وڅیړل شی. له دی

اصل نه سرغړونکی اشخاص دمجازاتو وړ دی . دغه اصل د خلکو د بیځایه توقیف د مخنیوی لپاره تدبیرونه رامنځ ته کړی دی، لومړی دا چی ، دغه اصل حکم کوی چې توقیف او نیول منع دی او د آزادی حق دی رعایت شي او ډیر ځلی دنیولو او توقیف امکان یي په استثنایي ډول په قیودو او شرایطو پوری تړلی دی .

دوهم داچی : دافرادو په توقیف او نیولو پوری ټول اړوند حالتونه او مقدمات باید په عادی قانون کی څرګند شوی وي او دجلب ماء مور دې له قانون سره سم پری عمل وکړي. مثلاً : څرنګه چی دخلکو کور ته دشپی له خوا ننوتل منع دی او که چیری څوک چی دنیولو حکم یي صادر شوی، په کور کی وی، دپولیسو ماء مور نشی کولای په غیر قانونی توګه د یو چا کورته ننوځی او هغه توقیف کاندی، که چیری داکار جبري وی او هرومروباید تر سره شی، باید لومړی دمحکمی اجاوه ولري، درییم دا چی دافرادو د نیولو او توقیف ځینی تشریفات اساسی قانون دومره مهم ګڼلی چی نیغ په نیغه یې جزءیات بیانوی او هغه یي عادی قانون ته د څیړلو او بیانونو له پاره نه دی پری ایښی. د مثال په ډول : داتهام موضوع باید مشخص وی ، داتهام مشخص شوی موضوع باید په تورن باندې له کافی دلایلو سره یو ځای وي، اتهام او دلایل دی تورن ته ابلاغ شی ، دغه ابلاغ باید لیکلی وی، لږترلږه باید مقدماتی دوسیه په ۲۴ ساعتو کې واکمنو قضایي مقاماتو ته ولیږل شی او داسي نور .

په اساسي قانون کی په ډاګه بیان شویدی که چیری امنیتی دستګاه په تیره بیا پولیس دیو چا په توقیف اونیولو کی ، نومورې یو یا څو پورتني چاري په پام کی ونه نیسی، دجرم په ارتکاب تورن ګڼل کیږی . مثلاً : که چیری مخکی له دې چی دیوچا اتهام معلوم شی، دهغه دتوقیف په اړه اقدام وشی دغه توقیف قانونی نه شمیرل کیږی که څه هم وروسته په نیول شوی شخص باندې سم او قطعی تورونه هم پیدا او محکومیت یې ثابت شی. دغه وروستی محکومیت نشی کولای مخکینی توقیف چی داتهام موضوع یې مشخصه نه وه، مجاز وګڼی.

دپاملرنی وړ ده که چیری دشخص له توقیف سره سم د اتهام دلایل هغه ته ونه ویل شی او یا وروسته له څو ساعتو دغه اتهام هغه ته بیان شی او یا مقدماتی دوسیه یي په ۲۴ ساعتو کی له توقیف وروسته قضایي واکمن مقام ته ونه سپارل شی، په دې وخت کی پر پولیس باندی دهر ډول جرم ثبوت سم بریښي او باید چې تر تعقیب او مجازات لاندی ونیول شی.

د پورته مطلبونو له مخې، دخلکو په توقیف کی چی یو ډول دآزادی سلب ګنل کیږی دغه لاندی ټکی تر سترګو کیږی:

- سره له دی چی توقیف یو ډول دآزادی سلبول دی، دلته دآزادی سلبیدل په مؤقت ډول صورت مومی او مقصد یې هم ځانګړی دی. معمولاً دهغو جرمونو دارتکاب په صورت کی چی مجازات یې په قانون کی حبس یا بند وي د تورن له تیښتې څخه دمخنیوی لپاره چی عمر یې له ۱۸ کالو جګ وی احتیاطاً په توقیف کی ساتل کیږی.
- دشخص توقیف او دآزادی سلبول یواځی د قانون په حکم صورت نیسی، هر ډول توقیف چی قانون هغی ته اجازه نه وی ورکړې د قانون خلاف او د خلکو پر حقوقو او آزادیو باندی تیری دی.
- هغه څوک چی دواکمن مقام لخوا او له قانون سره سم توقیف کیږی دغه د آزادی سلب باید په ځانګړی ځای کې تر سره شی. دآزادی سلب له ځانګړو ځایونو او یا دولتی ځایونو پرته د توقیف شویو کسانو ساتل ناسم او دقانون او بشر له حقوقو څخه سر غړاوی دی.

لنده دا چی ، زمونږ د ګران هیواد په قوانینو کی د خلکو دتوقیف په باره کی د بشر دحقوقو له نړیوالو اصولو سره سم زیات ټکي تر سترګو کیږی، خوله بده مرغه مسؤلین یا چارواکی ددغو اصولو په پام کی نه نیولو سره دهغو په تطبیق کی سرغړونه کوی. هیله ده د کتاب ددې برخې دموضوعاتو په لوستلو سره امنیتی چارواکی په تیره بیا دهیواد د پولیسو دستګاه په پوره غور سره ددی لیکنې د مطلبونو رعایت دټولنې د خدمتګارانو په توګه په پام کی ونیسی او په تیره بیا دماشوم دحقوقو په ساتنه او اعاده کی چی تر اوسه پورې یې دجګړې دناوړو اغیزو یادونه نه دی هیرې کړی، اقدام وکړي او د ټولنی دغه راتلونکی نسل دوروستیو تخلفاتو له خطر څخه وژغوری.

برسیره پر دې دهیواد امنیتی ارګانونه باید دی ټکی ته متوجه وی چی د ماشومانو د توقیف ځای لکه چی د دې کتاب په تیرو برخو کی ورته بیابیااشاره وشوه دارالتأدیب یا د ماشومانو د اصلاح او روزنی مرکز دی. د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون له مخې له قانون څخه هر سرغړوونکی ماشوم باید د محاکمی په موده کی او یا له هغه وروسته د هغو ټولو حقوقو او تضمینونو مستحق دی چی د بیا روزنی لپاره یې ګټوره او اغیزمن وي. ددغه کنوانسیون د موادو په پام کی نیولو او دملګرو ملتونو د نورو پریکړو پر اساس هغه

ماشومان چې په توقیف کې دی باید د هغوی د څارنې او ساتنې بنسټیز شرایط او ټولې هغې ضروری فردی، اجتماعی، ښوونیزې او روزنیزې، حرفه یې ، روحی، روغتیایې او جسمی مرستې چې ښایې هغوی ورته دسن، جنس او شخصیت له پلوه اړتیا ولري، تیار کړای شي.

د - غیر قانونی مشدده حالات :

کله کله د اشخاصو د آزادی پر سلب برسیره دګرفتاری پر مهال یا دتوقیف په بهیر کی د هغوی په وړاندی له زور زیاتی، ځوروني او راز راز جسمی او روحی زوروني څخه کار اخیستل کیږی، یا دا چی د خپلو اعمالو دروا ښودلو په خاطر، فاعل د پولیسو له یونیفورم اوجامونه کار اخلی او یا ځان پولیس او د عامه خدمتونو تو کار کوونکی ښکاره کوی خو پداسی حال کی چی واقعیت بل ډول وي، دغه پیښه مشدده حالتونه ګڼل کیږی او مرتکیبونو ته یي د هیواد په جزایې قانون کی دغه شان جزاګانې تشخیص او تاکل شویدي.

- هغه څوک چی په عادی حالت کی د وګړو د غیر قانونی توقیف په جرم مرتکب کیږی یعنی یو شخص له کاره منع او توقیف کوی د پنځو کلونو په بند محکومیږی. (۵۴)
- که چیری د غیر قانونی توقیف او نیولو پر مهال له جعلی یونیفورم څخه استفاده وشی او یا جعلی القاب وکارول شی یا جعلی امر د دولتی مقاماتو د امر په توګه وکاروی او یا دګرفتارې او توقیف په امر کی له جبر او اکراه یا دمرګ له ګواښ څخه کار واخیستل شی، دا کار مشدده حالات ګڼل کیږې او که چیری مرتکبین یې ددولت رسمي چارواکی هم وي تر څو کلو پوری په اوږد بند محکومیږی. (۵۵)

مشدده اعمال او حالات د فرد آزادی له منځه وړی او انسانی کرامت یې له نابودی سره مخامخ کوی، چی دغه راز حا لتونه د قانون له نظره غیر مجاز یا د قانون داحکامو او دواکمنی محکمی د اذن خلاف دي.په هرځاي کي د آزادی او د ژواندنه له هرډول اغیزمنو شرایطو څخه استفاده د هر فرد طبیعی او اجتماعی حق دی، نو ځکه دشخص دازادي پرخلاف هر ډول تیری د ملی او بین المللی قوانینو له مخې منع ګڼل شوی او په اوس مهال کی په دې تکی زیات ټینګار کیږی چی هر شخص آزاد دنیا ته راځی ځکه نو د آزاد ژوند

کولو، ګرځیدلو او په هر ځای کې داوسیدلو حق لري. له بلې خوا هر کله چې ځوک دقانون خلاف او پرته له رسمي ورک ځخه دیو چا آزادي سلب کړي، ناسم او دقانون خلاف عمل يې رسولی چې د قانون له مخې عاملین سرته په سزا محکوم ګڼل کیږي، دا کار که چیرې د عادي خلکو له خوا ترسره شي او یا دعامه خدماتو دچارواکو (پولیسو) په وسیله د جزا مستحق ګڼل کیږي.

ح - د توقیف شویو حقوق :

د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون (۳۷) مادې د(ج) په بند کې راغلي : ((دآزادي ځخه له هر محروم ماشوم سره باید انساني کړنه وشي او بشري او طبیعي کرامت يې محترم وشمیرل شي او ورسره داسي کړنه تر سره شي تر څو دسن او سال له مخې يې اړتیاوې په نظر کې ونیول شي، په تیره بیا له آزادي نه محروم ماشوم باید له لویانو ځخه جلا کړای شي، مګر دا چې نه بیلول يې د کوچنۍ په ګټه وي. دوی پرته له استثنائي حالتونو حق لري چې د لیک له لارې یا په مستقیمه توګه د کورنۍ سره اړیکي ولري.))

دبند مجازات چې په جزائي قوانینو کې د اصلي مجازاتو په نامه نومول شویدي، له محکوم ځخه د آزادۍ سلب په ترڅ کې، دنظم اوارامۍ، دټولنې دامنیت او برابرۍ لپاره له ټولنې ځخه د مجرم یا تورن لرې ساتلو په خاطر داجتماعي دفاع یوه وسیله پیژندل شویده. مګر په اوسنۍ ټولنه کې دمجرم د ښوونې او روزنې او اصلاحي فلسفې د غچ اخستلو او مجازاتو پر فلسفې چې پخواه موجوده وه، برتري موندلې ده د روزنې او اصلاح د فلسفې په اساس، هغه شخص چې په بند محکوم شویدی ددې له پاره بندي شوی نه ده چې له هغه نه غچ واخستل شي، دروحي تعذیب لاندې ونیول شي او له ټولنې ځخه بیخي تجرید شي، بلکې مهم هدف له اجتماعي چاپیریال سره دده هماغه بیا سازګارول دي. نو ځکه لازم دی چې له دغه راز محکومینو سره په جیل کې اصلاحي چلند او کړنه وشي. او دا ډول وګړي تر روزنې لاندې ونیول شي څو دمحکومیت له مودې وروسته د ګټور او سالم غړي په توګه ټولنې ته وړاندې او خپل ژوند د ټولنې له نورو غړو سره په سالمه فضاکې ترسره کړي. خو برعکس که چیرې ددغو اشخاصو په وړاندې له بې پروائي نه کارواخستل شي په شخصیت يې تیري وشي او ددوی په مقابل کې بې حرمتي شي، په ربښتیا به په راتلونکې

کې ناوړه پیښې به ورته رامنځته کړي. او په پایله کې منفی کړه یې پرته له دې چې له منځه یوسي، پیاوړی به یې کړي.

دپورته مطالبو په پام کې نیولو سره، کله چې یو ماشوم د تخلف په تور تر توقیف لاندې نیول کیږي او یا دا چې دواکمنې محکمې پر حکم بندي خپل د بند یا توقیف موده تیروي، یواځې د قانون په حکم او د محکمې په تجویز، د آزادۍ په سلب محکوم شخص، له ټول مصؤنیت څخه برخمن دی او هیڅوک د توقیف او دجیل د چارواکو په ګډون دده پر شخصیت د تیری حق نلري او باید بې حرمتي یې ونشي او پر حیثیت یې تیری او تجاوز صورت ونه مومي. که چیرې یو څوک توقیف شوی وي په حقیقت کې دده د آزادۍ مؤقت سلب چې یو احتیاطي تدبیر دی، د تحقیق د بشپړیدو په خاطر نیول شوی او لانشي تثبیتیدای چې آیا محکوم شخص به تر اتهام لاندې راشي یا دا چې له محکمې نه به برائت حاصل کړي. نو ځکه بایدد عادي شخص په څیر ورسره تلنه او چلند وشي، که څه هم شخص د قانون په حکم نیول شوی، توقیف او بندي شوې هم وي، هر ډول سپکاوی، توهین او مجازات د هغه په برخه کې منع دی. (۵۷)

و - له کورنۍ او دوستانو سره د اړیکو لرلو حق:

له هغو مجازاتو څخه چې بندي یې د بند په موده کې زغمي، د بند په اوږدو کې ډده له کورنۍ او خپلوانو سره د دایمي اړیکو نشتوالی دی. دملګرو ملتونو د اصولو او پریکړو په اساس له آزادۍ څخه د محرومو تنکیو ځوانانو د ساتنې لپاره د توقیف خانې څخه له نورو خلکو سره اړیکې لرل ددوې څرګند انساني حق دی او د بیلارو ماشومانو د خلاصون لپاره ضروري ګڼل کیږي، ددغو قاعدو سره سم، توقیف شویو، بیلارو ماشومانو ته باید چې اجازه ورکړ شي چې له خپلو کورونو، خپلوانو، ملګرو، د سازمانونو له استازیو سره وغږیږي او یا مکاتبه وکړي. هر متهم ماشوم حق لري چې له هر چا سره چې غواړي وګوري، کتنه اصولاً په هره اوونۍ کې یو ځلي او په میاشت کې له یو ځلي نه کم نه وي، په ټولو کتنو کې باید د کوچنیانو د محرمیت حق رعایت شي. همدارنګه ماشومانوته باید اجازه ورکړ شي چې دخپلو خپلوانو او کورنۍ د غړو د کتنې لپاره او د تعلیمي او تربیتي او حرفه ای دلایلو په خاطر د ځانګړې اجازې په حاصلولو سره او یا د نورو دلایلو له املې لیدنه او کتنه وکړي،

برسیره پر دی هر توقیف شوی ماشوم پرته له دې چې قانوناً محدود شوی وی، باید د لیکلې مفاهمې حق یا په کوم ځای کې چې مناسب وی د تیلفون له لارې کم ترکمه په اوونۍ کې دوه ځلې له خپل ټاکلی شخص سره مکاتبه او مفاهمه وکړی، چې دغه مطلب د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون د (۳۷) مادې د (ج) په برخه کې په دې توګه بیان شویده : ((ماشوم له استثنائی موارودو پرته حق لری د لیک او کتنې له لارې له خپلی کورنۍ سره په تماس کې وی.))

ز- دتوقیف پر مهال حقوقی سلامشوروته د رسیدو حق :

په دې باره کې د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون د(۳۷) مادې د (د) په بند کې راغلی دی : ((له آزادۍ نه محروم هر ماشوم حق لری په حقوقی مشورو او نور او مرستو لاسبری پیدا کړی. همدارنګه ددی حق لری د محکمی او نورو خپلواکو واکمنو مقاماتو په وړاندی له آزادۍ څخه د خپل محرومیت د قانونی توپ په باب اعتراض وکړی او حق لری چې ددوي په اړه چټک تصمیم و نیول شی.))

د نړیوالو په ټولو قوانینو په تیره بیاد ملګرو ملتونوپه معیارونو کې دتنکیو ځوانانو لپاره د عدالت په اړه د (بیجینګ) په اصولو کې راغلی چې : ((د تنکیو ځوانانو او ماشومانو محکمې او تحقیقی پلاوي باید د لومړیتوب لوړ حق چټک بهیر (بیلارو ماشومانو) محکمی ته ورکړی تر څو د توقیف دمودی ممکن حد تاء مین او تضمین شی)) همدارنګه د نوموړی قواعدو (په الف) فقره کې (د بندی تنکی ځوانان یا محکمی ته سترګی په لارې ځوانان) ترسرلیک لاندی وایې چې : ((ماشومان او تنکی ځوانان باید دقانونی مشوری حق ولري او باید وکولای شی چې په هغه ځای کې چې ممکن وی د وړیا قانونی مرستی غوښتنه وکړي. او په پرله پسی دایمی ډول له خپلو قانونی سلاکارانو سره مفاهمه وکړی. د غوندې او محرمیت شرایط باید ددغه راز مفاهمی لپاره تاء مین او تضمین شی. (۵۸)

۳- له بیلارو کوچنیانو سره د پولیسو د چلند څرنګوالی :

د پولیسو د ارګانونو چارواکی (پولیس، ژاندارم او د پولیسو ارګانونو پوری اړوند نور کار کوونکی په ټولنه کې د نظم او ارامی د ساتنې، د جرم د کشف، دسرغړوونکو د نیولو او دجرایمو له پیښیدو څخه د مخنیوی، مسئول دي. هغوی غالباً دپیښو د پیښیدو څخه مخکی د خطرناکو حالتونو له پیښیدو څخه مخکی خبریږی اوباید هغه اقدامات وکړی

کوم چې دجرایمونـــښنانو د موندلو او دتورن شخص له تیښتې څخه دمخنیوی لپاره ضروری دی. څرنګه چې ماشومان او تنکی ځوانان حساسه طبع لری او ډیر ژر له یوی پیښې اغیزمن کیږی ځکه نو د خپلو کړنو ناوړه عواقب نشی درک کولای او د پولیسی مقاماتو لومړنی چلند د هغوي په روحیه باندی ژوره اغیزه کوي که چیری د پولیسو چارواکی له هغوی سره په مهربانی برخورد وکړی، په سړه سینه او درناوی هغوی خپلی تیروتنې ته متوجه کړی او د قوانینو او اجتماعی مقرراتود رعایتولو لازمی شرایط ورته بیان کړی، ماشومان او تنکی ځوانان به له خپلو منفی عملونو څخه پښیمانی څرګنده کړی. خو بر عکس که له سپکاوی اوتحقیر څخه کار اخلی په حقیقت کی د غچ اخستنی او سرکشی حس به یې پیاوړی شی او دوی به د ټولنی د خلکو په وړاندې به بد بینه شی.

دمجرمینو د اصلاح او ددوی بی لاریتوب څخه د مخنیوي په اړه د م م دسازمان دوهمه کنګره دې موضوع ته اشاره کوی چی ځانګړي سازمانونه د بیلارو نجونو مسائلو ته د رسیدو په باب د بنځو له پولیسو څخه د اړتیا پرمهال ګټه واخلی.

د ملګرو ملتونو سازمان د بیلارو ماشومانو په اړه په جزایې بهیر کی د پولیسو وندې ته ځانګړې پاملرنه کړیده او داسی لیکی : « د ماشومانو او تنکیو ځوانانو له قضایې دستګاه سره د برخورد لومړنی ارګان د پولیسوارګان دی چی خورا زیات اهمیت لری پولیس بایدپه لومړی پړاو کی له دوی سره په شعوری او انسانی توګه رفتار وکړی(۵۹)

دبیجنګ د مقرراتو د ۱۲ مادې په لومړی بند کی د ماشومانو د محکمې په ځایونو کی د ځوانانو او تنکیو ځوانانو د پولیسو د ګارد په جوړولو او د پولیسو د ماء مورینو د تخصص او مهارت پر ضرورت ټینګار شویدی. (۶۰)

په پای کی باید وویل شی چی د پلټنې او تحقیقاتو په پړاو کی هیڅ یو ماشوم باید تر ځوروني یا نورو بیرحمانه او انسانی ضد فشارونو لاندې ونه نیول شی. په بشپړ ډول ماشوم ته هر راز بدنی فشار ، ترخي خبري ، ځورونه ، بد رد ویل سم او انسانی کار نه دي، دا کار د مقدماتی تحقیقاتو په مرحله کی او د جرم په کشف کی ځانګړی ارزښت لری ځکه که چیرې په دې پړاوکي له کوچنیانو سره له انسانی کرامت نه لیری او ظالمانه چلند وشی د ماشوم په روحیه باندی ناوړه اغیزه کوی، په نتیجه کی له پولیس او اړوندو ارګانونوڅخه د ماشوم پر ذهن باندې بده اغیزه اچوی او تر کلونوکلونو پوری د هغه په ذهن کی پاتی

کیږی، او په پای کې نه یواځې د پولیسو د نامه په مقابل کی بلکی د پولیسو د ارګانونو په وړاندی خپلی ناباوری ته دوام ورکوی.

ویلای شو چی دانسانی کرامت، شخصی ارزښت ، بشری حقوقو، ټولنیز دریځ او د احترام له نامه نه داسی جوتیږی چی بشر د لوړ فکری ځواک، د اخلاقی او عقیدوی ارزښت لرونکی دی او پر هغه باندی هر ډول تیری او تجاوز پر انسانی کرامت تیری ګڼل کیږی، چی باید ور څخه ډډه وشی.

پولیس باید له بیلارو ماشومانو او نورو تورنو کسانو سره د پیښو په بهیر کې دغه ټکی په پام کی ونیسی:

- له بیلارو ماشومانو سره دچال چلند پر مهال د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون د موادو له لارښوونو څخه استفاده وکړې، او په تطبیق کې یې عملی ګام واخلی.
- د قانون له متهمینو او متخلفینو سره دې ناوړه رویه ونه کړی، د هغوی حق، عزت او انسانی کرامت ته دې احترام وکړی.
- پولیس مکلف دی چی د خلکو د قانونی او بشری حقوقو په ساتنې سره د توپیر او د توپیر د ډولونو، بی اتفاقی، نفاق، دورونو قومونو ترمنځ د کورنی جګړو او هر ډول تخریباتو پر ضد اقدام وکړی.
- د پولیس د مداخلې او اقدام پر مهال لومړی هغه څوک چې متهم شمیرل کیږی هغه ته د خپلی مداخلې او اقدام علت پوره توضیح او بیان کړی.
- پولیس مکلف دی د رسمی دندې په سرته رسولو کی شخصی چارې سره ښلې او جلا کړی.
- پولیس باید د پیښو په بهیر کې لکه تلاشی او داسی نوری پیښی، ددغې لیکنې له مندرجو موادو سره سم دشیانو ثبت او ضبط دې تر اجرا لاندې ونیسی او له هر ډول غیر قانونی کارڅخه دې ډډه وکړی.
- پولیس د مداخلې پر مهال یا د پولیسی پیښو پر مهال باید آرام وي، ناآرام دی نه وی او فکری آرامتیا دې له لاسه نه ورکوی او باید د مقابل لوري دتحریک او تهدید په واسطه دې نه په غوصه کیږی او نه دې ځان بایلی.
- له هر ډول بدی خبری او سپکاوی څخه په بشپړ ډول ډډه وکړی.

- ټول خلک په تیره بیا ماشومان له پولیسونه دا تمه لري چې د امنیت په تاء مین او د سم قانونی اجراتو او حیاتی معاملو برسیره، له هغوی سره مرسته او همکاری وکړي.
- پولیس بایدله ماشومانو سره د یو مهربان او زړه سوانده پلار په توګه چلند وکړي او له ښه سلوک او معقول، نیک رفتار څخه دې کار واخلي، اهانت او سپکاوی دې نه کوی او تل دې د بیلارو ماشومانو په بیا روزنه باندې فکر وکړي او له هر راز جسمی آزار څخه دی ځان وساتی.
- پولیس باید د بیلارو نجونو سره په چلند کی د موضوع حساسیت په پام کی ونیسی او په دی باب دې د ښځینه پولیسو څخه کار واخلي.
- پولیس باید د بیلارو نجونو د جلبولو پر مهال که چیری ښځینه پولیسه موجوده نه وی د سیمې له یو تن ژمن سپین ږیری څخه استفاده وکړی تر څو د هغی په مرسته د وروستیو اجراتو لپاره، د پولیسو اداری سره مرسته وشی.
- که چیری بیلاره نجونې د ځیرنې په بهیر کی د ستونزو له کبله فوراً ددوی استوګنځیوته وانه استول شی د هغوی د ساتنی لپاره دې پولیس باید په مؤقته توګه هغوی ښځینه توقیف ځایونوته او یا یو ځایې امین شخص ته وسپارل شی.
- د کورنۍ غړیوته دښځینه قشر د سپارلو پر مهال پولیس باید د رسمی سند له اخستلو وروسته هغوی خپلوانو ته وسپاری او که چیری نومورې ښځینه متهمه خپلوان و نه لری هغه دی بیا رسماً خیریه موسسی او یا دی د کوچنیو نجونو د بیا روزنې مرکز ته وسپاری.
- پولیس باید ټول مناسب امنیتی تدبیرونه ونیسی تر څو په هر نیت او هره ښه چې وی د ماشومانو د تښتولو، خرڅلاو او یا قاچاق مخه ونیول شی.
- پولیس باید د ماشومانو فحاشی، جنسی غیر انسانی اعمالو او استثماری شاقه کارونو مخه ونیسی.

۴ – له کوچنیانو سره د ترافیک پولیس چال چلند :

ماشومان د ترافیک پولیس له ترافیکی پیښو څخه په مخنیوی کی خپل لومړنی مرستندویان ګڼي او تل له هغوی څخه د مرستی او لارښوونی هیله لری. په حقیقت کی د ترافیکو پولیس لکه نور امنیتی ارګانونه مهمی ټولنیزی دندې په غاړه لری او ټول خلک

په تیره بیا کوچنیان هیله لري چې ددوی لړزنده او کمزوري لاس ونیسي او په صبر او زغم سره لکه یو مهربانه پلار هغوی له ترافیکي خطرونو څخه وژغوري. د پولیسو یونیفورم په تیره بیا د ترافیکو د پولیسو د سپینې خولې علامه یا نښه د امنیت، صبر او زغم رمز انځوروي. ترافیک پولیس ډیر په زغم سره خپلې انساني او ایماني دندې په هر ډول سختو شرایطو کې په ټولنه کې تر سره کوي او شپه او ورځ دخلکو په خدمت کې وي. دټولنې دغه خدمتګاران له خپلې مسلکي پوهې په کار اخیستلو سره د نقلیه وسایطو له خاوندانو او خلکو سره نه یوازې عملاً مرسته کوي، بلکې په ځانګړو ځایونو کې د پوسترونو، ترافیکي علامو، لوحو او نورو نشراتي موادو په نصبولو سره هغوی د ترافیکي پیښو له خطرونو څخه خبروي.

د ترافیکو دپولیسو دندې خلکوته د خدمت په لاره کې زیاتې دي چې له هغه جملې نه مهمې په دې ډول دي:

- د ترافیکو پولیس باید له کوچنیانو سره په صبر او زغم چال چلند وکړي او ماشومان له ترافیکي خطرونو او پیښو څخه وژغوري.
- د ترافیکو پولیس باید ماشومانو ته د ترافیکي پیښو څخه د خبرتیا په اړه په ښوونځیو یا نورو تفریحي ځایونو کې کورسونه او نندارتونونه جوړ کړي او هغوی تل تر تله له ترافیکي علامو او اشارو سره بلد او اشناکړي.
- د ترافیکو پولیس باید د ټکر او ترافیکي پیښو مصیبت ځپلو ماشومانو سره لازمه مرسته وکړي، ټپي ماشومان له لومړنیو مرستو وروسته ډیر ژر روغتون ته ولیږدوي.
- د ترافیکوپولیس له هر ډول طرفداري پرته له ترافیکي مقرراتو سره سم د نقلیه وسایطو سرغړوونکي جریمه او مجازات کړي څو په راتلونکي کې دترافیکي سرغړونو د تکرار مخه ونیول شي.
- د ترافیکوپولیس له معیوبو ماشومانو او د عقلي او عصبي ناروغانو سره په چلند کې په زړه سوي سره رفتار وکړي او دغه راز خلک روغتونونوته ولیږي.
- د ترافیکوپولیس باید واړه ماشومان چې په لویو لارو او عامه ځایونو کې پرې ښودل شوي دي او موندل کیږي د ساتنې لپاره هغوی روغتون، زیږنستون، مرستون او د کورنیو د لارښودنو ټولنوته رسماً وسپاري. په هغو سیمو کې چې دغه اسانتیاوې نه وي دغایې خلکو په سلامشوره دې ماشوم یو امین شخص ته په امانتدول د سرپرستي

لپاره وسپاری او له هغه نه دې تعهد واخلی تر څو د هغوی دوالدینو د پیدا کیدو پر وخت کی ماشوم بیرته مور او پلار ته وسپاری.

- د ترافیکوپولیس وظیفه لري چی د ورک شوی ماشوم په موندلو سره هغه د پولیسو اداري ته بوځی او د ماشومانو د روحیي په پام کی نیولو سره په مهربانی او نرمی سره د هغوی شهرت ولټوی او ثبت یې کړی.
- که چیری موندل شوی کوچنی ونشی کولای خپل شهرت بیان کړی د ترافیکو پولیس باید هغه ډیر ژر خپل مور او پلارته تسلیم او که چیری د ماشوم خپلوان پیدا نشی هغه دې د وروستنی ساتنی او څارنی لپاره رسماً خیریه مؤسسوته وسپاری، او که چیری خیریه مؤسسو د ماشوم له ساتنی ډډه وکړه هغه دې بیا د خپلوانو تر پیداکیدو پوری د هغه ځای امین وګړی او د ښار یا کلی سپین ږیری ته وسپاری.

څلورم فصل

د ماشوم د حقوقو په ساتنه کې د روغتیائی ارګانونو ونډه

دملګرو ملتونو داسنادو او مدارکو په څیړلو او لوستلو سره پوهیږو چی دغه سازمان له جوړیدو راهیسی تر اوسه پورې توانیدلی دی د ماشوم د حقوقو د تاء مین او اعادې په اړه زیات پریکړه لیکونه او اسناد برابر کړی او غړي دولتونه یې د کوچنیانو د اړتیاو د تضمین په اړه ژمن کړیدی. ځینی دغه اسناد الزامی ارخ او ځینی نورېې بیا یواځی ارشادی خواوی لری.

د ملګرو ملتونو یو الزامی سند، د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون د مندرجو موادو رعایت دی چی د نړی ډیر هیوادونه هغه تصویب کړی او د موادو رعایت یې د یو رسمی سند او قانونی حکم په څیر منلی دی.

څرګنده ده چی د ملګرو ملتونو سازمان د جوړیدو له هماغه پیل څخه حقوقی مسئلو او د کوچنیانو د ژوند څرنګوالی ته زیاته پاملرنه کړیده او دماشومانو د هر اړخیز شخصیت دو دې په باب یې اغیزمنې پریکړی سرته رسولی او لازم عملی ګامونه یې اوچت کړیدی.

د ماشومانو دحقوقو د ساتنې او اعادې په باره کې ددغه سازمان لومړنی اقدام ماشومانو یا یونیسف (UNICEF) لپاره د ملګرو ملتونو د صندوق جوړیدل دی چې په رښتیا سره یې په اساسی هدفونو کې دماشومانو اړتیاووته پکې زیاته پاملرنه شویده.

د پام وړ ده، کله چې په ۱۹۴۵ کال کې دماشوم د حقوقو نړیواله اعلامیه تصویب شوه، وروسته له هغه یو کنوانسیون ته چې د کوچنی حقونو ته اجرائی واک او ځواک ورکړی، سخته اړتیا احساس شوه تر دې چې په ۱۹۸۹ م کال کې یو ځانګړی مفصل کنوانسیون ملګرو ملتونو تصویب کړ چې د تصویبوونکو د زیاتوالی او د غړو هیوادونو د شمیر له مخې یې په لړه موده کې د م م د سازمان د بشر د حقوقو د ټولو کنوانسیونونو ریکارد مات کړ.

د نړیوالی اعلامیې په سریزه او د دنړۍ د مشرانو د غونډې په کړنلاره کې چې د ۱۹۹۰ م کال دسپتامبر په ۲۹ نیټه د م م په مقر کې جوړه شوې وه راغلی دی چې دغه غونډه د هغو ماشومانو لپاره چې د نړۍ په تاریخ کې د مشرانو ستره غونډه وه، په یوه ډیره حساسه شیبه کې ددغه سازمان په مقر کې جوړ یږي، په دغه غونډه کې چې د ۷۱ جمهورو رییسانو او صدراعظمانو په مشرۍ او د وزیرانو په کچه د ۸۸ کارمندانو په ګډون جوړه شوه د ماشوم د ژوندانه د بقاء، ودې او ساتنې په باره کې یوه بټیره اعلامیه او ددغه اعلامیې د اجراء کړنلاره د رایې و په اتفاق تصویب کړه.

له اړنګه پرته چې نړیواله اعلامیه او د ماشوم د حقوقو په اړه د مشرانو د غونډې کړنلاره تاریخی اسناد او مطالب لري، ددې اعلامیې مواد هماغه مطالب دي چې د ۱۹۸۹ کال د نوامبر په ۲۰ مه نیټه د ملګرو ملتونو د عمومی غونډې په واسطه تصویب شویدی. په واقعیت کې دنړۍ مشرانو چې دماشوم د حقوقو کنوانسیون تصویب کړ، ددغه حقوقو د رعایت او د اهدافو د تحقیق په باب لومړنی نړیوال اقدام شمیرل کیږي.

د ماشوم د حقوقو کنوانسیون ته په پاملرنې سره د ماشوم روغتیائی ځارنو او ساتنې په باره کې دا کنوانسیون اغیزمن او ګټور مطالب لري. ددې کنوانسیون په محتواکې په وضاحت سره د کوچنیانو روغتیائی موضوعګانو ته پام شویدی او په دې ټکی ټینګار شوی چې انسان د ماشومتوب په دوران کې د ځانګړو ځارنو او مرستو مستحق دي، ځکه ماشوم له زیږیدو مخکې او وروسته د جسمی او فکری ودې د نارلو له امله خاصو

قانونی او صحی څارنو ته اړتیا لري. په دغه کنوانسیون کی د ماشوم د ودی ټول اړخونه شامل دي او د ماشوم د روانشناسی له اصولو او قوانینو سره بشپړ تړاو لری.
دادی دهیواد د روغتیائی چارواکو د زیاتو معلوماتو لپاره د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون مواد د کوچنیانو د روغتیا او سلامتیا د حق په اړه تر څیړنې لاندې نیسو تر څو چی د چارو مسؤولین هغه مطالعه او دهغه په رعایت کی خپل انسانی او ایمانی مسؤلیت ترسره کاندی.

۱ – د روغتیا په اړه د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون مواد :

د نورو حقوقو په لړ کی چی ماشومان یې د زوندانه د دوام لپاره لري یو هم د ماشوم د روغتیااو سلامتیا حق دی چی په نړیوالو ټرونونو کی له هغې جملی په اقتصادی، ټولنیز، فرهنگی حقوقو او د ماشوم د حقوقو په کنوانسیون یا میثاق کی پرې زیات ټینګار شویدی او غړی دولتونه یې دهغه په رعایت کولو ژمن ګڼلی دي.
د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون په ۲۴ ماده کی دغه کنوانسیون ته ژمن دولتونه مکلف کړی چې د ماشوم روغیتا ساتنې ته ځانګړی پاملرنه وکړی.
برسیره پر دی ددې د کنوانسیون په ۲ او ۲۳ مادو کی هم د ماشوم د روغتیائی چارو په برخه کی ځرګندوني شوی اود ماشوم ددی حقوقو د مراعاتولو په اړه ځینی مطالب بیان شوی دی.
د ماشوم د حقوقو د ۲۴ مادې په لومړی فقره کی راغلي دی : کنوانسیون ته ژمن هیوادونه له روغتیائی لوړو معیارونو او د ناروغیو درملنې د اسانتیاو او د بیا روغتیا په برخه کی د برخمن کیدو لپاره د ماشوم حقونه په رسمیت پیژني. دې کنوانسیون ته ژمن هیوادونه هڅه کوی څو هیڅ ماشوم له دغه راز خدمتونو څخه بی برخې پاتې نشی. همداشان د ۲۴ مادې په دوهمه فقره کې وایې :
دغه کنوانسیون ته ژمن هیوادونه د ماشوم دروغتیا په اړه خپلی دندې بایدپه پوره صداقت تعقیب کړی او په دی برخه کی دا لاندې تدبیرونه نیسی:
الف – د ماشومانو اونیو پیدا شویو کوچنیانو د مرګو میر په اندازه کی کموالی (د یونیسف دنوې احصایې له مخې اوس په افغانستان کی له پنځو ماشومانو څخه یو یې د دزیږیدو له وخته تر پنځه کلنی پورې له مینځه ځی).

ب – ټولو کوچنیانوته د لاړمو طبی مرستو او روغتیایي څارنو برابرول اود لومړنیو روغتیائی څارنو په پراختیا باندی ټینګار کول.

ج – دسوء تغذی ناروغیو په وړاندی مبارزه ، له هغی ډلی د قوی خوړو او د څښاک د پاکو اوبو له لارې د لومړیو روغتیائی څارنو په چوکاټ کی مبارزه اود چاپیریال له ککړتیا څخه پیدا شویو خطرونه او ګوابنونو ته پام ساتل.

د – میندو ته له زیږیدنی مخکی او وروسته د روغتیائی خدمتونو او څارنو برابرول.

ه – ددې تضمین چی ټولې ټولنیزی ډلې، په تیره بیا مور او پلار او ماشومان ته د روغتیا په اړه معلومات او د ماشوم د روغتیا او خوړو په باب د لومړنیو زده کړو څخه په کار اخیستو کی د مرستی امکانات او د مور د شیدو په امتیاز، پاکی، محیطی روغتیا ساتنې او له ټکرونوڅخه د مخنیوی په اړه لاسبری پیدا کول.

و – د لومړنیو وقایوی روغتیا یې څارنو پراختیا، زده کړه او خدمات او والدینو ته د کورنی لارښود خدمتونو چمتو کول.

بر سیره په دې،د ۲۴ مادې په(۳) فقره کی داسی لولو: دې کنوانسیون ته ژمن هیواد ونه د ماشوم روغتیا په اړه ټول هغه پخوانی او زاړه لارې چارې اوتدبیرونو ته د پای ټکی کیږدی کوم چی هغه د اغیزمن روغتیا په وړاندی خنډ دی. ددغه کنوانسیون د ۲۴ مادې په (۴)فقره کی د ماشومانو روغتیائی څارنو موضوعاتو په هکله دا سې راغلی دی : دې کنوانسیون ته ژمن هیوادونه دا منی چی د حقوقو د بشپړ تحقق او تدریجی لاسبری دپاره دغه مادې ته پراختیا ورکړ شی ترڅو نړیواله همکاری را جلب کړی. په دې برخه کی به دودی په حال هیوادو اړتیاووته ځانګړې پاملرنه وشی.

د یادونې وړ ده چی د تیرو دوامداره جګړو په بهیر کی په سلګونو زره افغان ماشومان معیوب او معلول شوی او له کاروباره لویدلې دی او په نهیلی سره په ټولنه کې ژوند کوی. له کومه ځایه چی هر معلول او معیوب ماشومان حق لري چی د یو روغ او سالم کوچنی په څیر د ژوند له ټولو اړخونو څخه خوند واخلی، نو ځکه لازمه ده چی د روغتیا ساتنې او معالجوی برخو او نورو خبرتیایي روغتیایي پروګرامونو له لاری دغه ماشومان خپل ژوند ته هیله من شی څو دوی وانګیری چی دوی د ټولنې دمنني وړ او اړتیاوې یې دټولنې له خوا پیژندل شویدی. دیوی ښې ټولنې شتون په دې پوری اړه لری چی ددغه راز ماشومانو له

ستونزو څخه باخبره وی او له هغو څخه په هر ځای او کار کې ملاتړ وکړي او دهغو دمعلولیت او وروسته پاتی کیدو په لری والی کې هڅه وکړي چی په دې برخه کی د ماشوم په اړه د روغتیائی اقداماتو ونډه د پاملرنی وړ ده. دنړی د روغتیائی سازمان د څوګندونو له مخې معلولیت عبارت له هرډول محدودیت یا کمښت څخه دی چی له یوې پیښې را پیدا شوی وي او د فعالیت په سرته رسولو کی دقابلیت له نظره څنګه چی یو عادی انسان یو کار سرته رسوي هغه سرته ونه رسولای شی. (۴۱)

دایو منل شوی حقیقت دی چی، معلول ماشوم مرستې ته اړتیا لری، ځکه هغوی په سختو شرایطو کی ژوند کوی او تل له نهیلی سره مخامخ دي. په دې اشخاصو کی د حقارت احساس زیاتره له دی ځایه پیدا کیږی چی فکر کوی په ټولنه کې کم ارزښته دي په دې اشخاصو کی د ځان کم ګڼلو عقده له هغه ځایه پیدا کیږی چی خپل د بری اندازه د خپل له برتری غوښتنې له اندازه سره وړ نه ګڼی، لنډه دا چی په معلولو اشخاصو کی د ځان کم لیدلو احساس په لاندې ډول دي:

- په معلول شخص کی د حقارت د احساس پیداکیدل.
- تل د یو قربانی شوی فرد په توګه ځان پیژندل.
- اجتماعی او فرهنګی بیګانه توب.
- له ټولو نه د مرستې احساس او د ډول ډول غوښتنو مطرح کول.
- نه همکاری، غوسه او بد بینی.

څرنګه چې لیدل کیږي د معیوبینو ژوند له ځانګړو محدودیتونو سره مخ دی نو ځکه د ماشوم د حقوقو په کنوانسیون کی د معیوبو کوچنیانو د حقوقو په باب د روغتیائی او نورو مسایلو له نظره په (۲۳) ماده کی دغه مطلبونو ته ځای ورکړ شوی دی. د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون په ۲۳ مادې په (۱) فقره کی راغلی دی: دغه کنوانسیون ته ژمن هیوادونه دا منلې ده چی هغه کوچنی چی په جسمی او فکری ډول معیوب دي باید ښه او پتمن ژوند ولري او په داسی شرایطو کې ژوند وکړی چی دهغی عزت خوندي وي، په ځان باندې یې د ډاډمنی چانس وده وکړی او د دودی له پاره په ټولنیز ژوند کی فعاله ونډه اخیستنه آسانه شی. د۲۳ مادې په (۲) فقره کی بیان شویده چې: دغه کنوانسیون ته ژمن هیوادونه له ځانګړو ځارنو څخه دبرخمن کیدو لپاره دمعیوب ماشوم حق په رسمیت پیژنی. او دمنابعو دشتون په صورت کې او دغوښتنې شویو مرستو برابرول چی دماشوم

له وضعې سره وړ وی او د والدینو او یا دهغو له شرایطو سره چی دماشوم دخارنی مسئولیت په غاړه لری، برابروی تشویق او تضمین کوي.

د ۲۳ مادی په (۳) فقره کی داسي ویل شوي : دمعیوب ماشوم دخانګړو اړتیاوو په پوهیدولو سره ددغه مادي د (۲) فقرې سره سم برابر شوې مرسته باید دمور اوپلار یا دهغو کسانو دمالی ګټو په پام کی نیولو سره چی د ماشوم څارنه کوی،تر کومه ځایه چی ممکن دی وړیا صورت ومومی. او داسی تنظیم شی څو په ښوونه او روزنه ، حرفوی زده کړه ، روغتیائی خدمتونو ،دبیارغاونی په خدمتونو ، کار موندلو ، تفریح او استراحت باندې دمعیوب ماشوم اغیزمن لاسبری تاء مین کړی،او ماشوم ته دفر هنګی او معنوی لوړتیا په ګډون داجتماعی او فردی تکامل دتوافق توان وبخښی.

د (۲۳) مادې په (۴) فقره کی داسی بیان شوی چی : دغه کنوانسیون ته ژمن هیوادونه دمعیوبو ماشومانو دجسمی او روحی ، روغتیائی، و قایوی او معالجوی څارونو په ډګر کی دمناسبو اطلاعاتو تبادله ، دښوونی او روزنی ،مسلکی خدماتو پوری دمر بوطو اطلاعاتو دبرابرولو او خپرونو په ګډون ، کنوانسیون ته دژمنو هیوادونو دظرفیتونو او مهارتونو دلوړتیا په خاطر دتعاون روحیه او نړیواله همکاری ته پراختیا ورکو ي . په دې برخه کی دپرمختیا ئی هیوادونو اړتیاوو ته ځانګړی پاملرنه کیږی.

۲ - ډاکتر څوک دی؟

ډاکتر هغه څوک دی چی دطبابت دنده یا مسلک یې غوره کړی وی او له دې لارې څخه خپل (هنر او پوهه) دخلکو په خدمت کی په کار اچوی او دناروغانو په روغتیا ،پرستاری او درملنه کی له توپیر او طرفداری پرته هڅه او هاند وکړی.

په حقیقت کی داکتر دوی دندې لری، یوه یې د خلکو د روغتیاساتنه (وقایه) او بله یې د لاسه تللی سلامتیا بیا لاس ته راوړل یا (معالجه) ده. داکتر ددې کار لپاره هم (پوهې) ته اړتیا لری او هم (عمل) ته. ددغي خبری مانا دا ده چی داکتر یا طبیب د (پوهې) او (فن) په لرلو سربیره (هنر) ته هم اړتیا لری چی هغه لکه ټولو هنرونو غوندې د طبابت له مسلک سره د شخصی مینی او محبت له اندازې سره او لري. خو په عمل کی ډاکتر یا طبیب (کله کله) د ناروغ درملنه کوی او تل هغه تسکینوی، ولی ناروغ ته باید تل آرامی و بخښی لکه چی یو شاعر په دې برخه کی وائی :

این طبیبان گاه گاهی درد را درمان کنند
بیشتر تسکین درد و رنج جسم و جان کنند
لیک می باید که با یک جمله آرام بخش
یک جهان دشواری بیمار را آسان کنند.

په هر حال، د نړۍ روغتیایي سازمان (W.H.O) داکتر یا طبیب داسی تعریف کړ یدی : (طبیب هغه څو ک دی چی دښوونځی دوره یې په بری سره ترسره کړې وې اود طبی علومو زده کړه یې په یو طبی پوهنځی یا د یوهیواد په یو پوهنتون کی چی هلته اوسیږی سرته رسولی وي او د خپلواک طبابت په مسلک کی یې د کار او دندی اجازه له قیمومیت یا نظارت یرته ترلاسه کړې وي. (۲۲)

نن ورځ د طبابت له مسلک څخه موخه یوائی د ناروغانو درمل چی معالجوی طبابت نومیږی نه دی، بلکی په دغه مسلک کی (وقایوی طب) یا په لومړۍ دوره کی د ناروغیو کشف یا د علایمو له پیدایښت نه مخکی تشخیص هم شاملیږی، د طب ددغه دوو څانګو اهمیت او ارزښت خورا زیات دي او هر یو یې په خپل وار سره د ناروغیو په لرې کولو کی مهم او مساوی ونده لري. وقایوی طب په وروستیو کلونوکې چی عمومی بیمه په ډیرو هیوادونو کی دود شویده، زیات اهمیت پیدا کړیدی.

له اړنګه پرته چی داکتر یو ژمن او مسؤل انسان دی چی له خپل بصیرت یعنی پوهی مسلک او هنر څخه د خلکو د خدمت لپاره کار اخلی او له هر ډول ناروغۍ سره مبارزه کوی او د خلکو د باور او اعتماد راجلبولو له لارې هغوی د جسمی او روحی ناروغیو سره د مبارزې په لاره کی هڅوی. کله چی یو څوک خپل ځان د ناروغ په نامه منی، د مرستې هیله لری. داکتر باید ټول فرصتونه د ناروغ په وړاک کی ورکړی او هغه ته د درد د تسکین په مهال، ډاډینه ورکړی، په تیره بیا د درمل او تشخیص په وخت کی. (۲۳)

امریکایي داکتر جوزف فلچر (Flecher) د(داکتر او اخلاق) په کتاب کی په دې آند دی چی : د داکتر یوه ځانګړتیا له بشری نړۍ سره د ده مینه او علاقه او انسان دوستی ده هغه څوک چی د اخلاقی اړخونو په تحلیل او تجزیه پوهیږی ، هغه دناروغ څارنې ته له

معالجي او درمل نه زيا ته علاقه نښيي ، دهر داکتر اخلاقي دنده دا ده چي دخپل ناروغ دجسماني اړتيا وو پر تائمين او درمل سر بيره ، دهغه روحي غو نښتنو ، دفکر څرنګوالي ، شخصيت او په بشپړ ډول دهغه ټولو حقوقو ته ديو انسان له نظره احترام قايل شي او آن وروستي برخه (وقايه) پر درملنه باندي مقدم وشميري . (۲۴)

داکتر ديويد ورنر (David Werner) يو داسي داکتر دي چې په بيلا بيلو هيوادونو کي يې زيات کار کړيدی او خپلی تجر بی يې د(طبی مرستو) په کتاب کی دهغي ډلی په اختيار کی ايښی دي چې دلاتينی امريکا دروغتيايې څارنو په شبکو کی کار کاوه . هغه به دکار په بهير کی روغتيا يې کار کوونکو ته داسی سپارښتنه کول : مهربان اوسی ! يوه خوږه خبره (دموسکا او خندا) دناروغ پر اوږه لاس ايښودل ، يا داسی نور شيان چې په ناروغ باندی ستاسی پاملرنه نښيي ، ستاسی له بل هر کار نه ، زيات ارزښت لری . ناروغان خپل وګڼئ ! آن کله چې بيړه لری يا انديښمن ياست ، هڅه وکړی چی دنورو احساسات او اړتيا وی په ياد ولری ، تل له ځانه وپوښتئی چی که چيری دغه کس زما دکورنۍ غړی وای ما به څه کړی وای ؟؟

سر کال د (سلامتۍ مجلې) په يوه کڼه کی (دبستر شوی ناروغ سره دکيناستلو او خبری کولو لارې او چارې) تر سر ليک لاندی يو مطلب دمارک يتملين په قلم داسی ليکل شويدی : طبابت يوازی علم نه دی ، بلکی يو هنر هم دی . رنځورته دسم درمل تجويز دکار پای نه دی ، بلکی څيړنو ښودلی ده چی نور عوامل هم دهغه تر څنګ مهم دي . له هغه جملی څخه دروغتيائی کار کونکو او رنځور تر منځ دښو اړيکو ارزښت ، په روغتيائی څارنو کی اغيزمن دی . په دغه څيزونو کی، عمل ، خبرتيا ، غوږ نيول او مشا هده شامله ده داروا پوهنی عوامل کولای شی تر يوې اندازې پوری درد آرام او غلی کړی . ددې ليکوال په نظر دناروغۍ په تشخيص لاسبر ی دتاريخچې او معاينی څخه په استفادې پيل کيږی که چيری ر نځور په تاسو ډاډه نه وي، زيات معلومات به ستاسې له لاسه ووځي رنځور ښايې خپلې ټولې ستونزې په ډاګه داکتر ته و نه وائی هغه دې موضوع ته اشاره کوی چې : ما پخپله يوه پنځه کلنه نجلۍ وليده چی تبه يې لرله ، هر څومره کوښښ می وکړ تر څو چی دهغې دليل پيدا کړم، مور او پلار يې راته وويل : ښايې کوم تنفسی انتان وی خو له بده مرغه ومی نشو کړای چی د هغې له کتنو څخه څه شی پيداکړم. نجلۍ ډيره عاجزه او شرميدونکې وه، کله چې مې له هغې سره لوبې پيل کړې او د هغې باور او

اعتماد مې لاس ته راوړ، ومې لید چې یو کوچنی بنداژ یې د یوې پښې پر شاوخوا پیچل شویدی. د هغه په پرانیستلو سره ما هغه څه وموندل چې په لټه کې یې وم.
د ډاکټر یتلمین په آند، ناروغ یو نوم لري. دا کوم تشخیص یا نمبر نه دی، د بستر سندروم ختم کړې، رنځورته نږدی شې. اوښکته وګوري. د ناروغ سویې ته ځان ټیټ کړې، د مهربانۍ خبرې لکه : هرکله راشې، اسلام علیکم، ښه یاست او داسې نورې کلمې و کاروی. دده په نظر : سپین چپن د سندروم هغه حالت ته ویل کیږی چې د وینو فشار لوړ وي.
ناروغان زیاتره ماشومان له روغتیائی پرسونل څخه ویریږی، ډاډورکوونکی خبرې او له مهربانۍ ډک کړه وړه پر رنځور باندی ښه اغیزه کوی.
ډاکټر یتلمین ددی مطلب په پای کې دې پایلې ته رسیږی چې افغانستان د بیا رغاونې په اولاره وهی، راځی چې په یاد ولرو چې د روغتیا خدمتونه یواځې پوهه او سوداګری نه بلکې خلکو او ټولنې ته خدمت کول دی.
د یادونې وړ ده چې په ۱۱ میلادی پیړۍ کې د قاهرې د ډاکترانو ریې س ابن رضوان د رنځورانو په وړاندی د ډاکترانو د دندې په باب وایې : « ډاکتر باید آن خپل دښمنان په هغه روحیه، ډاډینه او تیاری سره درمل کړی کوم چې خپل دوستان معالجه کوي. (۲۵)
دا یو واقعیت دی چې مسلمانانو به په صلیبی جګړو کې له صلیبیونوسره روغتیایې، طبی مرستې کولې او د ناروغانو په درملنه کې به یې له هیڅ ډول توپیر نه کار نه اخیست.
وایې چې : یو مسلمان ډاکتر « ثابت » د مخالفې جبهې د ټپیانو مرستې ته تللی ؤ، تر دې پورې چې صلیبی جګړه مارو ښه ګڼله چې په دغه سپیځلې خاوره کې جلدی ناروغی، د معدې دردونه، د زړه ناروغی او نور د مسلمانو داکترانو په واسطه درمل کړی.
بایدپه پام کې ولرو چې د طبی علومو په ساحه کې هغه څه چې د ناروغانو په وړاندی د ډاکترانو د مسئولیتونو په اړه ذکر شویدی نه یواځې په ډاکترانو پورې ټرلې دی بلکې دغه مسئولیتونه ټولو هغو کارکوونکو ته سپارښتنه کوی کوم چې د عامې روغتیا په برخه کې کار او فعالیت کوي.

۳ - دروغتیا اوسلامتیا ارزښت :

روغتیا او سلامتیا که په فردی توګه وی او یا که په ډله ییزه ډول د ژوند له مهمو ارځونو څخه دی، دا یو داسی مسئله ده چی د ماقبل تاریخ له پراوونو تر اوسه پوری بشر دهغه د لاسته راوړلو لپاره هڅه او هاند کوی.

طبی علوم او روغتیا ساتنه او دهغه اړونده څانګی ددغو هڅو پایلې دي او په عین حال کی د سالمی او مترقی ټولنې د رامنځته کولو لپاره یوه وسیله شمیرل کیږی.

معاصر اړوپوهان په دې نظر یووالی لری چی د بدن روغتیا او سلامتیا څرنګوالی د ذهنی ودې او انکشاف او د فرد د شخصیت په څرنګوالی باندې مستقیمه اغیزه لری. او د دغه اصل سموالی چی : « سلیم عقل په روغ بدن کی دی » له پخوا زیات ارزښت پیدا کړی دی.

ښکاره ده چی روغتیا او سلامتیا نه یوازی دانسان دطبیعی او نورمالی ودې ، بلکی طبیعی او نورمال فعالیت ته هم ضروری دی . له روغتیا او سلامتیا څخه بی برخی ماشوم حتی که چیری عملاً ناروغ هم نه وي ، حو په ذهنی او جسمی وده کی به له نورو بیرته پاتې وي .

دکو چنیتوب پر مهال نا روغی دماشوم پر کړووړو باندې اغیزه کوی. دا خبزه ثابته شویده چی سخته او دوامداره نا روغی دماشوم په کړووړو اغیزه لری او په دې ډول دا کار پخپل وار سره دکوچنی دژوند په ټولو اړخونو اغیزه اچوی، او په ښکاره توګه د هغه جسمی فعالیتونه ګډوډوی او شخصیت یې له عادی ودې څخه پاتې کوی.

باید وویل شی چی هغه کوچنی چی د روغتیا او سلامتیا له نعمت څخه برخمن وی نه یوائی په ظاهری لحاظ بلکی دکمیت او کیفیت له مخی هم په کارونو کی بریالي وی.

خو بر عکس ناروغ ماشومان نه یوائي په زړه پورې ظاهر بڼه نلری بلکی انرژی یی هم کم وی ،هغوی تل لږ فعالیت کوی او په عاطفی جنجالونو لټاروي. لنډه دا چی روغتیا او سلامتیا دټولنیز، عاطفی، ذهنی او اقتصادی نقش دلوبولو لپاره یو ضروری شرط دی .

کوچنیان په هغه صورت کی کولای شی پوره فعالیت وکړی او خپلو حقوق څخه برخمن شی چی ځان روغ رمټ احساس کړي او ټولنه هم دهغوی دروغتیا اوسلامتیا په هکله د هر ډول فرصتونو پیدا کولو ته پاملرنه وکړی . ځکه نو ویلای شو چی روغتیا او سلامتیا د هر انسان په تیره بیاد ماشومانو د ژوند لپاره مهم دی چی خدای تعالی هغه دیو نعمت په

ټوګه بشر ته ډالۍ کړی دی. هغه ماشوم چې روغ، رمټ نړۍ ته راځي په سالمو شرایطو کې پیدا کیږي، هغه ددې چمتو والی او ظرفیت لري چې په خورا ښه توګه و روزل شي او لوړو درجوپیراونو ته ورسیږي. په ریښتیا چې د ناروغو ماشومانو په پرستاري او درملنه کې د ډاکترانو دقت او پاملرنه ډیر ارزښت لري. داکتران باید د کوچنیانو په ښه درملنه کې که د غذا له لارې وي او که د تداوي له لارې زیاروباسي اوناروغو کوچنیانو ته پوره پاملرنه وکړي، هر ډاکتر باید د خپل مسلک سپیځلتیا اجر او ثواب په نظر کې ونیسي او پیسې او مادي ګټې له پامه وغورځوي. ناروغ ماشوم هغه څوک دی چې سن یې له ۱۸ کلونه ټیټ وي او جسمي، روحي او اجتماعي پوره آرامي د نه لرلو له امله د درملنې لپاره داکتر ته مراجعه کوي که چیرې په ښه توګه،او پرله پسې روغتیا ته یې پاملرنه وشي د ماشوم سلامتیا او روغتیا به پوره تضمین شي او مور به وکړای شو دوو مهمو، کمي او کیفي مشخصو پایلو حصول ته چې د غوره او سالم نسل د روزنې هدف دی، نژدی شو. د ماشومانو د روغتیایې ځارنو هدف دا دی چې د ماشومانو د مړینې شمیر لږ شي چې په ډاکه ددې پروګرام د کیفي اجراء پایله به دا وي چې په ټولنه کې به د ماشومانو د جسمي ودې کیفیت په هر اړخیز او مطلوب ډول لوړ شي او مونږ به په راتلونکې کې یو سالم او روغ نسل خاوندان شو.

د ماشوم د روغتیائي پروګرام یواځینی هدف د ټولنې د ماشومانو د جسمي، روانی او ټولنیزې سلامتیا د ساتنې تاء مین دی چې د روغتیا ساتنې، طبي خدمتونو، تغذیې او ښه ژوند له لارې لاس ته راځي او یا په بل عبارت، د ماشوم روغتیا ته پاملرنه د دوی د ښه ژوند، د استعدادونو د روزنې او د ځواکونو په لوړتیا کې پوره مرسته کوي او ددوی له چاپیریال سره تطابق پوره اغیزمن ثابتیږي. که چیرې د روغتیائي خدمتونو وروستي هدف د ټولو خلکو د روغتیا او سلامتیا تاء مین وګڼو او دغه ایدیال هدف ددې په وړاندې چې د نړۍ په لږ پر مخ تللو سیمو کې $\frac{۳}{۵}$ وګړې د ټولنې ماشومان جوړوی نو دا حقیقت باید ومنو چې د نړۍ د ملیاردونو انسانانو یو غټ اکثریت ماشومان دی چې باید جدی پاملرنه ورته وشي. په هره ټولنه کې د عمر د ځانګړتیاو له نظره دغې ډلې ته پوره پاملرنه په واقعیت کې د هیواد د راتلونکې لپاره پانګه اچونه ده. باید پوه شو چې په ځینو ټولنو کې ناروغ ماشومان په خپل لنډ او لږ عمر سره چې د روغتیا او مړینې په وړاندې د انسانانو د

نابرابری له شرایطو څخه راولاړیږی، د ټولنې پر اوږو یو دروند بار دی او پرعکس روغ او له روغتیائی ښیګڼو څخه برخمن او د اوږد عمر ماشومان، د یو هیواد ستره پانګه ده. نو له دی کبله ماشومانوته د پاملرنی هر اقدام په راتلونکې کې د ښه او غوره اجتماعی او بدون (بافت) یو اغیزمن ګام دی. کوچنې د تغذیې او دوامدار روغتیائی څارنو له لارې طبیعی ودې او تکامل ته رسیږی او د هغوی په راتلونکی روغتیا او سلامتیا کې د اغیزمنې پانګی اچونې مانا لری.

هغه روغتیایي څارنې چې د کوچنیوالی په پراوونو کی ضروری بریښې دادی:

۱ – د کافی او مناسبو خوړو برابرول.

۲ – له نا پاکې او ناروغیو څخه ساتنه.

۳ – د منظمو، پر له پسی طبی کتنو سر ته رسول.

۴ – دجسمی، روحی او هر ډول نیمګړتیاو له پاره په کوچنیوالی کې چاره سنجول او په دې برخه کې ګامونه پورته کول.

۵ – ژر تشخیص او د هر ډول ناروغی درمل چی ښایې کوچنی په هغې اخته شي.

۶ – ماشومانوته په قناعت بښونکی توګه د روحی چاپیریال برابرول.

۷ – د ماشومانو دروحی‌او عاطفی ستونزو د لری کولو له پاره د روغتیائی کلینیکونو جوړول.

۴. د طبابت د اخلاقو د نړیوالو قوانینو څانګړتیاوی:

د طبابت د اخلاقو د قوانینو د سر ټکی چی په ۱۹۴۹ کال د اکتوبر په میاشت د انګلستان د لندن په ښار کی د نړۍ د ډاکترانو د عمومی انجمن په درییمه غونډه کی په تصویب ورسیدل، په دې ډول دي:

لومړی – عمومی ستونزی :

داکتر باید د انسانی، او ټولنیز مسئولیت او اخلاقی معیارونو له نظره نوروته سرمشق او بیلګه وی او خپل مسلکی دندې په پوره ایمانداری سرته ورسوی.

ډاکتر هیڅکله باید طبی چاری د خپلو شخصی ګټو له پاره تر سره نکړی. دغه لاندی عملونه د طبی مسلک د نښیګنو پر خلاف عمل ګڼل کیږي:

الف : له هغو ټولو تبلیغاتی اعلاناتو څخه ډډه کول ، مګر هغه برخه چی له ملی طبی اخلاقو او قوانینو سره سم وي او اجازه ورکړ شوی وي.

ب : هر ډول همکاری ، یا ګډون او په ځانګړو مؤسساتو کی ونډه اخیستل چی ډاکتر و نه شی کړای د طبابت د مسلک له نظره په آزادانه او خپلواک ډول دنده ترسره کړی او یا تصمیم و نیسي.

ج : د خپل کار په اړه له ناروغ څخه په غیر قانونی توګه زیاتی پیسی اخستل چې دده د کار په پرتله زیات وی، له هر چانه په هر نامه چی وی د هر ډول غیر قانونی پیسو تر لاسه کول.

باید وویل شی چې لازمه نه ده چی ډاکتر مخکې له مخکې د خدمتونو، تشخیص او درملنی په هکله هر چیرته ډول ډول مشورتی نظر یې ورکړی او یا داسی اجرایې عمل په غاړه واخلی چی د ناروغ پکې مستقیمه ګټه نه وی، په تیره بیا که چیری ددغی نظر یې، یا د یو عمل په اجراء کولو سره د یو انسان بدنی او روحی مقاومت کمزوری شی.

داکتر باید په پوره امانتداری سره هغو نویو کشفیاتو څخه چی د درملنی په چارو کی، تر سره کیږی د مال او شهرت له پاره کار وانه خلي تر څو چی د هغو رښتینی ارزښت معلوم شوی نه وی.

دوهم – د ناروغانوپه وړاندی د ډاکترانو دندې :

داکتر باید تل د انسانی (ژوند ساتنی) مهم اصل په پام کی ونیسی. داکتر باید خپل ټول طبی وسایل، اطلاعات او مسلکی پوهه له لازمو فداکاریو سره یو ځای د ناروغ په واک کی کیږدی. او که چیری وانګیری چی د یوی ناروغی تشخیص په یوه ځانګړی درملنی سره چی دده له وسه پوره نه وی خپل بل ملګری ته چې له ده غوره او مسلکی وی د ناروغ او دده خپلوانوته ور وپیژنی.

داکتر باید په مطلقه توګه د خپل ناروغ راز وساتی که څه هم ناروغ خپل ټول راز مستقیماً دده په واک کې پرې ایښی وی یا پخپله ده له نورو لارو څخه ترلاسه کړی وی، داکتر باید خپل همکاران په هماغه ډول معالجه کړی چی له هغی نه غوښتنه لری.

داکتر باید له هر عمل څخه چی په مادی او اخلاقی ډول د هغه همکارانو ته زیان رسوی، ځان وساتی.

داکتر باید ټولو هغه اصولو ته پام وساتی چی د ژنیو په سوګند لیک کی د نړیوال طبی انجمن له خوا تصویب شویدی.

د ژنیو سوګند لیک :

مخکی له دې چی د ژنیو د سوګند نامی د مطالبو په تشریح پیل وکړو، باید وویل شی چی زیات سوګند لیکونه آن د لرغونی یونان له زمانی څخه چی د بقراط په سوګند لیک مشهور دی، شته دي. دلته یوازی د بیلګی په توګه د ژنیو سوګند لیک ځینی پراګرافونه او مطلبونه د روغتیایې چارو د کارکوونکو د خبرتیا لپاره بیانوو.

د ژنیو سوګند لیک چی د ۱۹۴۸ کال په سپتامبر کی د سویس د ژنیو په ښارکی د نړۍ د ډاکترانو د ټولنې په عمومی غونډه کی تصویب شویدی په دې ډول دی :

په دې وخت کی چی د ډاکتری یا د طبابت د مسلکی د غړو په شمیره کی منل کیږم : ((زه)) په ټینګار سره ژمنه کوم چی تر وسه به د بشر خدمت و کړم.

((زه)) به خپلو استادانو ته چی د دغه مسلک اصول یې راته زده کړیدی، احترام وکړم.

((زه)) د خپل ناروغ سلامتی خپل لومړنی هدف ګرځوم.

((زه)) به تل دهغه چا راز ساتم چی زه یې د خپلو اسرارو محرم ګڼلی یم.

((زه)) به په ټول وس او ځواک سره دطبابت د مسلک د شرافت او عزت په ساتنه کی هڅه او هاند کوم.

زما همکاران به زما و رونه او خویندی وی.

((زه)) به اجازه ور نه کړم چی مذهبی، ملی، نژادی، ګوندی ملحوظات او ټولنیز مؤقف د ناروغ په نسبت زما په دنده کی دخالت وکړی.

((زه)) به خپل بشپړ فعالیت د انسان ژوند ته وقفوم او حتی له ګوابښ او ځوروني سره سره به خپل طبی معلومات او پوهه د انسانی قوانینو پرضد و نه کاروم.

((زه)) دغه ژمنې په بشپړ ځواک او پوره ازادۍ او خپلواکۍ سره منم.
په پای کې بیځایه به نه وی چې د ابن میمون هغه دعا چې د طبابت د مسلک اخلاقي اصولو په اړه لوستل شویده، له هغې جملې څخه هغه متن چې د میلاد په ۱۲ پیړۍ کې د ستر فیلسوف او داکتر ابوعمران موسیٰ بن میمون له خوا برابر شوی مطالعه کړو، خو دغه متن سوګند لیک نه بلکې دعا او مناجات دی. له دې کبله د ابن میمون په دعا مشهوره ده، دغه دعا په دې ډول دی:
خدایه ! زما روح په خپل عشق او مسلک او د ټولو مخلوقاتو په مینه او محبت مالامال کړه او مه منه چې حرص، مال، اومقام، ما د طبابت مسلک په سرته رسولو کې تر اغیزې لاندې راولی، ځکه د حقیقت او بشر دوستۍ دښمنان ښایې چې په اسانۍ سره ما اغفال کړی او ما ستا له بنده ګانو سره د نیکۍ کولو له پتمنې دندې څخه لرې کړی.
ماته د زړه ځواک راپه برخه کړه څو تل نیستمنو او شتمنو خلکو، دوست او دښمن، ښه او بد ته د خدمت لپاره چمتو واوسوم او ټولو هغو خلکوته چې له ناروغۍ څخه ځوریږی په یوه سترګه وګورم.
خدایه ! د ناروغانو د بستر په ځنګ او د هغوی د معاینې پر مهال زما فکر روښانه کړی چې دنورو افکار پکې لار پیدا نکړی تر څو هغه څه چې مې په پوهې او تجربې سره زده کړیدی، په پام کې ولرم، ځکه د ټولو مخلوقاتو د سلامتیا د ساتنې لپاره مې علمي لوړې او ستړې څیړنې کړیدی، داسې وکړه چې ناروغان پر ما او مسلک مې باور او اعتماد ولری څو زما نصیحتونه او لارښوونې ومني.
دروغ ویونکې او شیطانان چې ددروغو نصیحتونه کوی او د ناروغ پایوازن چې پخپل ګومان په هر څه پوهیږی د ناروغانو له بستره لیرې کړی ځکه ددغو خلکو بیځایه نصیحتونه په زیاترو وختونو او ځایونو کې د ډاکتر د نه بریالیتوب او د رنځور د مړینې لامل ګرځی، که چیری ناپوهان پر ما پوسخند او رشخند ووهی، دا سې کار وکړه چې د طبابت د مسلکه عشق ما لکه زغره و ساتی څو و کولای شم پرته له دی چې مقام، شهرت او نورو ته اعتنا وکړم، په حقیت باندې ټینګ ولاړ اوسم.

د بد چلندو او سرتنبه ناروغانو په وړاندې ما ته صبر، زغم او نرمی را په برخه کړه او توفیق راکړه چی په ټولو کارونو کې منځ لاړې واوسم، خو د علم له عشق څخه هیڅکله مو ړ نشم.

له دغه فکره څخه چی د هر کار له پاره وتلی شم ما لیری وساته، ماته اراده، وخت او ځواک را په برخه کړه چی تل خپل معلومات زیات کړم. زه نن ورځ کولای شم په خپلو معلوماتو کی داسی مطالب کشف کړم چی تر پرون پورې ماته معلوم نه وو. ځکه دطبابت مسلک پراخه لمن لری او د بشر فکر هم تل پر مخ ځی.

۵: د ماشومانو کار او سلامتیا :

یو له مهمو مسئلو څخه چی په نړیواله کچه د کوچنیانو د ودې او سلامتیا په اړه په دې وروستیو کلونوکی پرې ډیری څیړنې او بحث کیږی، (د ماشومانو د کار) موضوع ده.

د ماشوم دحقوقو کنوانسیون (۳۲) ماده د دغه کنوانسیون د ژمنو هیوادنو مکلفیت د اقتصادی زیبنباک او د کوچنی له وس څخه د پورته کارونو د ناوړه اغیزې څخه د مخنیوی په اړه، ددغه مادې په (۱۱) فقره کی داسی وایې : دغه کنوانسیون ته ژمن هیوادونه د اقتصادی زیبنباک د خطرناکو کارونو او یا دداسې کار د اجراء په وړاندې چی د ښوونی او روزنې په بهیر کی د اختلال سبب شی او یا د.ماشوم روغتیا ، جسمی، فکری، معنوی، اخلاقی او ټولنیزی ودې ته زیان و رسوی د ملاتړ حق په رسمیت نه پیژنی.

بر سیره پر دې د ۳۲ مادې په دوهمه فقره کی راغلی دی : دې کنوانسیون ته ژمن ملکونه ددې مادې د اجراء لپاره قانونی، اجرایې ، ټولنیز او روزنیز تدبیرونه و نیسی. ددې منظور او نورو نړیوالو تړونونو ته په پام سره په دې برخه کی نوموړی کنوانسیون ته ژمنو هیوادونو دغه کارونه سرته رسوی:

الف : د سن د اقل حدتعین یاداستخدام د کلونو د اقل حد ټاکنه.

ب :دکار د ساعتونو او شرایطو لپاره دمناسبو لایحو جو ړول.

ج – ددغې مادې دا غیزمن عملی کیدو دتضمین لپاره د مجا زاتو او نورو تعزیراتو ټاکل.

دملګرو ملتونو دسازمان د کوچنیانو صندوق یا یونیسف رپوټ په ۱۹۹۷ م کال وائی چی د کوچنیانو د فقر موضوع نن څه ناڅه یوه نړیواله مسئله ده په دې رپوټ کی راغلی

دی چې : ((دماشوم دکار کولو موضوع یوه داسی پیښه ده. چی نه یواځی د نیستمنو په نړۍ کی پیښیږی بلکی په پرمختلیو هیوادوکی د کارګرو ماشومانو پراخ اکثریت موندلی شو. کوچنیان معمولاً په ټولو هیوادونو کی که شتمن وی او یا نیستمن کار کوی. هغه څه چی ننۍ ورته پاملرنه شویده داده چی آیا ماشومان له کاره زیانمن کیږی او که نه، دهغه کار ماهیت دی چی کوچنیان یې ترسره کوي. نه یواځی د هغوی کار کول. مثلاً : د صنعتی نړۍ لږ شمیر خلک د یو ماشوم استخدام د یوې میاشتی یا ښوونځی ته له تللو دوه ساعته مخکی دورځپانې د تحویلولو لپاره ددې واقعیت ښکارندوی دی چی د ماشوم د مزدورۍ اندازه په ډاګه د هماغه کار لپاره چی تر سره کیږی دیولوی سړی د مزدورۍ له اندازې څخه لږه ده)) (۲۲)

یونیسف نړیوال سازمان عقیده لری چی د ماشوم کار هغه وخت استثماری اړخ لری چی د لاندې نهو شرطونو څخه یو شمیر یې په برکی ونیسی :

که په لږ عمر کی ترسره شی، زیات ساعتونه پری مصرف شی، د ناوړه روحی او جسمی فشار لاندی تر سره شی ،په بازارونو او ناوړو شرایطو کی تر سره شی، لږه مزدزری تر لاسه شی، خورا زیات مسئولیت ولری، دماشوم د زده کړی مانع وګرځی، د ماشوم پت او عزت النفس له منځه یوسی، (مریې توب، مقید کار، جنسی تیری) او بالآخره دا چی د ماشوم جنسمی ودې لپاره ضرر ولری.

د کوچنی د سلامتیا او روغتیا له پاره لاندی ټکی مهم دی چې باید ورته پام وشی:

الف: جسمی وده (عمومی سلامتیا ، ځواکمنی، بینائی، شنوائی.....)

ب : معرفتی وده (سواد زده کړه، د اړتیا وړ پوهه او مهارتونو حاصلول)

ج : عاطفی وده (عزت النفس، له کورنۍ سره مینه....)

د : ټولنیزه وده (ټولنیز هویت، له یو بل سره د همکاری توان او.....)

د پام وړ ده چی یوه ډیره مهمه ستونزه چی نه یوازی د پرمختیایي هیوادونو په کچه د پاملرنی وړ ګرځیدلی ده، او زموږ په وطن کی هم پری زیات فکر کیږی. د خیابانی ماشومانو مسئله ده د یونیسف په رپوټ کی راغلی دی : زیاتره کوچنیان په باسی خوړو ، پلاستکی کڅوړو راټولولو، د موټرو خرابی پرزو په راټولولو، زړی اوسپنې، بطری او تش ډبی ګانې، آن د کاغذ ټوټو د راټولولو له لاری ژوند کوی او دا ټول شیان پدې ډول د غریبو

او بیوزلو ماشومانو له خوا راټولیږی. په همدې توګه له تشو بیلرونو او زباله دانیو څخه د شیانو را ټولول پرته له دې چې یو څه عاید ترلاسه کوی، یو خطرناک کارهم دی او پخپله ماشومان هم دومره خوار او سپکوی چې یو زیات شمیر له هغه نه لاس اخلی او حتی په ګدائی او سؤال لاس پورې کوی، په هر راز هوا کی د زباله دانیو داخل ته ورننوتل ددې موجب ګرځی چې ماشومان په جلدی او نورو ناروغیو اخته شی.

په نړیواله کچه د ماشومانو د کار د لغوه کولو لپاره یونیسف ددغو اقداماتو سپارښتنه کوی:

الف – له خطره ډک دماشوم د استثماری کار سمد ستی بندول.

ب ـ دوړیا جبری زده کړی تامین.

ج ـ پراخ قانونی ملاتړ.

د ـ په رسمی دفترونو کی له زیږیدنی وروسته د ماشومانو دنومونو لیکل (روغتیا ئی او روزنیزو خدمتو دلاسبری لپاره)

ح ـ رفتاری نظامنامی او دشیانو او کالیو د تهیه کولو په اړه تګلاری (له پلورونکو څخه نه پیرودنه)

دپورته مسایلو په پام کی نیولو سره چې دماشومانو دکار او سلامتیا په باب مطرح شو او هم نورو مسئلو ته په پاملرنی سره لکه له ماشومانو څخه جنسی ناوړه ګټه اخستنه (په تیره بیا دصنعتی هیوادونو په کچه) دهغوی دبدن دغړو پلورل (په تیره بیا ددوی په حال کی هیوادونو په کچه له دی جملی افغانستان) چې په هغه کی ماشومان دهمدی مقصد لپاره تښتول کیږی باید ژرتر ژره فکر وکړواو د هغی د مخنیوی له پاره تدبیرونه ونیسو.

دیو زیات شمیر هغو علمی غونډو په بنسټ چې دنړی په کچه په وروستی لسیزه کی شوی ، دروغتیا نړیوال سا زمان کار پیژندونکی دماشومانو دسلامتیا په ساتنه کی ،هغه څه چې بنسټیزی مسئلی په توګه منل شوی د هیوادونوپه سطح دقوانینو او مقرراتو په اړه بدلون دی چې دغه لاندی مطلبونه پکی شامل دی:

قانونی سن، روغتیا ساتنه، تولیدمثل، د نیشه ای توکو استعمال، معلولیت، روحی روغتیا ساتنه، حرفه ای زده کړی.

۲ – د کوچنیانو مسایل او د روغتیائی خدماتو ستونزې :

د کتاب د دې فصل په پای کې ښائی بیځایه نه وی څو ځینې موجود ټاکلی علتونه په ګوته کوم چې د دوې په حال هیوادونو په تیره بیا د درییمې نړۍ له هغه جملې زمونږ دګران هیواد د روغتیائی فعالیتونو د ستونزو په اړه موجودی دي.

د دغه ستونزو تشخیص کولای شی د روغتیائی چارو کارکوونکو او د ماشومانو سلامتیا لپاره چې هماغه په سیاسی ارخ کې د روغتیائی پروګرامونو طراحان دي اغیزمنه مرسته وی. د دغو عواملو خورا مهم ټکی چې غالباً له اقتصادی فقر او له پوهې او پرمخ تللې تکنالوژۍ څخه راپیدا شوی عبارت دي له :

الف – د دولتونو روغتیایي ستونزی او دنیستمنو کوچنیانو روغتیا ساتنه چې د ټولنې خورا آسیب پذیره قشر جوړوی، جدی نه ده نیولی او په پوره توګه پاملرنه ورته نه ده شوی.

ب – د ډله ایزو اړیکو ارګانونه د عمومی روغتیا ساتنی د زده کړې په برخه کې، دوامداره او پرله پسی پاملرنه، نه کوی.

ج – د نیستمنو کورنیو د اقتصادی توان د پراختیا لپاره نه یواځې جدی هڅه نه کیږی، بلکې په حقیقت کې ډیره لږه پاملرنه ورته هم نه کیږی.

د – روغتیایي پروګرامونه او د کورنیو د لارښودنې د فعالیتونو تنظیم او روغتیا ساتنه نه یواځې په غور سره تر اجراء لاندې نه نیول کیږی، بلکې په دغه برخه کې کوم ژور پلان او پروګرام هم موجود نه دی.

ۀ – طبی پوهنځی، روغتیا ساتنی زده کړو او د روغتیا ساتنی د لوستلو برخوته کم ارزښت ورکړ شوی او محتوا یې په پوره غور سره نه تطبیقیږی.

د دغو مؤسسو په تعلیمی نصاب کې له هماغه پخوانیو موادو څخه کار اخستل کیږی او ډیر استادان یې له پوهې، تجربو او د علمی نویو لاس ته راوړنو څخه بی برخې دي.

و – د مور او ماشوم د ساتنی کلینکونه پوه، تکړه پرسونل نلری او دهغوی د خدمتونو شرایط هم ډیر لږ دی.

ز – د کنترول لپاره د بیلا بیلو تستونو پراخوالی او په کارول، ارزونه، د بیلابیلو عوارضو موندل او د ماشومتوب د دورې ناملایموالی ته پام په هیوادونو کی کمزوری دی.

ح– د بشری ځواک د بیلابیلو ځشرونو ترمنځ د کمی او کیفی نااندولتوب، د روغتیا ساتنی او معالجوی خدمتونو د ځواک نا اندول ویش د هیواد په سطح او د کلینکونو د امکاناتو نشتوالی د پرمخ تللو ټولنو په پرتله په ژوره توګه تر سترګو کیږی.

ت- بالاخره خصوصی معالجوی سیستم او د تشخیصی کلینیکونو ته کولای شو اشاره وکړو چی په پرمختللو هیوادو کی زیاتره د اصولی معالجی په ډول دی، خو دودې په حال هیوادونو کی په تیره بیا په درییمه نړۍ کی تل د علامتی درمل په بڼه او د بی هدفه او بی اغیزمنو درملو دورلولوله لارې ترسره کیږی.

پنځم فصل

د ماشـــوم د حقوقـو په ســاتنه کې د ښـــوونکو ونډه

معلمي یو پتمن شغل او مسلک دی، داسی کار دی چی د اسلام د مبین دین له نظره د انبیاؤ د شغل په نامه یادیږی. د معلمی د مسلک او دندې د اهمیت په اړه هم دومره بس دی چی د راتلونکی سالم نسل روزنه او چمتوالی، د پوهو شخصیتونو ، سیاست پوهانو او د ټولنی د ریښتینو خدمتګارانو روزنه، دهغوی په لاس او واک کې دی.

ښوونکی د ټولنی برخلیک ټاکی، د حکومت ډول، د دولت د کار پرمختګ او څرنګوالی او د یو هیواد د نیکمرغی او بدمرغی منځته راوړونکی دي. د روزنی د پوهانو په آند ښوونکی هغه ښوال ته ورته دی چی ټول اندیښنه، فکر او فعالیت یې د ګلانو او نیالګیو زرغونیدو ته متوجه وي ! هغوي ته اوبه ورکوی، د هغو ځینی ښاخونه پریکوی، څو د هغو د ودې شرایط او امکانات په اغیزمنه او سالمه توګه برابر شی. هر ښوونکی په یو ښونځی کې د یو ښوال حیثیت لری. څرنګه چی ښوال د نیالګیو د شنه کیدو وخت پیژنی او تل یې څارنه کوی ترڅو ثمر ته ورسیږی، دغسی ښوونکی هم د زده کوونکو د شخصیت د

بشپړولو وختونه او فرصتونه پیژني او د دوی د فکرونو په زرغونولو کی زیار باسی ترڅو دوی د کمال درجی ته ورسوی.

دا یو منل شوی حقیقت دی چی د ماشوم لاس د ښوونکی په لاس کی دی. ذهنیت یې هغه ته متوجه دی. فکر یې د هغه تر اغیزې لاندی دی. او بالآخره همدی دی چی کولای شی ماشوم د راتلونکی مطلوپ ژوند لپاره چمتو کړی. ښی او یا بدی انګیرنې د هغه په وجود کی منځ ته راوړي. په ژوند کی یې لازښود او مرستندوی وي. او د ژوند په تګلاری کې د هغه مرستیال ثابت شی.

شک نشته چی د ماشوم د ژوندانه بنسټ او فلسفه د ښوونکی په واسطه ایښودل کیږی. هدفونه دده له خوا ټاکل کیږی او د غلامی او باداری صفتونه دده له خوا په ماشوم کې روزل کیږي. ښوونکي وروسته له مور او پلاره. خپلو شاګردانو نه نوې څیره ده. هغه څوک دی چی والدین د هغه باور پر بنسټ چی پرده باندی یې کوی ماشوم هغه ته سپاری او د احترام وړ یې ګرځوی. نو ځکه دده شخصیت او ښه سلوک پر زده کوونکو مستقیم اغیزه اچوی. ماشوم د زده کړې په لومړیو کلونو کی د ښوونکی د جاذبی تر اغیزې لاندی وي. له کړوړو. تګلارې. ژوند او د وینا او د کړنې له څرنګوالی څخه یې درس اخلی. امر او نهی یې منې او له فرمان څخه یې اطاعت کوي.

که چیری ښوونکی وغواړی پر ماشوم ژوره اغیزه واچوی. ضروري ده چی د مهر او محبت څخه کار واخلی او د هڅوونکو او لوری ورکوونکو محرکاتو له لارې. ماشوم ته نژدې شی او هغه ځانته جذب کاندی. ښکاره خبره ده چی ملګرتیا او دوستی پر کوچنی د زور او ځواک کارولو په پرتله زیاته اغیزه اچوی. ځکه نو لازمه ده چی ښوونکی له زده کوونکو سره د ملګرتیااو دوستی له لارې مخ ته لاړشی.

باید په پام کی ولروچی ښوونکی په ټولنه کی له لوړ مقام او لوړ انسانی ارزښت څخه برخمن دی. دده مقام له بل هر چا نه په ټولنه کی لوړ او جګ دی. نو له همدی امله دی چې هغه په رغنده کارو او د پوهی په خدمت کې د بشری نسل د نیکمرغی لپاره مؤثر ګڼل کیږی.

په هره ټولنه کی ښوونکی ته زیات اهمیت او ارزښت قایل شوی. ځکه چی دې د ټولنی راتلونکی نسل چی د ټولنی اساسی پانګه ده روزی او د ټولنی د ژوند د څرخ د ګرځولو لپاره. خوځنده ځواک بلل کیږی.

د اسلام په روزنیز نظام کی ښوونکی ته زیات ارزښت قایل شوی، ځکه د اسلام ستر لارښود دخدای(ج) له خوا په معلمی ګومارل شوی دی، حتی په یو مبارک حدیث کی راغلی دی چی : (زه معلم لیږل شوی یم.) د قرآن مجید مبارکو آیتونو تلویحاً د پیغمبر (ع) کار تزکیه کړی دی چی دا پخپله دده د معلمی د غوره وندې ښکارندوی دی، ښوونکی چی کوچنیانو ته کتاب، پوهه او حکمت ور زده کوی، بالآخره د هغه مثبت او منفی اړخونه په همدې کار پوری اړه نیسی چی بریالی ښوونکی د ماشوم د برخلیک یوه برخه دی او دهغه د اصلاح یا تباهی عوامل له هر پلوه چمتو کوی.

یو پوه وایی : « د دین قوام د ښوونکی د کار او هڅې تر سیوری لاندی جوړښت او ټینګښت پیدا کوی، پوهه او علم د ښوونکی په زیار او هاند له زوال او فنا څخه خوندی پاتې کیږی » ښوونکی له یوه نظره، اتل دی او دشاګرد د مننې وړ. نو ځکه، د ټولو خبروکړو وړو اساس او بنسټ یې د ماشوم له پاره برهان او دلیل دی.

ښوونکی د ماشوم علمی لارښود دی ځکه نو باید دانسانی اخلاقو، پاکوالی او نیک چلند له پلوه زده کوونکو ته یوه بیلګه وی. هغه باید د نظر څرګندولو او دریځ نیولو کې داسی عمل وکړی چی شاګردانوته یې سبق وی او د ده له کړو وړو څخه هغوی داسی مثبت خویونه زده کړی چې و کولای شی د راتلونکی ټولنې د یو سالم غړی په توګه وویاړی.

لنډه دا چی د ښوونکی پوهه، معلومات او هیلی د ماشوم د ایمان او عقیدی بنسټ جوړوی. هغه باید له عقدو، د بیځایه فشار او دداسی کړو څخه ډډه وکړی چی ماشوم ته ناوړه سبق ورزده کوی.

ښوونکی د یو مهربان او زړه سواندپلار په څیر باید د ماشوم لاس نیوی وکړی او هغه په نېکه لار بوځی.

دغه ټکی د یادونی وړ دی چی هغه څوک چی له ماشوم سره سر او کار لری او د هغه د ښوونې او روزنې مسئولیت په غاړه لری په لومړی پړاو کی باید دغه عجیب او غریب موجود چی په ظاهره کی ډیر کوچنی، ساده خو په باطن کی له هره پلوه ستر او پیچلی دی، و پیژنی، د نیکمرغی، هوسایې دروازې یې پر مخ پرانیزی او له طبیعی او فطری حقوقو او ارتیاو څخه یې چی په نړۍ کی اوس مهال ورته زیاته پاملرنه کیږی برخمن کړی.

د پورته مطالبو په پام کی نیولو سره د کتاب په دی فصل کی د ګران هیواد درنو ښوونکو ته د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون پر بنسټ د ماشوم د حقوقو په اړه معلومات وړاندې

کوو ترڅو هغه مطالعه او تري ګټه واخلي او دهغه په تاء مين او پلی کولو کې ځان مکلف او ملزم وګڼي.

۱ – د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون په ساتنه کی د ټولنو ونډه :

په هره روزنیزه مؤسسه کی ډیر مهم او اغیزمن غړی، ټولنکی دی. دا یو منل شوی حقیقت دی چی هیڅوک نشی کولای د راتلونکو نسلونو (ماشومانو) د شخصیت په جوړښت کی د ټولنکی له ونډی څخه انکار وکړی، ماشومان له دې امله چی د نړۍ د نفوسو ستره شمیره جوړوی او د راتلونکو نارینه ؤ او ښځینه ؤ ترنامه د ټولنی برخلیک په لاس کې نیسی، د هغوی ټوونې او روزنې ته پاملرنه د یوې ټولنې په راتلونکی پراختیا باندی زیاته اغیزه اچوی، په تیره بیا زمونږ په جګړه ځپلی هیواد باندې له همدی کبله ده چی د ماشوم د حقوقو کنوانسیون حکم کوی : د هر فرد طبیعی حق دی چی د خپل هیواد د رسمی ټوونی او روزنی له نعمت څخه برخمن شی.

څرنګه چی زمونږ د بحث وړ موضوع د ټوونکی له خوا د ماشوم (شاګرد) د حقوقو رعایت دی، نو ځکه د بشر د حقوقو په تیره بیا د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون له مخې د ټوونې او روزنې او داروا پوهنې اصولو او پرنسیپونو پر بنسټ دا حقوق باید و پیژندل شی او په پلې کولو کې زیاته پاملرنه وشی. د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون په ۲۸ - ۲۹ او نورو موادو کی دغه مطلبونه راعلی دی.

۲۸ ماده ؛

۱ – دې کنوانسیون ته ژمن هیوادونه د ټوونې او روزنې په برخه کی د ماشوم حق په رسمیت پیژنی او د پراختیا لپاره یې د دغو هیوادونو د برابرو شرایطو څخه د دې حق د عملی کیدو لپاره دغه تدبیرونه په مخکی نیسی :

الف – ټولو ته وړیا او اجباری ټوونه او روزنه.

ب – هر ماشوم ته د زده کړې هر ډول شرایط برابرول او په دی اړه داسې عملی ګامونه پورته کول تر څو دوی ته د وړیا ټوونی او روزنی شرایط برابرشی او د ضرورت پر مهال ورسره مالی مرسته وشی.

ج – د استعدادونو پربنسټ او له ټولو و سایلو څخه په استفادې سره لوړو زده کړو ته د ټولو رسیدل.

د – ټولو ماشومانو ته د تعلیمی او حرفه ای معلوماتو او لارښودنو برابرول.

ذ – دتعلیم د هڅونې او پابندی له پاره لازم اقدامات سرته رسول او له ښوونځی څخه د زده کوونکو د خارجیدو اندازه او تعداد کمول.

۲ – دغه کنوانسیون ته ژمن هیوادونه لازم تدبیرونه نیسی څو دښوونځی دسپلین او انظباط داسی پلی شی چی د ماشوم له انسانی مقام سره برابر وي او له دې کنوانسیون سره یو والی ولری.

۳ – دې کنوانسیون ته ژمن هیوادونه باید د ښوونی او روزنی د اړوندو موضوعګانو په باب نړیوالې همکاری، په تیره بیا په ټوله نړۍ کی د جهل او بیسوادی په له منځه وړلو کې پاملرنه او ونډه اخستنه او علمی، فنی اسانتیاوو ته رسیدل او د تدریس نویو لارو چاروته پراختیا ورکول په پام کې ونیسی، په دې لاره کی باید دودې په حال هیوادونو ارتیاوو ته زیاته پاملرنه وشی.

۲۹ ماده :

۱ – د غه کنوانسیون ته ژمن هیوادونه موافقه کوی چی د ماشوم ښوونه او روزنه باید په دغو لاندې برخوکی په لاره واچول شی :

الف – د کوچنی دشخصیت، استعدادو او د جسمی او فکری ځواکونو بشپړه وده.

ب – د بشری حقونو، سیاسی آزادیو او دملګروملتونو د منشور اصولو ته د درناوی احساس پراختیا.

ج – مور او پلار ته د درناوی د احساس وده، هویت، فرهنګ، ژبې او ملی ارزښتونو او د هیواد د ملی ارزښتونو، اصلی هیواد، او نورو تمدنونوته احترام لرل.

د – په ازاده ټولنه کی د بامسئولیته ژوند لپاره د ماشوم چمتو کول او د ټولوخلکو قومی او مذهبی ډلو او بومی کسانو تر منځ ورروری او دوستی.

ذ – طبیعی چاپیریال ته د درناوی احساس پراختیا :

دماشوم د حقوقو د کنوانسیون ۲۸-۲۹ مادوته په پام سره،څرنګه چی ښوونه او روزنه وړیا او اجباری ګڼل شوی او همدارنګه، د بشر حقوقو او دانسانانو اساسی ازادیو ته درناوی، د مور او پلار درناوی، فرهنګی هویت، ملی ارزښتونوته احترام په ازاده ټولنه

کی مسئولانه ژوند د درلودلو لپاره چمتووالی، د تفاهم روحیه، سوله، زغم، د بښځو او د نارینه ؤ د حقوقو برابری، د قومونو، قومی، مذهبی او ملی ډلو تر منځ دوستی، د ماشومانو د بښوونی او روزنی د پروګرام یوه برخه بښودل شوی دی.

دادی دماشوم دحقوقو دکنوانسیون۲۸-۲۹ اونور مواد چی دبښوونی اوروزنی دمسئلو او دبښوونکو دچال چلند په اړه لیکل شویدی تر څیړ نی لندی نیسواوځینی موضوعګانی دنومورو مادو دمحتوی تر رعایت لاندی تشریح کوو.

دبښوونې او روزنې د برابرو فرصتونو حق :

ماشومانو ته د بښوونې د مساوی فرصتونو د برابرولو حق دټولنی دبنستیزو اړتیاوو څخه شمیرل کیږی . دکوچنې دحقوقو دکنوانسیون له مخې ، هر ماشوم پرته له عقایدو ، نژاد او جنس څخه باید دبښوونی او روزنی له مساوی فرصت څخه برخمن وی، څرنګه چی دټولنیز ژوند دوام او د ټولنی پرمختګ د هغی ټولنی د غړیو د بښوونی او روزنی په بشپړ پر مختګ پوری اړه لري، نوله دی امله هر فرد حق لری د بښوونی او روزنې له ټولو امتیازاتو څخه ګټه واخلی او په ټولو روزنیزو مؤسسو کی شامل شی او له خپلو استعدادونو سره سم د بښوونی او روزنې له حقوقو او بښیګمنو څخه برخمن شی.

باید په نظر کی ولرو چی د کوچنیانو د استعدادونو د پراختیا لپاره اغیزمنه لاره د روزنی او زده کړی د لازمو فرصتونو پیدا کول دي.دغه مسوولیت تر یوې اندازې پورې دبښوونکو په کار او فعالیت ، چال چلند او پوهې پورې اړه نیسی. بښوونکي باید دزده کړی دفرصتونو په پیدا کولوکی ټول زده کوونکی په برابر او یو نظر کی ولري ، او هغه زده کوونکی چی مرستی ته زیاته اړتیا لری زیاته پاملرنه دی ورته وکړی خو دزده کړی له لا زمو فرصتونو او شرایطو څخه ګټه واخلی او دنورو زده کوونکی یه څیر له اغیزمنو مساوی ، آموزشی فرصتونو څخه برخمن شی. نو ځکه دملګرو ملتونو سازمان ټولو ماشومانو ته دبښوونی او روزنی دفرصتونو دبرابری پر حق ټینګار کوی او دولتونه په دی ژمن بولی تر څو هر ماشوم له خپلو استعدادونو سره سم دروزنی له مساعدو فرصتونو او شرایطو څخه په مساوی ډول برخورداره شی.

له بلی خوا ، په بښوونه او روزنه کی برابری ددی غوښتنه کوی چی دولت دملت ټولو وګړو ته دبښوونی او روزنی وسایل په مساوی ډول برابر کاندي. په دی مانا چی دشتمنو او

نیستمنو تر منځ فرق ونه کړی او هر څوک له توپیر ، پرته دښوونې او روزنې له حقه یو ډول برخمن وی په ښوونه او روزنه کی برابری ددې غوښتنه کوی چې دولت ټولو وګړو ته بشپړ اسباب او وسایل برابر کړی ، دټولنیز و طبقاتو اختلاف او دخلکو اقتصادی شرایطو ته دی نه ګوری، ځکه ډیر ماشومان شته چې په نیستمنو او ورک نومو کورونو کی پیدا کیږی خوقوی ذکاوت او لوړفکر لری او دشتمنو ماشومانو په پرتله دنورو زده کړو لپاره بشپړ او کافی وړتیا لری.

دوګړو ترمنځ د فردی توپیرونو له نظره داستعدادونو په ویش کی د وراثت او طبیعت له نظره توپیر نشته دولت او ښوونکی هم باید دطبیعت یا وراثت دغه ویش دخپلی لاری دسر مشق په ټوګه په پام کی ونیسی او ونه غواړی ملت او ټولنه دهغو نوابغو څخه محروم اوبی برخی شی کوم چې دټولنی نیستمنو او غریبو خلکو په کورنیو کی موجود وی. هغه څه چې مونږ هیله من کوی دادی چې زمونږ هیواد دماشوم دحقوقو دکنوانسیون ته دیوڅمن دولت په توګه ددغه کنواسیون د ۲۸-۲۹ او نورو مادو سره سم عملی ګامونه او چت کاندی.

د پورته مطلبونو مطالبو په پام کی نیولو سره، دښوونی او روزنی په برخه کی د(برابری) په بحث کی چې دټولو منل شوی ، طبیعی حق ګڼل کیږی ، ددغو ټکو یادونه ضروری بلل کیږی:

- ټولو خلکو ته درسمی ښوونې او روزنې دفرصتونو برابری.
- ټولو زده کوونکو ته دښوونې او روزنې آسانه او اغیزمنه شرایط برابرول.
- ټولو زده کوونکو ته دښوونې او روزنې د ټولو امکاناتو او شرایطو چمتو کول.
- ټولو خلکو ته ډاډ په برخه کول چې وکولای شی خپلې زده کړې ته تر هغه ځایه چې کولای شی او یا شرایط یې په هیواد کی موجود وی، پر مخ بوځی او استفاده تری وکړی.
- د زده کړې او تحصیل د قانونی حقوقو له ښیګڼو څخه د ټولو وګړو ګټه اخیستل.

له توپیر او تعصب څخه ځان ساتل:

په تعصب کې هر راز توپیر، ځانګړی تمایز، محرومیت یا ترجیح شامل دی چې د نژاد، رنګ، جنس، ژبې، سیاسی عقیدې، یا په بل عبارت د عقیدی، ملیت یا اجتماعی حالت،

اقتصادی شرایط او یا زیږیدنې پر بنسټ د توپیر پر اساس رامنځ ته شوی وی او په پایله کی د زده کړې د بیلو بیلو ډولونو څخه په برخمن کیدو کی د وګړو تر منځ د برابری حق له منځه وړی وی چی بیلګه یې په لاندی ډول ښودل کیږی :

- له تعلیمی بیلابیلو دوروڅخه دیو کس یا ډلی محرومول.
- ټیټې سطحې ته د یو شخص یا یوې ډلې د ښوونې او روزنې حق محدودول.
- د یو شخص یا ډلې فعالیتونه په داسی حالتونو او شرایطو پوری تړل چی د انسانی شئوناتو څخه مغایر وی.

د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون په (۲) ماده کې د تبعیض په باره کی راغلې دی : « دې کنوانسیون ته ژمن هیوادونه ټول مناسب تدبیرونه نیسی تر څو د ماشوم په اړه د تبعیض او مجازاتو د ټولو ډولونو د له منځه وړلو په مقابل کی لکه د موقف پر اساس مجازات، د فعالیتونو محدودول، ځانې، د مور او پلار، قانونی سرپرست او د کورنیو د غړو د عقیدی د بیان ملاتړ کوی.»

برسیره پر دې د زده کړی په کارکې له توپیر سره د مبارزې په مقاوله لیک کی دغه موضوعګانې څنګه چی د دولت د مننې وړوي د توپیر په نامه په هغه مفهوم سره چی په دې مقاوله کې راغلی دی، نه تلقی کوی :

هلکانو او نجونو ته د زده کړی ځانګړې شرایط برابرول ، پدی شرط چی دواړه ډلې د زده کړی لپاره ورته آسانتیاوې ولری او د دواړه ډلې ښوونکی د برابر واک او له یو ډول درسی وسایلو څخه برخمن وي او وکولای شی د زده کړی له پروګرامونو څخه یو ډول استفاده وکړی. د بیلوبیلو تعلیمی مؤسسو جوړول او ساتنه خو پدې شرط چی د دینی او ژبنی مسائلو په برخه کی چی زده کړه د مور او پلار یا دهغوی د قانونی سرپرست له غوښتنو سره موافق او سم وی او همدا شان دغه تعلیمی مؤسسو ته ورتګ اختیاری وی او په هغوی کې درسی فعالیتونه او درسی چاری او محتوی د هیواد په ټولو تعلیمی مؤسسو کې د دولت له تصویب شویو زده کړو سره هم سطحه او هم سویه وي. دغیردولتی تعلیمی مؤسسو جوړول یا پراختیا خو په دې شرط چې په هغه کې یوی ځانګړی ډلې د تعلیم له ادامې محروم پاتی نشی.

د پورته مطلبونو په پام کی نیولو سره د مقاوله لیک لاسلیک کوونکی دولتونه ژمن دي چی له مقاولې سره د ټولو مغایرو قانونی او اداری مقرراتو د لغوه کیدو په ترڅ کی، داسې

اقدامات وکړي چې په ښوونځيو او تعليمي مؤسسو کې د زده کوونکو په منلو کې هيڅ ډول توپير نه کار وانه خيستل شي او د بورسونو په ويش کې هيڅ راز توپير او تبعيض په نظر کې و نه نيول شي، پرته له هغو توپيرونو چې د وړتيا، لياقت او يا اړتيا له مخې وي. همدا شان په هيواد کې ميشته بهرنيو وګړو ته هماغه فرصت وربرابر کړی لکه څنګه خپلو اتباعو ته يې په ښوونه او روزنه کې ورکړي دي.

يوه مهمه موضوع چې بايد ورته پاملرنه وشي د ښوونکې تبعيض او تعصب ستونزې دي چې په ښوونځيو کې له دغه غير انساني عمل څخه استفاده کيږي او د زده کوونکو په وړاندې له تبعيض او تعصب نه کار اخيستل کيږي. ښوونکې بايد پوه شي چې له زده کړې او ښوونځيو څخه د تيښتې او بې علاقه ګي له نورو علتونو څخه يو هم له هغه تعصب نه کار اخستل دي چې د زده کونکو د زده کړې او تحصيل مانع ګرځي. کله چې يو زده کوونکي وګوري چې ښوونکي يې د نورو زده کوونکو سره يو ډول چلند نه کوي او يو ته پر بل ترجيح ورکوي ځکه نو د هغه په وړاندې ناباوره کيږي او په پايله کې د هغه له درس سره بې مينې کيږي.

ښوونکي بايد له زده کوونکو سره په چلند کې عدالت له پامه ونه غورځوي. هغه بايد د زده کوونکو تر منځ بې ځايه تفاوت او امتياز قايل نشي. که شاګرد احساس وکړي چې ښوونکي د دوی ترمنځ له توپير نه کار اخلي د هغې په وړاندې بې توپيره کيږي او هيڅکله د هغې درس ته پاملرنه نه کوي. نو له دې امله بايد ښوونکي ټولو زده کوونکو ته د مينې او محبت په يونظر وګوري، ځکه هر زده کوونکي ته د ښوونکي هر کړه وړه د تعبير او تفسير وړ وي او په هر کار او اقدام يې پوهيږي.

پوه او هوښيار ښوونکي بايد هيڅکله پخپلو شاګردانو کې دغه احساس پيدا نه کړي چې هغه د شتمنو اولادونه د نيستمنو له اولادونو څخه ښه او غوره ګڼي بلکې برعکس بايد داسې وښيي چې په ټولګي کې د ټولو شاګردانو په وړاندې مهربان او زړه سواندې دی، او له ټولو زده کوونکو سره يو شان چلند لري. هغه بايد عملاً وښيي چې يواځې د هغه په وړاندې هغه کسان نژدې او محترم دي چې وظيفه پيژندونکي وي او په پايله کې د هغه په وړاندې يواځې او يواځې همدغه زده کوونکي له ځانګړې امتيازاتو او احترام څخه برخمن دي.

باید په یاد ولرو چې، اوس هم زمونږ د ګران هیواد په اکثرو سیمو کې خلک د ټولنو او هلکانو ترمنځ د ښوونې او روزنې حقوقي مسئلو له نظره توپیري سلوک کوي. نو له دې کبله ښوونکي باید هڅه وکړي چې په زده کوونکو کې دغه روحیه پیاوړې کړي څو مخالف جنس ته په تیره بیا ټولنو ته احترام قایل شي نه دا چې له یو او بل نه ووېرېږي او پخپلو منځوکې بیلې بیلې لیکې راوکاږیزي. دا وینا په دې مانا ده چې نه نارینه ځان له ښځو او نه ښځې ځانونه له نارینه ژوو څخه غوره او لوړ وګڼي (مګر په ځینو مواردو کې چې شریعت تصریح کړې وي).

ښځې او نارینه دواړه په ټولنه کې داسې حقوق او مسئولیتونه لري چې باید په مساوي توګه او یو ډول په ټول اجتماعي ژوند کې ترې برخمن وي.

د لرلېدو د فرهنګ د ساتنې حق :

د ماشوم د حقوقو په ۳۰ ماده کې لولو : « په هغو هیوادونو کې چې قومي، مذهبي یا ژبنې او بومي اقلیتونه ژوند کوي، د هغه ماشوم حق چې په دې لړه کیو او یا بومیانو پورې اړه لري، باید له پامه و نه غورځول شي. دوی باید په ټولنه کې له نورو ډلو سره یو ځای له خپل فرهنګ، د مذهبي مراسمو په سرته رسولو او له خپلې ژبې له ټولو امتیازاتو څخه برخمن وي. »

طبیعي ده چې تر څو پورې په دې نړۍ کې انسان شته دغه لړه کې که هر څومره په لړ تعداد سره وي بیا هم وجود ولري، نو له دې سبـــــبه شاګردان باید دا خبره په یاد ولري چې یوبل سره ښه و پیژني د یو او بل په وړاندې له زغم نه کار واخلي او د یو بل فرهنګ او معتقداتو ته احترام وکړي او له هر راز تفوق غوښتنې څخه ډډه وکړي.

په مورنۍ ژبه د زده کړې حق :

د ښوونې او روزنې په برخه کې په مورنۍ ژبه زده کړه له مهمو مسئلو څخه ده چې په نړیواله ټولنو کې دا موضوع د زیاتې پاملرنې وړ ګرځیدلې ده، مثلاً : د پاریس د یونسکو په کنفرانس کې ټولو ګډون کوونکو هیوادونو دغه وړاندیز له جنجاله په ډیره اسانۍ سره پرته له هر ډول اعتراض منلی او ټینګار یې کړیدی چې ماشومان مخکې له دې چې له دوویمې پا دریـــیمې ژبې سره آشناشي، باید د ښوونې په لومړنۍ دوره کې په مورنۍ ژبه زده کړه وکړي او لیک لوستې شي. دغه موضوع د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون په یوه

ماده کی هم منعکس شوې او هغه ته ځانګړی پاملرنه شویده. باید وویل شی چی ابن خلدون اووه پیړۍ مخکی د روزنی دې مهم کارته اشاره کړې او ویلې چی: «د علومو زده کړه باید د شاګردانو په مورنۍ ژبه وشی څو هغوی ته زده کړه اسانه شی.» (۲۸)

له وچ دسپلین او تنبیه څخه ډډه کول:

تنبیه د یو ازار ورکوونکی یا تنبیه کوونکی محرک له وړاندې کولو څخه عبارت دی چې د یونامطلوب سلوک په وړاندی او د هغه سلوک د احتمالی کمښت لپاره کارول کیږی، د ساری په توګه: که چیری یو ماشوم دیو نامطلوب چلند له سرته رسولو وروسته هغه په څپیړه ووهو، غوارُوچی د هغه نامطلوب سلوک د راپیداکیدو احتمال لږ کړو ګواکی هغه مو تنبیه کړیدی. (۲۹)

په دې مثال کی، خپله څپیړه محرک یا یو ازار ورکوونکې پدیده ده، او د ماشوم د یوې بدی خبری وروسته د ښوونکی له خواهغه په څپیړو وهل، تنبیه نومیږی. باید په پام ولرو چی د تنبیه له نیمګړتیاو او مشکلاتو څخه یو هم د هغه جانبی عوارض دي چی په روزنیز ډول ډیر نامطلوب دي. ددغه عمل یوه جانبی عارضه دا ده چی د شرطی کلاسیک تیوری له مخی د تنبیه عمل په شرطی بڼه بدلیږی او د تنبیه کوونکی په سلوک کې د تداعی شکل پیدا کوی او په دې توګه له تنبیه کوونکی څخه د تنبیه شوی شخص د کرکې او نفرت سبب ګرځی په دې مانا چی که چیری تنبیه شوی پوه شی چی تنبیه د ده په خیر او ښیګڼه سر ته رسیدلی ده او تنبیه کوونکی د مهربانۍ او زړه سوې له مخې هغه تنبیه کړیدی، بیا هم د تنبیه څخه د نامطلوب حاصل انګیزه د شرطی ځواب په ډول بدلیږی او تنبیه شوی شخص د تنبیه کوونکی په نسبت د کرکې احساس کوی.

والتـــرز (Walterz) او بندورا (Bendura) داسې ځیرنې او کتنې ترلاسه کړی چی ښییې:

هغه کسان چی د نورو په وړاندی د خلکو د تنبیه کیدو شاهدان او ناظران ؤ دوی پخپله په نورو وختونو او ځایونو کی د نورو کسانو په تنبیه اقدام کړیدی، همدارنګه (بندورا) ویلی چی هغه شاګردان چی حتی د نورو د تنبیه کیدو حالتونه ګوری وروسته په ځان کی د تنبیه شوی رفتار تقلید کړیدی. نو ځکه هغه ښوونکی چی د ټولو زده کوونکو په مخکی له تنبیه څخه استفاده کوی، په حقیقت کی خپلو شاګردانو ته د جنجال او لانجو درس ورکوي. ډیر ځلې لیدل شوی چی هغه کوچنیان چی د ښوونکی او یا د خپلو والدینو له خوا وهل او

ټکول کیږی د دوی په غیاب کی هغوی د نورو کوچنیو ماشومانو په وهلو او ټکولو پیل کړیدی.

جار او جنجال یا پرخاشگری د تنبیه یوه بله عارضه ده، د مشهور ارواپوه سکنر (Skiner) په نظر په انسانانو کی یو طبیعی او فطری استعداد شته چی د هغه په اساس وګړي د هغو کسانو په مقابل کی چی په مینه او محبت له دوی سره رفتار کوی له محبت نه کار اخلی، دهغه په عقیده : دغه استعداد د تعمیم وړ وی او په هر چاکی چی پیاوړی کیږی نو هغه به له ټولو خلکو سره په مینه او محبت رفتار وکړی.

برسیره پر دې د تنبیه له نامطلوبو جانبی عوارضو او د چلند د تعبیر د نورو تنبیهی لارو چارو څخه یوه هم دا ده چی که چیری دغه روشونه دوام پیدا کړي، تنبیه شوی شخص ښایې په پای کی په تنبیه کوونکی بریدوکړی، د ساری په توګه هغه تنکی ځوانان چی له ماشومتوب څخه د خپل ښوونکی یا پلارتر وهلو لاندې راغلی وې ښایې په پای کی یوه ورځ د هغوی په وړاندی ودریږی او دښوونځی د سامان آلاتو په ماتولو او خرابولو لاس پورې کړی، یا د کورنۍ غړیو، ښوونکو او د ښوونځی مسئولینو ته ستونزې پیښ کړی.

هغه دلایل چی د لږ تنبیه کولو لپاره، ښودل کیږی زیات تشریح ته اړتیا لري. ځکه لیدل شوی چی ځینی ښوونکی، زده کوونکی بیابیا تنبیه کوی.

لومړی، هغه ښوونکی چی زده کوونکی بیابیا تنبیه کوی، باید پوه شی چی دغه عمل ورو ورو خپله اغیزه دیوې اصلاحی وسیلی په توګه له لاسه ورکوی. او ورو ورو کنترول یې په درسی ټولګی باندې د تنبیه له لاری کمزوری کیږی او زده کوونکی دهغه د چلند په وړاندې مصئونیت پیدا کوی او د هغه بدې رویې سره عادت نیسی. هغه ښوونکی چی په په بدې رویې سره په تنبیه لاس پوری کړی ورو ورو د زده کوونکی په وړاندی د یو غیر معمول کس په توګه ښکاره کیږی او رفتار یې زده کوونکی ته بیلګه او مثال ګرځی، مثلاً : هغه ښوونکي چی د جزئی عمل په وړاندی خپل شاګرد تنبیه کوی، هغې ته دا عقیده پیدا کیږی چی دې هم د ښوونکی په څیر تقلید وکړی او پر نورو برید وکړی.

دوهم دا چی له اندازی زیات تنبیه ښایې چی دزده کوونکی د درسی فعالیتونو د پراختیا مخه ډپ کړی، د ساری په توګه : کله چی د سپورت ښوونکی یو لوبغاړی په والیبال کې د کمزورې لوبی په خاطر بیا بیا تنبیه کوی، ښایې چی بیا دې په دې لوبه کی ګډون ونه کړی او یا دا چی یو زده کوونکی د زیات تنبیه له کبله ښوونځی پریږدي. او که چیری

ښوونځی، هم پری نه ږدی بیا هم په غیر عادی حالاتو لکه د حواسو په خرابی یا په ټولګی کې په عدم تمرکز، چورت وهلو، ناآرامیو اخته کیږی او له نورو سره په وهلو او ټکولو لاس پورې کوی.

لنډه دا چی تنبیه د ښوونکی او شاګرد ترمنځ ډیرې مسئلی او جنجالونه رامنځ ته کوی. د ماشوم یا زده کوونکی په نظر کی د ښوونکی اعتبار خرابیږی او له هغو څخه یې په ټولو کارونو کی باور له منځه ځی پدې توګه شاګرد ښوونکی خپل دښمن کنې او له دوی سره هیڅکله اړیکی نه نیسی. له بلی خوا تنبیه کله کله د ډله یې ز مقاومت لامل ګرځی، یعنی کله چی ښوونکی یو زده کوونکی ترتې، ټول زده کوونکی د هغه پر ضد پاڅیږی او هغه د ښوونې او روزنې د کارونو له دوام څخه منع کوی.

د تنبیه او نورو تنبیهی لارو چارو څخه د کار اخستو بی شمیره زیانونو ته په پام سره لازمه ده چی هیڅکله له هغو څخه دزده کړې په بهیر کی استفاده ونه کړو څو له ښوونځی څخه د زده کوونکی د تیښتې او په زده کړه کی د ګډون له حق څخه د هغوی د دلسردی زمینه برابره نه کړو.

لازمه ده چی له نورو لاروچارو څخه د ناوړو کړو وړو دکموالی له پاره ګټه واخستل شی. دغې لارې چارې عبارت دی د زده کوونکو د ښوکارونو په وړاندې ډیره پاملرنه او هغه زده کوونکی چې سم کار نه کوی د هغې په وړاندې بی توجهی.

ترسره شوی څیړنې ښیې چی د ښوونکی په وسیله د شاګردانو د ستاینې اغیزی شاګرد ته پاملرنه، هغه سره نژدی والې، صمیمیت او داسی نور عوامل د دوی د ناوړه سلوک په کمښت او د غوره کړوړو په پیاوړتیا کی مرسته کوی. معمولاً ښوونکي د شاګردانو ناوړه کړوړو ته پام نه کوی او یواځی که چیری له هغوی څخه یو ناسم عمل وګوری ورته یادونه کوی، خو بهتره دا ده چی دزده کوونکو ښه رفتار وستایې او تقویه یې کړي.

شاګردانوته پاملرنه په هره ښه چی وی هغه وخت په زړه پورې اغیزه لری چی په هغو عواملو کی کمښت راولو کوم چی شاګرد ته د ناآرامی سبب ګرځی، یو ځای وي. په دې ډول، هغه اغیزی چی ښایي د ماشوم په ذهن کی پاتې شی، ورو ورو د هغه سلوک او غوره کړه وړه پیاوړی کیږی.

که چیری ښه زده کوونکی خپل کار سم ترسره کړی او سلوک یې په زړه پورې وي، په خندا، خوشالی او شاباش سره هغه و هڅوی!

په بی لارو او بدرفتارو ماشومانو کی د غوره کارونو موندل، په لومړیو ورځو کی زیات اهمیت لري. حتّی که چیری یو زده کوونکی څو شیبې وړاندې مثلاً ښوونکی په تیرو وولي، خو اوس پخپلو درسی دندو لګیا وی، باید د هغه دغه کار چی ددرسی دندې ترسره کول دي، وهڅوی! دا کار ښائی چی د هغه د شرمنده ګی او پښیمانی سبب شی او د ښوونکی په لور دبیا تیرو ویشتلو څخه ډډوه وکړی.

ښکاره ده، زده کوونکی ته د ښوونکی هره پیرزوینه او ستاینه زیات اهمیت لري، خو کله کله چی د پاداش موده اوږدیږی هومره د ستاینې اغیزه په ماشوم کې باقی پاتې شی. د شاګرد دوامداره ستاینه یعنی د شاګرد د ښو کارونو، تعریف او ستاینه په ټولګی کې د دسپلین له ټینګیدوسره مرسته کوی.

په اساسی ډول ښه درس لوستل، ټولنیز ګټور کارونه کول او د مقرراتورعایت او پلی کول په شاګردکی باید وستایل شی. په تیره بیا په هغه وختونو کی چی شاګرد د فردی کار په سر ته رسولو بوخت وي، د بیلګی په توګه یو زده کوونکی په مناسب وخت په درس کی لاس پورته کوی، پوښتنې ته ځواب وایي، لارښودنو او دستورونو ته پاملرنه کوی، پخپل ځای مطالعه کوی. ښوونکی باید کوښښ وکړی هغه نور هم دهڅوی او په خپله ستاینه او هڅونه کی نوی والی رامنځته کړی او هر زده کوونکی په نوې بڼه وهڅوی!

ښوونکی باید شاګرد ته له کتره او کنایې څخه ډډه وکړی، د ستاینې پر مهال خوښ او خندان اوسی! ښایې په لومړیو پړاونو کی ښوونکی دا احساس وکړي چی له حده زیات له هڅوونکی عمل څخه کار اخستي، خو دوخت په تیریدو سره وروروو دغه احساس له منځه ځی. د روزنی پوهان په دې آند دي چی که چیری کله کله تنبیه ته ضرورت پیښ شی، باید چی د تنبیه څخه د راپیدا شویو منفی اغیزو د مخنیوی لپاره دغه لاندې لارښودنې په پام کی ونیول شی:

- په دې دلیل چی تنبیه له اخلاقی نظره سم نه دی او په بیا بیا پلی کولوسره بی اغیزې کیږی، زده کوونکی ډیر لږ تنبیه کړی.
- زده کوونکی پوه کړی چی د څه لپاره دوی تنبیه شویدی
- د زده کوونکو هغه کړه وړه ته چی غوره او ښه وي پراختیا ورکړی او تقویت یې کړی.
- په تنبیه کی له بیلابیلو لارو څخه ګټه واخلی لکه: له پامه غورځول. جریمه کول او داسې نور....

- له جسمی تنبیه څخه په هر صورت کی ډډه وکړی.
- د قار او غوسې په وخت باید په تنبیه لاس پوری نکړی.
- زده کوونکی باید د منفی عمل د ارتکاب پر مهال تنبیه کړی، نه وروسته له هغه.

۲ – دغوره ښوونکی صفتونه او شرایط :

معلمی یو مهم او ستونزمن کار دی او دغه غوره مقام او مسلک ته د رسیدو امکان په ځانګړو شرایطو پوری اړه لری، هر څوک ددې مسلک وړتیا او قابلتیا نه لری، ځکه هغه باید د پوهی او علم، اروا پوهنی او د تدریس له فنونو څخه خبر وی. زده کړه او تدریس ځکه یو حساس او ظریف کار دی چی په هغو کی لطافت او ظرافت مطرح دي. د انسانانو په رغبنت او جوړونه کی او ددوی د فکر او ذهن د بدلون لپاره باید له دغو ظرافتونو او نازکیو څخه کار واخستل شی. نو له دې امله هر څوک چی په یوه ځانګړې څانګه کی لیک لوست یا څه معلومات ترلاسه کوی. نشی کولای یو بریالی ښوونکی واوسي. هغه څوک کولای شی په ښه توګه د ښوونکی له سپیڅلی دندې څخه بریالی ووځی چی دغه لاندی صفتونه یې په برخه وی :

الف – د روغتیا په برخه کی :

ښوونکی باید په ساری ناروغی اخته نه وی څو زده کوونکی دهغه په ناروغی اخته نشی، جسمانی نیمګړتیاوی د معلمی د کار مانع نه ګرځی، ولی باید په شو هغه څوک چی روغتیائی حالت یې ښه وی په کار کی به بریالی وی. همدارنګه هغه ښوونکی چی په جسمی ډول نیمګړی او ناقص وی ښایې چی پر زده کوونکو یې د نه تسلط سبب شی او ډیر ځلی داسی پیښیږی چی په دې برخه کی د سپکاوی مسئله او له موقعیت نه د ناوړه استفادې موضوع هم مطرح شی. برسیره پر دې د ښوونکی ظاهری حالت د شاګردانو پر شخصیت مستقیم اغیز لري، ښوونکی باید په پاکی او نظافت کی د زده کوونکو لپاره یوه بیلګه وي.

ب – په روانی برخه کی :

ښوونکی باید له روحی سلامتیا څخه برخمن وي، داسی څوک وی چی د روغ او سالم روح او بدن خاوند وی، ښه دقت ولري، دارزونې توان ولری، بافکره او هوډمن وي ،زغم ولري،

دروحی انډول څښتن وي،له شخصیتی اختلالاتوڅخه لری او خوندی وی ،پر ځان واکمن اومسلط وی ،مستعد او دقوی درک لرونکی وی دمستقل ځواک لرونکی اودمسایلوپه فهم قادروي،لازمه نه ده چی نابغه وی خو ضروری ده چی له متوسط حده یو څه پورته وي.

ج ـ د اداري یا مدیریت په برخه کی :

ښوونکی باید مدیر یا اداره چی وي ،دزده کوونکو او دټولګی اداري ځواک او وس ولري. دټولګی اداري له فنونو او لارو چارو ښه خبر وي ، غږ او لهجه یې رابښکونکې وی، او دلزوم په صورت کی آمرانه وی ، چی وکولای شی جلب او جذب وکړی. نیمګړتیا وی پریږدی، په ښه چلند او سرکشیوکی ښه وکولای شی ټولګی او شاګردان مهار کړی ، پرته له دې چی فریاد او چیغوته اړتیا وی.

د – دپوهې او مفاهمی په برخه کې :

ښوونکی باید ددرس پر موضوع پوره برلاسی ولري، معلومات او عمومی اطلاعات یې پر اخ وي، دپوهې څراغ یې په لاس وی،څووکولای شی نورو ته لارښونه وکړی،همد ارنګه هغه باید د روزنیزو علومو څخه پوره معلومات ولری او د اړتیاوړاصول اوقوانین په لاس کی ولری اود نورو روزونکو نظریات ولولی او پریې پوه شي او دبیلابیلوښوونځیو ، افکارو اوعقایدوڅخه باخبره وي.

ذ ـ د مطالعې اوڅیړنې په برخه کې.

لازمه ده چی ښونکی تل دخپلو معلو ماتو دایره پراخه کړی اوخپل افکا ر وازمایي ، تل د ې دپرمختک په حال کی وی ، دتجربي لپاره دې څیړنې او نوښت وکړی، خپل معلومات او اطلاعات دې زیا ت پراخه کړی، په یوه شپه او ور ځ کی څه ناڅه کتابونه مطالعه کړي اودعمومی معلوماتو دحاصلولواو خپل درسی فعالیتونو دښوالی له پاره ورځنی مطبوعات له نظره تیر کړی.

ر - دتدریس دلاروچارو په برخه کی :

ښوونکی باید دزده کړی له روشونو اودروزنې له لارو چارو باخبروي، درسی لارې چارې ورته معلوم وی او داخلاقی ستونزو دحل په لا ره کی ځواکمن وی، دماشومانو دتدریس اوروزنې په لاروچارو ښه پوه وي. ښوونکی باید چې داسی اداری توان ولری چی دزده کونکو په وړاندې او د هغوی دناوړو کړو وړو په اړه غوښ عکس العمل او دریځ غوره کړی.

ز ـ د پوهی په برخه کې:

ښوونکی ته لازمه ده چی له ټولنیزې پوهې څخه برخمن وی ، له فر هنګی ، ملی او نړیوالو مسئلو اوبدلونونو څخه خبروی ، په سیاست، اقتصاد ، علم، ادبیاتو او ټولنیزو مسائلو کی یو مقعول او سنجول شوي دریځ ولری او په مسایلو کی له ځانه منا سب عکسل العمل او څرګندې نظرې وړاندې کړی اوښېګنې او نیمګړ تیاوې رابرسیره کړې.

ح ـ دعقیدی او ایمان په برخه کی :

ښوونکی باید داسلام دین ته، پابند وی کوم چی دی، په ټولګی کی دهغه یا دونه کوي، دې باید د کلک ایمان او عقیدې خاوند وی، داسې رښتینی ایمان چی له هر راز شک ،وسواس نه لرې وی ، دی نه یوازی په حق ایمان ولري بلکی پخپله هم دحق کلک ملا تـړکوونکی وی ، په عدالت ولاړوی او هغه په خپله ټولنه کی پلی کړی .

ت ـ د اخلاقو په برخه کی :

ښونکی باید په اخلاقی لحاظ خپلواک ، نجیب صادق او رښتینی انسان وی او دپوره زغم او فداکاری خاوند وی، ناپییلې، متحمل، منصف وی ،تنبل نه وی ، همدا شان لازمه ده چی وظیفه پیژندونکی وی ،آرام ، زړور او له چاپلوسی اوچټیاتو لری وی ، تند خویه نه وی، متین با استقامت ، مؤدب وی او دشرافت ، اعتدال ، لوړ فکر او ښو کړو وړو څښتن وی .

ی ـ له زده کونکو سره داړیکو په برخه کی :

ښوونکی باید زده کوونکی وپیژنی ، دهغوی دکورنی له وضعې ، دهغوی دفکر له څرنګوالی، کړو وړو، او استعداد څخه خبروی . همدا رنګه لازم دی چی تریوه بریده دزده کوونکی له درې څ او ټولنیز ژوند ،د دوی دیوبل سره له اړیکو ، نیت او نظر، خود سریو څخه با خبروی ، ځکه داکار دماشوم په روزنه کی اغیزمن دی .

ـ دعمل په برخه کی :

- ښوونکی باید په خپل علم او خبرو باندی عمل وکړی او دخبرو او کړونو او افکار و تر منځ یې تل وحدت او یووالی موجود وی، عمل یې له وینا سره یو شانتی وی ، په عمل کې باید تقوا هیره نه کړی چی دا به پخپله له ښوونکی څخه دشاګرد دکرکې سبب ګرځی.

خبری دې کمی او کار دی زیات وکړی څو زده کوونکی یې پر حکم او لارښوونو عمل وکړي.

دیادونې وړه چی دهغو څیړنو له مخی چی دنړۍ په یو هیواد کی دښوونکی دښو صفتونو او خویونو په باب شویدی او هغه ځوابونه چی ډیر زده کوونکی د خپلو ښوونکو ځانګړتیاوو په باره کی پو ښتنو ته ځواب ور کړیدی ، په زړه پوری اطلاعات لری . په دې معلوماتو کی ښکاره شوی چی اصولاً زده کوونکی له بل هر چانه خپل ښوونکی ښه پیژنی او دهغوی له کمزوریو او مثبتو اړخونو او اخلاقی اړخونو څخه له نورو نه زیات خبرتیا لري.

دفرانک هارت څیړنی (Frank Hart)چی دښوونکو په باب کې دڅانوی دورې دسو زرو تنو زده کوونکو نظریې راټولې او تنظیم کړیدی،پخپل وارسره په دې باره کی خورا بشپړه څیړنه کړی ده – له دغو سو زرو تنو زده کوونکو څخه پو ښتنه شوی ده چی څه دلیلونه ددې باعث ګرځیدلی چی یو ټاکلی ښوونکی ته له نورو ښوونکو زیات مینه وال دی او همدا رنګه یو بل ښوونکی ته ولی دومره بی علاقه ګی ښودلی دی .

له ځوابونو چی پدی اړه له (۲۴) څلور ویشتو ځانګړو ټولګیو څخه تر لاسه شول هغه لاملونه ښودل شوی دی چی ښوونکو ته دزده کوونکو علاقمندی څرګندوی او همدا رنګه هغه لاملونه هم په ګوته شوی چی له ښوونکی سره دبی علاقی ننبې او ننبانې څرګندوی .

فرانک هارت دغه دلایل د زیات تکرارله کبله ردیف بندی کړی چی پدی دلیلونو باندی پوهیدل هر ښوونکی ته ګټور ثابتیږی .

هغه دلایل چی د زده کوونکو دعلاقمندی سبب شویدی عبارت دی له :

- د ښوونځی له کار او فعالیت سره مینه لری او تل مرستی او لارښوونې ته چمتو وی
- خوښ او خوشال ، دښه اخلاق او پاک زړه خاوند دی او ظریفه طبع لری .
- رفتار یې دو ستانه اود ملګرتوب بڼې لری لکه ځان غوندې له مور سره تلنه کوي .
- دزده کوونکو له پر مختک سره مینه لری او هغوی ښه پیژنی او د خپل ټولګی د زده کوونکو له فردی توپیرونو، ځواکمنی او استعداد څخه خبر دی .
- درس یې په زړه پورې دی ، درسونه او دندې په ښه توګه تشریح کوي کولای شو درس یې ښه زده کړو ،خپل زده کوونکی کار او فعالیت ته هڅوی .

- دتدریس په کار کی دقیق او سختگیر دی ، با انضاط او هوښیار دی کولای شی ټولگی ښه کنترول کړی .
- دشاگردانو تر منځ فرق اوتوپیر نه کوی .
- اندک رنج ، تر یو وچلی او ډیر انتقاد کوونکی نه دی په کتره او کنایه او سرزنش سره خبري نه کوی .
- ښه شخصیت او ښه قیافه لری ، غږ یې ښه دی .
- زغمناک ، ملایم ، صمیمی ، مهربان او زړه سواند دی .
- دنمرو په ورکولو کی عادل او منصف دی ، عادلانه قضاوت کوي .
- غواړی چی زده کوونکی یې خپلی دندی په غور او دقت سره تر سره کړی ټول زده کوونکی مجبوروی چی ښه کار وکړی ، هغه دندې چی تاکی له درس سره یې تړاو لری
- د زده کوونکواحساسات دنورو ملگرو په وړاندی نه ژوبلوی ،دادبی بنسټیزو مسئلوسره پوره پیژندگلوی لری او په ټولگی کې یې سړی دآرامی احساس کوي .
- پخپل درس باندې واکمن دی او کولای شی ښه درس ورکړی ، خپل درسی فعالیتونوته په ټولگی کې پلان او برنامه لري .
- دزده کوونکو نظریو ته درناوی کوی او تل په ټولگی کې بحث او مناقشی ته اجازه ورکوي .

ځان نابغه او عالم الدهر نه معرفی کوی .

- د ستونزو په لرې کولو او دزده کوونکو په مسایلو کی مرستی ته تیار دی آن که چیرې دغه ستونزې په شخصی مسایلو پوری اړه ولری اویا له ټولگی څخه خارج وی .
- ښه او مناسبه جامې اغوندی، مرتب، اراسته، پاک، ساده، با ذوق اوبا سلیقه دی .
- دمعلمی مسلک سره مینه لري .
- بشپړ او پراخ معلومات لري، درس په موضوع کې له درسی موضوع زیات معلومات لری .
- وخت پیژندونکی دی .

دیا دونې وړ دی چی ددغو پو ښتن لیکونو په وړ اندې کولو کی ځینې یې بیا داسی دلیلونه وړاندی کړی چې د هغی له مخې دشاگرد د بی علاقه ګی سبب گرځی دغه دلیلونه دا دی :

- بد مزاج ، تریو وچلی او کوت نیونکی دی، هیڅکله نه خاندي ، کتره او کنایه وایې، په آسانی سره خپله خونسردی له لاسه ورکوی .
- د ښوونځی له کارو سره مینه نه ښئی . درسونه او دندې ښکاره نه وی او درس نه تشریح کوی . کار یې پلان او برنامه نلری .
- دزده کوونکو تر منځ توپیر او تبعیض قائلیږی ، دځینو په برخه کی ډیره نرمی ښکاره کوی او ځینی نور تر سپرېمو رسوی .
- مغرور او کلانکاره دی ، خپل شاګردان له ټولګی نه بهر نه پیژنی .
- بی حوصلې، بد رفتار ، کج خلق او مردم آزاره دی ،سړی له ژونده بیزاره کوی .
-په نمرو ورکولو کی انصاف نلری ، په ازموینه کې له عرضه ګټه اخلی ، سخته ازموینه اخلی .
- د شاګردانو فکر او احساساتو ته اهمیت نه ورکوی ، په شاګردانو باندی د ټولګی په مخکی شور ما شور جوړوی او په ټولګی کی ویره او تر هه رامنځ ته کوی
- دخپلو شاګردانو کار اوکوښښ ته ارزښت نه ورکوی او دهغوی بری او پر مختک ته علاقه نه ښئی .
- په ټولګی کی یې هرج ومرج وی ، موږ یې له درسه څه شئ نه زده کوو .
- ددرس پر مهال ، دموضوع په هکله سمی خبرې نه کوی ، پخپلو خبرو کی دغرور مطالب او شخصی مسایل داخلوي ، ډیرې خبرې کوي .
- درس یې خسته کن دی ، په زړه پورې نه دی ، کومې دندې چی سپاری منطقی او مناسبی نه دی .
- معلومات یې بد نه دی خو نشی کولای هغه ښه بیان کړي ، معلومات یې دتدریس لپاره کافی نه دی
- په ټولګی کی خپل شخصی مسایل بیانوی ، دمعلمی دمقام شرایط نه مراعاتوی .
- دشاګردانو دکار په وړاندی ډیر سخت ګیر دی په شاګردانو کی د فعال او خپلواک زده کړې له پاره انګیزه نه رامینځه ته کوی .
- دشاګردانو نظریو ، وړاندیزونو او قضاوت ته ارزښت نه ورکوی .
- پخپلو څرګندونو او پریکړوکی ډیر د باور وړ شخص نه دی .
- بیحاله ، سست او تنبل دی ، خپل مسلک ته معتقد او علاقمند نه دی .

- له شاګردانو سره زړه سواند ، صمیمی او مهربانه نه دی .
- بی تناسبه جامې اغوندی ، سر او صورت یې منظم نه دی .
- لازم شخصیت او کفایت نلری ، غږ یې بد دی .
- د شاګردانو فردی توپیرونو او استعدادونو ته پاملرنه نه کوی .

شپږم فصل

د ماشوم د حقوقو په ساتنه کې د مور او پلار ونډه:

هغه عوامل چې د انسان په کړوړو باندې زیاته اغیزلري یو هم د کورنۍ چاپیریال ده، د کور چاپیریال هغه لومړنی عامل دی چې د انسان د شخصیت په وده کې اغیزه اچوی. په دې کې شک نشته چې ماشوم ځینې ځانګړتیاوې له خپلو والدینو څخه په میراث وړي او په دې توګه مور او پلار د افرادو دودې او پرمختګ زمینه برابروي.

په یو مبارک حدیث کې راغلی چې ترجمه یې دا دی : د مور او پلار ننبې نښانې تل په اولادونو کې څرګندیږي.

دانسان په کړو وړو او چلند کې د مور او پلار اغیزې یواځې په ارثي اړخونو پورې محدود نه پاتې کیږي، بلکې د ټولنې ډله ییزه ژوند او فرهنګ په بلدتیا کې هم کورنۍ پر ماشوم اغیزنا که ونډه ترسره کوي، د ماشوم ژوند په کورنۍ چاپیریال کې د کورنۍ د غړیو تر مستقیمې اغیزې په تیره بیا د مور او پلار او نورو تر اغیزې جوړښت پیدا کوی او پیاوړی کوی یې.

کور هغه ځای دی چې کوچنی پکې بیلابیلی چارې زده کوي، کله کله مور او پلار په آګاهانه ډول ځینی شیان کوچنی ته ور زده کوي، مګر ماشوم په بیلابیلو وختونو کې د مور او پلار له کړو وړو څخه داسې منفی شیان زده کوی چې پخپله د هغوی ورته پام نه وی په ربنتیا چې ماشوم ددغه کوچنی چاپیریال له لارې له بهرنۍ نړۍ سره آشنا کیږی او له نورو سره د کړو وړو څرنګوالې زده کوی.

له بلې خوا، کوچنیان ټولو انسانانو ته محترم او عزیزدي. پر مور او پلار نه یواځې خپل بچیان ګران وی، بلکې د انسانی عواطفو پر بنسټ ټولو کوچنیانو ته په مینه او محبت ګوري او کله چې لازمه وی د هغوی ملاتړ کوي. د ملګروملتونو سازمان هم، هماغسې چې مخکې ورته اشاره وشوه د انسان لوړ مقام او د هغه ربنتینې ارزښتونو ته په پام سره په خپرونو او بیلا بیلو پریکړو کې لکه (د ماشوم د حقوقو نړیوالی اعلامیې) او (د ماشوم د حقوقو کنوانسیون یا ترون) کې ټول ماشومان ددې د پاره چې د جسمی او روحی ودې په درشل کې دی او د بشریت راتلونکی ددوی په پوهې، روزنې او انسانی کړ وړو پورې اړه لری، ځانګړی پاملرنه کړیده او هغه یې د ملاتړ او زیاتی ځارنی وړ بللی او د نړۍ ماشومانو ته یې د ژوند له وسایلو او روزنې څخه د برخمن کیدو له پاره د لومړیتوب حق ورکړیدي لکه چې د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون د ۱۸ مادې په (۱) بند کې لولو: «دغه کنوانسیون ته په ژمن هیوادونو کې ددغه اصل د پیژندنې لپاره خپل ټول زیار په کار اچوی او له والدینو څخه هر یو د ماشوم دودې او روزنې په برخه کې ګډ مسئول ګڼې والدین او یا د ماشوم قانونی سر پرستان د ماشوم د روزنې او ودې اساسی مسئولیت په غاړه لری، د ماشوم د روزنې په بهیر کې باید د کوچنی لوړو ګټوته اساسی پاملرنه وکړی» په دې باره کې چې ولې مور او پلار د ماشوم د روزنې او ځارنې مسئولیت په غاړه لری؟ او یا په کوم دلیل د هغوی په ساتنه مکلف شویدی؟ راز راز دلایل وړاندې شویدی.

یو شمیر پوهان په دې آند دی چې د مور او پلار مسئولیت او د اولادونو حق د طبیعی دندو او حقوقو په جمله کې راولی، له دغو پوهانو څخه یو تن وایې: «ماشوم هغه انسان دی چې له خپلې ارادې پرته نړۍ ته راځی، نو پر هغو کسانو چې ژوند یې پری تپلی دی زیات حقونه لری.» (۷۰)

دا یو منل شوی حقیقت دی چې کوچنی پر مور او پلار زیات حقونه لری ځکه چې د دوی وجود د مور اوپلار په وجود پورې تړلی دی او له زیږیدو وروسته لکه بلل شوی او نابلل

شوی میلمه د مور او پلار پر دسترخوان راټولیږی، د اسلام سپیڅلی دین هم دې ته اشاره کړیده. د اسلامي فلسفی له نظره : ماشومان ستاسی میلمانه او د خدای (ج) له خوا تاسی ته امانت درکړ شویدی، تاسی د هغوی په وړاندی دندې او مسئولیتونه لری او د هغوی له خوا ستاسې پر غاړه حقوق دي چی باید دغه حقوق ستاسی له خوا ادا شی، هغه هم په ښه توګه، دمننی او درناوی پر اساس، پرته له توپیره، بیله دې چی تبعیض مطرح شی.

اوس پاید وکتل شی چی ماشوم پر مور او پلار څه حقوق لری ؟؟

لکه چی لیدل کیږی ماشوم ډیر، مظلوم آسیب منونکی قشر دي، د ځان په ساتنه او د خپلو حقونو او ځان د دفاع لپاره پوره توان نلری، نو پر والدینو لازمه ده چی د کوچنی د ساتنی او روزنی ستر مسئولیت په غاړه واخلی او د حقونو په ساتنه کې یې د همت ملا وتړی، ځکه ماشومان پر مور او پلار باندی ځینی حقونه لری تر څو د هغو په ساتنه او ځارنه کی هڅه وکړی او له هیڅ راز کوښښ نه ځانونه ونه سپموی.

لنډه دا چی د ماشوم راتلونکی برخلیک تر ټولو لومړی د مور او پلار په لاس کې دی. د ماشوم د اساسی ارتیاو څخه یو هم د مور او پلار او نورو له مینې او محبت څخه د برخمن کیدو ارتیاوی دي. هغه ماشوم چی د ژوند په لومړیو کلونو کی د مور او پلار له مینې څخه بی برخې وي په کور کی د بی امنیتی احساس کوی، له ژوند څخه خوند نه اخلی، زیاتره وچ، سوړ او له نورو سره بی مینې او بی علاقې وی او په اخلاقی اصولو او قوانینو باندی چندان پا بند نه وي، اما برعکس هغه کوچنی چی د مور او پلار له مینې څخه برخمن وي، له نورو سره د همغږۍ کیدو توان لری، د سکون او ارامی احساس کوی. په هغه کی د اعتماد او باور ځواک زیاتیږی او د اخلاقی معیارونو او ارزښتونو په اړه حساس وي.

بر سیره پر دې ځینې والدین نه غواړی پر خپلو بچیانو باندی خپل هدف وتپی، خو کله کله دوی خپل د بچیانو د نیکمرغی او خوشبختی لپاره، هغوی د ځانګړو کارونو د سرته رسولو لپاره اړ باسی، باید وویل شی که چیرې د والدینو هیلی او غوښتنې د ماشوم له امکاناتو، استعدادونو او ځواکمنیو سره سمون ونلری نو تر فشار لاندې راځی او په زوره یو داسې کارته لاس اچوی چی خوښ یې نه وی.

ماشومان هغه وخت چی د مور او پلار بیځایه غوښتنو په وړاندې قرار ولری، کله کله مجبوریږی خپل غوښتنی او ارتیاوې د هغه څه لپاره چی مور او پلار یې غواړی، قربان کړي او دمور او پلار نظریو او غوښتنو ته تسلیم شی، د مور او پلار بیځایه هیلې او

غوښتنې د ټاکلو کارونو په سر ته رسیدو کی د کوچنیانو د ماتې سبب ګرځی، کله کله مور او پلار تمه لری چی ماشوم یې د ریاضی یا طبیعی علومو په مضمون کی اعلی نمره واخلي، خو هغه نشی کولای په دغو څانګو کی اعلی نمره ترلاسه کړی. په پای کی له ماتې سره مخامخ کیږی او له دې ویرې چی والدین یې له نورو ماشومانو سره پرتله کړی او د هغو سره بې مینې شی، ښایې چی په ټګی لاس پورې کړی. کله کله ماشوم په هیڅ ډول نشی کولای د مور او پلار له غوښتنې سره سم عمل وکړی، په دغسی حالتونو کی امکان لری د بی پروائی یا شوخی حالت څانته غوره کاندی او په پایله کی له والدینو سره خپلی اړیکی پرې کړی. کله چی ځینې ماشومان و نشی کولای د خپلو والدینو له غوښتنو او هیلو سره سم اقدام وکړی، د حقارت احساس کوی او ځان بې ارزښته ګڼي او د هر چا او هر څه په وړاندی بد بینه کیږی، هغه کوچنیان چی دوالدینو د بیځایه غوښتنو او هیلو په وړاندې واقع کیږی کیدای شی کله کله د روحی ناروغیو سره مخامخ شی.

د پاملرنې وړ ده چی ماشوم د والدینو د کړو وړوپه لیدلو سره دې حقیقت ته متوجه کیږی چی ایا مور او پلار او یا د کورنۍ نوروغړیو له خاصو معیارونو څخه پیروی کوی یا نه؟ او یا د هغوی کړه د یو اصل یا قاعدې تابع ده او کنه ؟؟ ایا دغه معیارونه له یو بل سره سم ورته دی؟ یا متضاد دی؟ ایا مور او پلار یې تل د نورو په وړاندې زغم او حوصله لري یا په یوه موضوع کی بی تفاوته وی او بیا په بل وخت کی ډیر سختګیر وي؟ ایا د والدینو پر کړو وړو د اعمالو واکمن معیارونه د نورو له عمومی ګټو او ښیګڼو ته په پام سره، ټاکل شویدی یا یوائی د هغوی د ګټو او غوښتنو پر محور څرخیږی؟؟ ایا مور او پلار یې سم او عاقلانه تصمیم نیسی او یا ضعیف النفس او متزلزل کسان دی؟ هغه څه چی ماشومان دمور او پلار اویا د کورنۍ د نورو غړو په عمل او کړو وړو کی ګوری، له هغو سره د مینې له مخې یا د هغه اعتبار له مخې چی هغوی ته قایل دی، تقلیدوی یې او له دې لارې خپل اخلاقی بنسټ ټینګوی.

لکه څنګه چی پورته ورته اشاره وشوه والدین د ماشومانو په وړاندی زیات مسئولیتونه او دندې لري، والدین باید د ماشومانو دحقوقو په ساتنه او اعاده کی هاند وکړی څو راتلونکی نسل د خپلو جسمی، ذهنی او عاطفی اړتیاوو سره سم وده وکړي او داسی یو سالم شخصیت ته ورسیږی چی وخت او زمان په تیره بیا ټولنه هغه ته اړتیا لري، دغه حقوق په لنډ ډول بیانیږی:

۱ – د ساتنې او څارنې حق :

د ماشومانو یوه اړتیا داده چې والدینو یې د هغوی څارنه او ساتنه وکړی . دغه اړتیا د ماشوم په وینا او کړو وړو کی د ښې څارنې او ساتنې حق دی. دغه حق داسلام په مبین دین کې د ماشوم په ساتنه او څارنه کی او له شر او خطر څخه په لرې ساتلو کی د خدای (ج) د امانت په توګه ښودل شویدی.

ساتنه او څارنه هغه عامل دی چی کوچنی له شره ژغوری او د ژوند سمه طبیعی لاره ورته وربښئی.

له کومه ځایه څخه چی ماشوم د زیږیدنې پر مهال د طبعیی غریزی له نظره دده له ټولنې سره د انطباق قوه کمزوری دی. نو ځکه ساتنې او حمایت ته زیاته اړتیا لری څو وکولای شی په عادی ډول وده وکړي. والدین چی د ماشوم د نیکمرغی او بدمرغی مسئول دي، باید د هغوی ښو او بدو خویونو ته پاملرنه وکړی او بد خویونه په ښو خویونو سره اصلاح کړی. برسیره پر دې، د ماشوم طبیعت له هر ډول مسئولیت نه لرې او آزاد دی مور او پلار مجبور دی چی هغه تر څارنې او پالنې لاندی و نیسی څو د هغه آزادی په مشروط ډول تر کنترول لاندی راشي. او دنورو د کړو وړو په وړاندې ځان مسئوول وګڼی او په ټولنه کی خپل تعهد او مسئولیت ومنی.

د یادونې وړ ټکی دا دی چی کوچنیان د والدینو د پرله پسی ناز او او نوازش له امله او د هغوی د حمایت او سرپرستی په خاطر ورو ورو جاه طلب کیږی او هر شئی یوائې ځانته غواړی. طبیعی ده چی په دې برخه کی د دغه غرور له امله له هغه نه داسې اعمال سروهی چی ادامه یې دده د فردی او ټولنیز ژوند په ګټه نه وی. نو ځکه د والدینو څارنه هغه هغو بدو لارو نه لرې کوی، کوم چی ده ته خطر لری. او هغه تر خپلی کنترول او اداری لاندې راولي.

د ماشوم څارنه، د ماشوم جسمی او روحی سلامتیا لپاره یوه مثبته لاره ده چی د هغه په سیوری کی کوچنی له خطره لرې پاتې کیږی او له ځینو خطرونو لکه : سوځیدو، غرقیدو، بربښنا نیولو، مسموم کیدو، لویدلو او غورځیدلو څخه هغه ګوښه او لرې ساتی. همدا شان ډیرې داسې ناروغی شته چی د کوچنی جسم او روح ترګواښ لاندی نیسی. مګر د مور او پلار په زیاته څارنه او هوښیاری کیدای شی هغه له دغو خطرونو څخه وژغورل شی او د هغه فکری او جسمی سلامتیا تاء مین او تضمین کړی. باید په یاد ولرو چی د ماشوم څخه

د والدینو څارنه او ساتنه د مفاسدو په کنده کې د هغه د غورځیدو مانع ګرځی او نه پریږدی چی ماشوم له دې کبله له ستونزو سره مخ او ژوند یې له ستونزو سره مخامخ شی. دا یو منل شوی حقیقت دی چی د ماشوم ساده ګی او ژر باورتوب، د هغه لږه تجربه، حتی د هغه غفلت او ناپوهی، په ځینو حالتونو کی ددې لامل ګرځی چی کوچنی د فساد په لوری راوکاږی او له دی لارې تر ناورې اغیزې لاندی راشی البته د کوچنیوالی په پراو کی دوالدینونو اغیزمنه څارنه ماشوم راتلونکی ته دا باور پیدا کوی چی له شر او فساد نه بچ او خوندی پاتې شی، له بلی خوا ماشوم ددې لپاره چی د رغنده ودې پراؤ نه ووهی، امنیت او ارامی ته اړتیا لري، نا آرامه او نا ډاډمن حالتونه د ماشوم پر شخصیت اغیزه کوی او هغه د ژوندانه له اساسی تګلوری څخه په خطا او کږه لار سیخوی البته د والدینو څارنه او پالنه د راتلونکو لپاره ښه عامل دی او دهغه په سیوری کی ماشوم په دی بریالی کیږی چی دودې پراونه په ښه توګه او اسانی سره ووهی او د هدف پر لور پر مخ لاړ شی. بیشکه هر پلار او مور هیله لری چی داسی ماشوم ولری چی په جسمی توګه پیاوړی او قوی وي او د عقل او ارادی له مخې پوره ځواکمن وی.

ښکاره ده چی هر راز خطر چی د ماشوم په لاره کی را پیدا کیږی هغه د ژوند له اساسی هدف څخه لرې کوي چی پدې توګه د مور او پلار څارنه او ساتنه، هغوی دژوند اغیزمن هدف ته نږدی کوی.

د څارنې لمنه ډیره پراخه ده او ټول هغه مسئلی او چارې پکی شاملې دی چی انسان په ژوند کی پخپله له هغه سره مخ وی، دغه څارنی او مراقبتونه دا دی :

- دماشوم د تګ راتګ په اړه څارنه لازم ده څو ښکاره شي چي ماشوم چیري ځي اوراځي اوله چاسره او چیري اړیکی لري.
- په برخورد او کړووړوباندې یې څارنه تر څو ښکاره شی چی ماشوم له چاسره خبرې اترې کوی او تر کومه مقابل لورې له اخلاقی سلامتیا څخه برخمن دی.
- په خبرو اترو کې څارنه څو خبرې یې په حساب او د ضابطی له مخې وی.
- پخپله دده په اړه اود دي د کار او فعالیتونو په اړه څارنه.
- د ادرار او معذرت پر مهال څارنه چی ماشوم هغه بند نه کړی او یا د هغه په دفع او تخلیه کی د کومې عارضې سره مخ نشی او په عین حال کی اخلاقی اړخ رعایت کړی.

- په کنجکاویو کی څارنه په تیره بیا په کورنی ژوند کی چی کله کله بنایي فساد ته مخه کړی.
- د لاسی کارونو یا ابزاری کارونو په سرته رسولو کی څارنه، چې کیداې شی هغه ته جدی خطر ولري.
- په لوبو، غورزو پرزو کی څارنه.
- د آرام چاپیریال، د خوب د خونې او د بیده کیدو او استراحت د کیفیت څارنه.
- له بیلا بیلو خلکو سره د ماشوم د کړو وړو او چال چلند او له نورو سره د هغوی د معاشرې او خلوت څارنه.
- د عواطفو، د قهر او غوسې د احساس، محبت، ویرې او سازش څارنه.

له پورته ټکو څخه کولای شو دی نتیجه ته ورسیږو چی د ماشومانو په اړه د مور او پلار څارنه یوه ډیره مهمه او اساسی مسئله ده. خو باید هغه ته یو حد او اندازه قایل شو، تر څو ماشومان د هغو په سرته رسولو کی ځان په ستونزو او عذاب کی ونه وینی او د هغو مشروع ازادی له منځه لاړې نشی، دماشوم غوښتنی او ارزوګانی ونه ځپل شي اویا ماشوم ځان په قفس کي د یو بندی مرغي په شان احساس نه کړی.

والدین باید دي ټکی ته پام وکړی چی دکنترول تر نامه لاندی هغوی باید دماشومانو ازادی و نه ځپی اویادې د هغوی غوښتنی په بشپړه توګه له مینځه ونه وړی. مور او پلار باید د اغیزمن او مثبت کنترول له لاړې د ماشوم د غوښتنونو او ارزوګانو لاره و نه ټړی، ددوی ځواک ددوی په اختیار کی پریږدي. اوهغوي دې حاکم او مدیر وګرځوی. باید دې ته پام وکړي چه سخته څارنه له هغو ټولو ګټوسره سره چی دماشوم لپاره لری زیات زیانونه هم هغوی ته رامنځته کوی. هغه پدی کار سره دخپلواکی احساس له لاسه ورکوي اوپه ډیرو برخوکی هغه دنا باوری او ګناه احساس کوی چی داکار دهغه وجدان ته لوی خطرپیښوی. ځکه هغه تل له خپله ځانه شرمنده اوخجالت وي.

کله کله هغه څوک چی تل تر زیاتی څارنې او پالنې لاندی وی داسی انګیری چی ګوندې نورو په پرتله نیمګړتیاوې لری او دا کار پخپله د خطر احساس پیدا کوی. همدا رنګه سخت او زیات مراقبتونه کله کله د زغم وړ نه وي او د مقاومتونو او تیښتی له پاره زمینه برابروی. ځینې کوچنیان چی په سخت انضباط سره روزل شوی وي، وروسته بیا بی زړه او

تسلیم طلبه افراد تري جوړیږی او د نورو لارښوونو ته اړ وی، او هم لیدل شوی چی برعکس د نورو حتی د ربنتیا خبرو په وړاندی هم منفی درېځ ښکاره کوی.
بیشکه چی ډیرې وړې مداخلې د ماشوم په ژوند باندی کله کله منفی اغیزه اچوی، د کوچنی زیات رټل دده دخپګان سبب کیږی او دهغه د خجالت او دعقدې لپاره زمینه برابروی او د ده په رغونه باندی منفی اغیزه کوی.
پوهان په دې آند دی چی آن د کوچنی ماشوم له رټلو څخه په داسې حال کی چی ملامت او ګرم هم وی، باید ډډه وشی او یا که چیری کوم کار یې له لاسه پوره نه وی، پری ملنډی ونه وهل شی، همدارنګه باید د یو مهارت د رامنځته کولو لپاره ددوی له کترو او کنایو نه ډډه وشی، ځکه دا کار ماشوم ته ډیر زیان پیښوی، او په پای کی ماشوم ته د مننی وړ نه وی.
شک نشته چی والدین کورنی کی د یو واکمن او برلاسې شخص حیثیت لری نه دیو مستبد او ظالم فردپه توګه. هغوی د قانون د پلی کولو مسئول دی، نه د یو دیکتاتور شخص په توګه. د همدی مقصد لپاره باید د کوچنیانو په وړاندی له داسی یوی لارې نه کار واخستل شی چی دهغه له مخې هغوی د امنیت احساس وکړی او په دی توګه وده وکړی. هغه کوچنیان چی د دیکتاتوری په چاپیریال کی روزل کیږی، په ظاهره کی د تسلیم طلبی او آرام طلبی حالت ځانته غوره کوی، خو وروسته د هیجان او دښمنی حالت ځان ته نیسی، ماشوم ته په دغه ډول شرایطو کی د مسئلو او موضوع ګانو په حل کی ځینې ستونزی رامنځته کیږی چی په اسانی سره د جبران او له منځه وړلو وړ نه دي.
لنډه دا چی، د ماشوم د سلوک د سمون لپاره د ضوابطو، څارنې او ساتنې په سرته رسولو کی ځینی اصول ضروردي. دغه اصول په دې ډول دی:

- د خونسردی، آرامی او متانت مراعاتول په دې ډول چی د ضوابطو د اجراء پر مهال پرځان باندې واکمن او مدیر وی او د اختیاراتو او صلاحیت واکې مو له لاسه ونه ؤځی.
- د قاطعیت رعایت په دې توګه چی اولاد دې تاسی دضوابطو په سرته رسولو کې یو جدی شخص په توګه وه ګڼې او په کار او خبرو مو حساب وکړی.
- پلار اوسئی نه یو ویریوونکی دیکتاتور شخص چی ماشوم د هغه په ماهیت پوه شوی وی.
- په ژوند کی عقلی او منطقی اصول مراعات کړی، نه شخصی غوښتنې او هوسونه.

- هره ورځ په ځانګړې توګه عمل مکوی. څو ماشوم لازه ورکه نه کړی او و نه پوهیږی چی څه باید وکړی؟؟
- ترڅو کولای شئ ماشوم مه رتئ ! او که مجبور وی. چی هغه تنبیه کړی. باید په علت ئی پوه شی او احساس وکړی چی عدالت پکی مراعات شویدی.
- که چیری له ماشوم خطا او تیروتنه سر ووهی هغه ته وخت ورکړی. تر څو په خپله خطا او تیروتنه پوه شی او جبران یې کړی.
- دغه امکان په هغه وختونو کی رامنځته کړی. چی که چیری هغه اشتباه وکړي د هغه په اثر پوه شي او عملاً ځان تري وساتی.
- داسې لارې او شرایط برابر کړی. چی د سن دودې په اندول د هغه له تنبیه او خبرداری څخه کم کړای شی او پخپله د ځان مدیر وي.
- د ضوابطو په اجراء کې له توندخویې او قهر نه ځان وساتی او پری نږدی. چی ماشوم له تاسې نه ناامیده شي.

په پای کی هغه څه چی د مور او پلار په واسطه د کوچنیانو د څارنې او ساتنې په باب بیان شو. کولای شو دې پایلې ته ورسیږو چی ټول انسانان په ټول هغه وس او توان سره چی په ژوند کې یې لری او په خپل نفس باندی په ټول هغه اعتماد او باور چی لری یې باید په دی وپوهیږی چی دوې څنګه او په څه ډول د نورو په حمایت او مرستی باندې متکي دی او نوروته اړتیا لری.

ماشومان د ټولنې خورا اړ او محتاج قشر دي، هغوی داسی فرد ته اړ دی چی ټول عمر او په هر کار کی هغه له ځان سره ووینی او په هغه باندی متکی واوسی. هغه کس لومړی مور او بیا ورپسی پلار دی . هغه له پلار او مور ه حمایت او ملاتړ غواړی. له ویر او او ډار څخه حمایت او ساتنه له هر عامل څخه چی د هغه آزادی. تهدید کړی او یا د هغه امنیت په خطر کې واچوی له بل هر عامل نه په کوچنی کی زیات دی. په ربنتیا چی ماشوم په سختو شرایطو او ناوړو چلندونو کی (مور او پلار) ته اړین دی او په دې هیله پر مخ ځی.

۲ – د خوړو حق :

خواړه دانسان خورا ضروری اړتیا ده په تیره بیا ماشوم ته د ژوند د دوام او د ودې او سلامتیا لپاره د یو مهم عامل په توګه شمیرل کیږي. همدارنګه خواړه د ماشوم په بدنی او هم د زده کړې په بهیر باندی مهم او فوق العاده اغیزه لری.

خواړه د ماشوم په روحی حالاتو کی زیات اهمیت لری ځکه لومړنۍ بنست دی چی له مور سره د ماشوم مینه او علاقه ښیي . مور ماشوم ته لومړنی غذائی منبع ده. وروسته بیا دغه اړیکی بدلون مومی او په روحی او اجتماعی اړیکو بدلیږی، یا په بل عبارت : د افرادو په باره کی د هغې لومړنی زده کړی. په تیره بیا د حسی، پیچلو تجاربو پر اساس او خوړو باندی ولاړ دی.

د ماشوم د حقوقو څلورم اصل وایي : « ماشوم حق لری له خوړو، استوګنځی او د ضرورت پر مهال له طبی روغتیایي څارنو ځخه برخمن شی. »

کوچنی ته خورا ښه خواړه د مور شیدې دی. شیدې د زیږیدنی په لومړیو میاشتو کی د ماشوم اغیزمنه غذا ده. دماشوم حقوق دا ایجابوی چی دغه ستر نعمت له هغه نه هیڅکله باید ونه سپمول شی، لکه چی طبیعت هم همداسی غوښتی دی. په دې مانا چی د امیدواری په وروستیو میاشت کی له شیدو څخه د تیو ډکیدل د یو حق د غوښتنې څخه حکایت کوی، هره مور باید دغه ښکاره او طبیعی حق له ماشوم څخه سلب نه کړی او دا حق بی موجبه د مصنوعی شیدو له لارې جبیره نشی.

ښکاره ده چی پر نورو شیدو باندی د مور د شیدو غوره والی نه یواځی د ترکیب او غذایې موادو د اندازې له نظره دی، بلکی دغه شیدې د ماشوم لپاره حیاتی اوبه دي چی زیاتې عاطفی او روحی اغیزې له ځان سره لري او ماشوم ته د مصئونیت ښښونکو موادو او فکتورونو په توګه شمیرل کیږی.

دا یو منل شوی حقیقت دی چی د مور او اولاد ترمنځ د نږدیوالی احساس، د مور او اولاد تر منځ د مینې او محبت لیږدونه، د مور له تیونو نه د نوی زیږیدلی ماشوم د تغذیې پر مهال عاطفی، روانی احساس په څرګند ډول ښکاره کیږی.

د بشپړې ودې، خوښی او خوشالی نه دډک ژوند لپاره د نوی زیږیدلی ماشوم ټول اړتیاوی یواځی د هغې د خوراکی موادو تاء مین نه دی. بلکې نوی زیږیدلی ماشوم پاکې هوا د چاپیریال مناسبې تودوخې، جسمی حرکاتو له نورو انسانو سره د ځینو پدیدو راکړو ورکړو ته احتیاج او اړتیا لری. او په زړه پورې خبره داده چی ټولې اړتیاوې لکه غذایې اړتیاوی. روحی او عاطفی اړتیاوې د مور له تیونو ځخه پوره کیږی. هغه د شیدو درودلو پر مهال په داسې حالت کی قرار لری چی مجبور دی د مور سر او صورت ته ځیر شی او دده لیدل له مینې او محبت سره یوځای دی. د مور همدغه له مینې او محبت ډک کتل دی چی

راتلونکی ژوند کی له نورو سره د ځانګړو اړیکوټینګښت ښودل کیږي، د مور د شیدو د ښیګڼو او ګټورتوب سره سره، له بده مرغه د وچو شیدو د تولیدوونکو شرکتونو د بی مفهومه تبلیغاتو له مخی او دمیندو د راحت غوښتنې له امله نوی زیږیدلی ماشومان په دې حیاتی مادې (د مور شیدو) سره په ښه توګه نه تغذیه کیږی.

له دې واقعیت نه باید منکر نه شو چی په پخوا وختو کی د مور په شیدو سره تغذیه د هغې د بیولووژیک نقش د لوبولو له پاره د مور غوره صفت ګڼل کیده او په زیاترو مذهبی لارښوونو کی د مور په شیدو تغذیه د ټولنیزو ارزښتونویوه برخه بلل شویدی په دې ډول چی د اسلام د مقدس دین د ارشاداتو سره سم میندو ته د شیدو حق په نظر کی نیول شوی دی او کله کله هغه د شیربها په توګه غواړی.

په پخوا وختو کی یواځی په استثنائی حالاتو لکه د مور د مړینی پر مهال او یا په سختو ناروغیو کې د مور اخته کیدل او د مور په تیوکې یا د کافی شیدو د نشتوالی له امله په داسی حال کی چی دایې به هم نه وه، د نورو شیدو سپارښتنه کیده ځکه په هیڅ ډول شرایطو کی نورو شیدو د مور له شیدو سره سیالی نشوه کولای. داهل بیت (ع) څخه روایت چی د مور په شیدو سره تغذیه په هر مهال کې ضروری ده. د قرآن مجید د بقرې د سورې د ۲۳۲ آیت په یوه برخه کی راغلی چی (میندې باید خپلو بچو ته پوره دوه کاله شیدی ورکړی. د هغو کسانو لپاره چی وغواړی د شیدو خوړو موده پوره کړی) همدارنګه د طلاق د سورې په ۶ آیت کی فرمایې (د طلاق شویو ښځو په باره کی کله چی ستاسی زامنوته شیدې ورکوی، هغوی ته مزد ورکړی. له هغوی سره په عدل رفتار وکړی. او که شیدې ورکول ورته سخت وی بله ښځه ورته دایه ونیسی.)

د بشریت ستر لارښود حضرت محمـــــد (ص) فرمائی (آیا خوشحاله نه یاست کله چی یو له تاسو له خپلې میړه امیدواره شی. او میړه یې خوشحاله شی. دهغه چا د ثواب په اندازه وي چی د ورځې روژه او د شپې په عبادت تیره کړی)، کله چی ماشوم نړی. ته سترګی غړولی هره قطره شیدې چی هغه ته ورکول کیږي او هره کرتې چی سینه یې رودل کیږی د هر څاڅکی او هر غړپ په سر ثواب ورکول کیږی او که چیرې د خپل ماشوم د څارنې لپاره شپه ویښه تیره کړی ثواب یې دومره دی لکه چی د لوی خدای (ج) په لاره کی او یا مریې ان آزاد کړی وی) ۷۱

په خواشینۍ سره باید ووایو چې ځینی میندی په بیلابیلو دلایلو سره خپل بچیان په مصنوعی شیدو روږدی کوی او خپل ماشوم دمور د شیدو دتغذیې له نعمت څخه محرو موی . داروا پوهنی څېړنو ښودلی ده چی دمور له شیدو څخه دماشوم منع کول په کوچنی کی دځینو ناروغو دبیداکیدو لامل، کرځی چی روحی اړخ یې له جسمانی اړخ څخه څوځلي خطرناک دی . چوپوالی ، نه حرکت، ګنګستوب، پریشانی، دذهن کندوالی، ددغو عوارضو مهمی بیلګی دی .

هوکی ! ښایې چی بله ښځه په دایی توب ونیول شی تر څو ماشوم ته شیدې ورکړی - ولی څوک ده چی په عاطفی او روانی حالاتوکې دمور ځای ډک کړی ؟ او یا په بدنی اړخ کې هماغه ځانګړتیاوې ولری کوم چی مور یې لری . په همدی دلیل سپارښتنه داده چی ماشوم باید هغه مهال دمور له شیدو منع شي چی مور دجسمی یا روحی ناروغیو له امله د شیدو په ورکولو قادره نه وي . (۷۲)

څنګه به ښه وی چی مور د الهی اوامرو او انسانی دود او دستور ته پاملرنه وکړی، خپل کوچنیان پخپله توده او مهربانه غیږکی وروزی، خورا ارزښتمنه غذا یعنی دمور شیدې ورته ډالۍ کړی او هغه تل په مهربانه غیږ کې ونیسي، او د زیږیدو له هماغه لومړنیو شیبو څخه ورسره عاطفی او انسانی اړیکی ټینګې کړی څو ماشوم په سالمه توګه وروزل شی. لازمه ده چی والدین دماشوم د تغذیې په اړه باید لازم معلومات تر لاسه کړی ځکه دغه خبرتیا هم دماشوم د حقونو یوه برخه کی او هم دماشومانو دساتنې او سلامتیا په اړه د والدینو د علاقمندۍ په برخه کی ضروری دی.

په خوړو پورې ډیرې اړوندی مسئلی په روحی جنبې پوری تړلې دی، ولې والدین باید دخوړو ظاهری اړخ او دهغه د کیفیت ډول ته هم پاملرنه وکړی. په خوړوکی دماشوم غم او خپګان، دپریشانی او اضطراب حالتونه، او روحی پریشانی زیات تاوان لري او هم د خوړو کیفیت ته نه پاملرنه زیات زیانونه رامنځته کوی اودغه غذائی فقر تل په اقتصادی فقر پوری تړلي نه دی، کله کله له نا خبرتیا څخه منځته راځی . که چیری والدین په دې برخه کی ژوره پاملرنه ولري کولای شی هغه له منځه یوسي او د فقر په حالتونو کی د خوړوډولونو ته پام وکړی.

باید وویل شی چی کله کله ښایې ماشوم غذا ته زړه ونشی، خو دا هم ټیک نه ده چی هغه په زوره خوړو ته اړ کړو. ځکه دا کار د هغه د نه رضایې ت سبب ګرځی چی مهم یې

عبارت دی له : په رفتار کی د سختی ناآرامی رامنځته کیدل، له آزادی نه د ناکامی او محرومیت احساس پیدا کیدل، په روحیه او رفتار کی ګډوډی، د خوړو په نسبت د ماشوم د کرکې زیاتیدل، له مور او پلار سره د مقاومت روحیه ایجادیدل، او پخپل رفتار کی د اصرار دوام او نور. په دې توګه ماشوم باید په زوره خوړوته اړنشی، ځکه هغه څه چی غواړی ترلاسه کړی، هغه تر لاسه کوی. که چیری ځینی وختونه هغه په خپل حال پریږدی، اشتهایې پخپله راځی، هغه مه ناآرامه کوی ! او له ځانه یې مه شړی، همدارنګه د خوړو نه وروسته ضروری ده چی ماشوم استراحت وکړی، له غذا وروسته منډې رامنډې وهل د معدې د اختلال او د جسمانی ګډوډیو موجب ګرځی، که چیری کوچنی ښه او مناسب خواړه ولری، نو په ارآرامی سره خوب هم کوی، البته له لبنیاتو څخه ګټه اخستل د جسمی ودې سبب کیږی او هم دارامی سبب . له لبنیاتو څخه ګټه د ماشوم د هډوکو د پیاوړتیا او د هغه دودې او ښکلا موجب ګرځی او ماشوم په ډیر ارامی سره دهغې له خوړلو وروسته استراحت کوی.

همدارنګه ناوړه غذا معمولاً د فقر معلول دی، خو ډیر ځلی د ناوړې غذا له خوړلو څخه هم پیدا کیږی چی د مور او پلار ناپوهی او آغیزنا که خواړه نه پیژندل د دغه حالت د رامنځته کیدو باعث کیږی.

په همدې ډول عاطفی فشار کوچنی د ښې غذا له خوړلو نه محرومو‌ي او د هغه د ژوند تعادل ګډوډوی.

۳ – د جامو لرلو حق :

جامې او کالي دانسان یوه اساسی اړتیاده او د ماشوم په سلامتیا ، د ده په ښکلا او الوده ګي باندي اغیزه لري . دژوند په لومړیو کلونو کی جامې ماشوم له تودوخی او سړونه ساتی خو وروسته له درې کلنی نه جامی دده له پاره دذوق، احساس، خوند او د شخصیت د څرګندولو یوه وسیله ده.

لکه چی وویل شو. جامی دانسان لپاره مهمې دی، نه یواځی له دې امله چی د وقار، ارامی، نظم ونظافت او ادب عامل دی بلکی له دې امله چی دماشومانو سلامتیا او ناروغی زیاتره په هغه پوری اړه لری، دبیلګی په ډول : ډیر کسان دی چی د مناسبو جامو په نه اغوستلو سره په ډول ډول ناروغې اخته کیږې. او د مناسبو جامو په اغستلو سره له

ناروغی خوندي پاتی کیږی. پوهیږو چی ناولې او ناپاکه جامی د بوټ ه استعمالول او لوڅی پښې ګرځیدل، پخپله دبیلوبیلو ناروغیو عامل ګرځی.
ښکاره خبره ده چی وړ، ښکلی او رنګارنګ جامی اغوستل ماشوم ته مناسب احساس پیدا کوی په دي توګه چی دجامو نرمی، رنګ او نظافت هغه ته دغرور او لذت احساس بخښی، البته د جامو په باب ماشوم ته داتصور پیداکیږی چی که چیری ماشوم مناسبی جامې وا نه غوندی، مریضیږی او که بوټان یا څپلی په پښو نه کړی ناراحت او پریشانیږی، خو وروسته بیا دجامو او شخصیت ترمنځ رابطه احساسوی. ماشوم کله کله دخاصو جامو په اغوستلو ځان دمور او پلار په قالب کی وینی او یادنورو په شکل او بڼه ظاهریږی، دا کار که څه هم په ظاهره کی کم ارزښته معلومیږی خو همداکار په ماشوم کی د غرور او دده په وجودکې د باور لارې چاری برابروی او هغه خوشحالوی.
جامی باید له عمر سره برابرې جوړې شی، دژوند په لومړیو درېو کلونو کی جامې باید سپینې وی څو ناپاکې پکی ښکاره شی او دا مسئله په خپله والدینو ته یوه خبرداری وی چی د ماشوم په مرسته دماشوم دنظافت په ساتنه او د سلامتیا په تاء مین کی هڅه اوهاند وکړی. له دي سن نه وروسته ضروری ده چی رنګه جاموته توجه وشی څو ماشوم له هغه نه د خوند او غرور احساس وکړی. پوهیږو چی دری کلن عمر د شخصیت د ښکاره کیدو عمر دی او کوچنی پدی پړاووکی خپل دسراووضعی په اړه حساس کیږی. له بلې خوا دې عمر ته د جمال پرستی د ښکاره کیدو عمر ویل کیږی ځکه چی ماشوم په ښکلا پسی ګرځی او د ناپاکیو او زشتیو څخه تښتی. نو باید داسی جامې ورته برابری کړی شی چی له یوې خوا که بدن یې له سړو او تودوخی او ناروغی څخه وساتی خو له بلی خوا ذوق او سلیقه یې هم ارضاء کړی.
د پام وړ ده چی د ژوند په لومړیو درو کلونو کې د هلکانو او نجونو لپاره جامې کیدای شی یو شان وی، خو له دري کلونو وروسته چی د شخصیت د تبارز عمر دی، ورو ورو باید د ماشوم جامې د هغه له جنس سره مناسب جوړ شی. په دې کار کی باید د ټولنې شرایط په پام کی ونیول شی.
تجربه ښودلې ده چی په دې برخه کی د اصولو او ضوابطو نه مراعات کول د کوچنی کورنی وروسته بیا له ستونزو سره مخامخ کوی تر دې بریده چی له دې کاره به د زیاتو مشکلاتو احساس وکړی.

ماشوم تر څو پوری چی کوچنی دی د جامو په انتخاب کی نظر نه ورکوی، مګر له دې کلونو وروسته ماشومان ورو ورو د جامو له رنګ، ډول سره حساس کیږی او ښه ګڼی چی په دې باب ځینې سلیقی انتخاب کړی. د نظر د خاوندانو په عقیده ضروری ده په دې باب د ماشوم ذوق او سلیقه په پام کی ونیول شی. باید د جامې رنګ او ښکلا داسې وی چی د ماشوم ذوق ارضاء کړی او د هغه سلیقی ته وده ورکړی. په دې اړه لازمه نه ده چی والدین یواځی شیک پوشی او مود په پام کی ونیسی، مهمه دا ده چی د ماشوم ذوق او سلیقه ومنل شی. د کالو په انتخاب کی باید یو رنګ یې پخپله ماشوم منلی وی تر دې چی د هغه د ښکلا خوښونې ذوق ته ځواب ووایې.

باید پام وساتو اوسو چی د ۱۱ نه تر ۱۲ کلنی پوری په هلکانو او نجونو کی د ښه او ښکلو جامو داغوستنی ذوق رامنځته کیږی په دې ډول چی دې غواړی ښه شکلی ښکاره شی، او خپل غرور او ځان منله ارضاء کړی. ددی کار تر یوه بریده رعایت کول دومره ستونزې نه پیښوی، په دې شرط چی دافراط تر بریده و نه رسیږی نو له دې امله والدین باید متوجه وی چی په دغه عمر کی ښه جامی اغوستل او د ښکلا ذوق او انتخاب د دغه مرحلې د طبیعی اړتیاوو څخه ګڼل کیږی چی باید هغه ته پام وشی او پری نه ښودل شی چی له یوی خوا د ماشوم ذوق غوښتنې او رضایې ت تر پښو لاندې شی او له بلی خوا په دې کار کی ماشومان له افراطه کار واخلی.

باید په پام کی ولرو چی جامې کیدای شی په دغه برخه کی د خپلواکی د تمرین لپاره یو عامل وی، دا کار د بیلابیلو لارو څخه ښایي تر سره شی چی یو یې جامو د انتخاب له لارې ده چی ماشوم د هغه په باب فکر کوی او په پایله کې د څو ډولونو څخه یو یې غوره کوی. دوهم دا چی د جامو اغوستلو له لارې ماشوم خپلواک فکر کولو او خویونو څواک پیدا کوی او په دې ډول له خپل ادراک څخه مرسته غواړی. درییم دا چی ماشوم د خپل شخصیت په باب د خپلواکی احساس کوی او ډیر ژر درک کوی چی کومې جامې په ده پوری اړه لری او څنګه باید هغه په نظر کې ولری او ویې ساتی.

۴ – د تفریح او لوبو حق:

د ماشومانو د تفریح او لوبو په باره کی په تیرو فصلونو کی زیات مطلبونه بیان شویدی خو له دې امله چی دغه موضوع د ماشومانو یوه بنسټیزه اړتیا ده نو خکه والدین باید د

هغه د ارزښت او اهمیت په باب د ماشومتوب په دوره کی کافی معلومات ترلاسه کړی څو کوچنیان له خپل دې طبیعی حق څخه بی برخې نه شی.

باید وویل شی چی په پاکه، او آزاده فضاکی حرکت او فعالیت او ګرځیدل د خلکو په تیره بیا د کوچنیانو اړتیا ده او دا کار په جسمی وده، د بدن او روح په سلامتیا، د ځان په پیژندنه، روزنه او د ژوند د لارو چارو په پیژندنه او ټولنیزو کارونو په سرته رسولو کی، اهمیت لري.

لوبه یو حرکت، فعالیت او دخوښی یو جوش دی خو د ماشوم لپاره ډیر خوندور دی ځکه ماشوم خپل زیات عمر په همدې لاره کی مصرفوی چی کله کله د ستړیا او آن په غم او خپګان کی له هغه نه لاس نه اخلی، ښکاره ده چی لوبی د ماشومانو لپاره ځانګړی ارزښت لری، او دا یو داسی عامل دی چی دماشوم د جسمی، ذهنی، اجتماعی، عاطفی فعالیتونو او د ماشوم د سلامت لپاره مهم او ارزښتمند دی.

زیاتره دردونو، نیمګړتیاوی او د ماشومانو کړه وړه د لوبو له لاری آرامه کیږی او پخپله کوچنی د هغه په سرته رسولو کی ارام او سکون مومی او کله کله خپله غصه پر ځمکه باندی د نانځکو د ویشتلو په توګه څرګندوی.

لوبی او فعالیت د ډاډ عامل دی او ماشومان د هغو په بهیر کی د محبت او امن په چاپیریال کی ځان محسوسوی. دغه مسئله د ماشوم لپاره دومره اهمیت لری چی ګوا کی د هغه روح او جسم زیاته لوبه غواړی تر څو خپله اندیښنی، تشویشونه، ویره او کرکه ستړیا او ناامیدی له منځته یوسي او هغه ته خوښی وبخښی. په دې ډول که چیری ماشوم له لوبو و تبنتی او ډډه تری وکړی په حقیقت کی سالمه وده نلری او حتی ویلای شو چی په روحی ناروغی اخته دی.

هوکی ! لوبه د ماشوم ژوند او دنیا ده، هغه ته د خوښی او خوشالی پانګه ده، درس دی، تجربه او او تمرین دی. لوبه د ماشوم له ژوند سره تړاو لری او د هغه د ژند جوهر دی. لوبه دماشوم علایق ارضاء کوی او د جسمي او روحی مشکلاتو د حل لپاره لار اواروی. ماشوم کله کله داسی ځان لوبو ته اړ وینی چی که چیری په روغتون کی بستری هم وی ، خو په څنګ کی یې دلوبو اسباب موجود وي. له هغو سره مشعولیږی او د نا آرامې احساس نه کوی او که چیری هغه له لوبو لیرې وساتل شی دا به دا ما نا ولری چی ګوندې هغه له ژوند څخه لرې ساتل شوی دی.

له لوبو څخه د کوچنی محرومول هغه سخت ناارامه کوی او تر یوه بریده ښایې چی د هغه د عصبی ناارامی لپاره زمینه برابره کړی هغه دغه محرومیت د ځان لپاره یوه ضایعه ګڼی او له لوبو څخه دده منع کول هغه د ځان له پاره تنبیه ګڼې. کومې څیرنې چی د اروا پوهنی پوهانو کړیدی، ښئی چی که چیری ماشوم له لوبو څخه منع کړ شی په داسی حالاتو اخته کیږی چی مهم یې دادي:

خپګان، ګوښه ګیری، سستی، قهر او سرکشی د خلکو پر ضد پاځیدل، ورانکاری، خودخواهی او نور.....

د ملګرو ملتونو سازمان او پر مخ تللی نړی د ماشومانو د لوبو، اهمیت ته زیاته پاملرنه کړیده او دا موضوع یې د کوچنیانو د عقلی، جسمی، عاطفی او ټولنیزې ودې لپاره لازمه او ضروری شمیرلی ده لکه چی د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون د ۳۱ مادې په (۱) بند کی لولو: «دې کنوانسیون ته ژمن هیوادونه د ماشومانو تفریح، استراحت، د لوبو او فعالیتونو په سرته رسولو کی، له عمر سره د متناسبی تفریح، په فرهنګی او هنری ژوند کی د ازاد ګډون حق په رسمیت پیژنی.»

له بده مرغه زمونږ په ټولنه کی مور او پلار هغه مهال له ماشومانو څخه خوښی څرګندوی چی د هغوی ماشومان تل ارامه چوپ او غلی وی، فعالیت ونه کړی، خبرې ونه کړی او ټوله ورځ پاک او ستره وي. پداسی یو حالت کی مورږ دې ته اړیو چی ځان ته بدلون ورکړو نه ماشومانو ته. ځکه مورږ له هغوی دا تمه لرو چی د خپل انسانی طبعیت پر خلاف عمل وکړی.

سالم ماشومان یواځی یو ډول فعالیت نه تر سره کوی، بلکی له یوه فعالیت نه بل فعالیت ته پاملرنه کوی. ماشومانو ته لوبی، هغه ارزښت لری لکه څنګه چې کار لویانو ته لری. داسی یو کار چی تعلیم ته اړتیا نلری. روغ رمټ ماشوم نشی کولای پنځه دقیقی غلی او آرامه وي ځکه هغه تل له داسی شیانو سره په لوبو اخته وی چی وینی یې او لمس کوی یې. کله کله د خپل پلار په کتابتون کی کتابونه لاندې ماندې کوي او کله بیا خپل د لوبو سامان سیخی څو ګوری چی سوځیږی او کنه؟

همدارانګه کوچنیان خپلی کنجکاوی ته د یولوي کس په څیر ددې له پاره چې واقعیتونو ته ورسیږی او یا نوی نوښتونه وکړی دوام ورکوی. لنډ دا چې ماشوم داسی چاپیریال ته اړ

وی چی وکولای شی (پخپله دی وی) و ځغلی، اواز پورته کړی، چیغی ووهی ، یو شی مات کړی چی دا ټول شیان په لوبو سره ارضا کیږی.
مور او پلار په بیلا بیلو پراونو کی باید د ماشومانو د ښوونی او روزنی لپاره د لوبو له قوی، محرکه ځواک څخه کار واخلی او هیڅکله د هغه نیکمرغی د ځان د هوساینی او راحت طلبی له پاره قربان نه کړی د ماشوم خوښی او خوشالی دی که څه هم دده د ناارامی سبب گرځی، خپله خوښی او راحت وگټی او دې اصل ته متوجه شی چی دلوبو په وخت کی دی چی ماشوم په پوره ازادی سره خپل حواس په کار واچوی او د خپل تفکر، نوښت او اختراع ځواک وروزی.
کله چی والدین له خپلو کوچنیانو سره لوبی کوی د هغه په بهیر کی له هغوی سره د مینی او محبت اړیکې ټینګوی، شوخی کوی، هغوی خوښ او خوشاله ساتی او له هغوی سره همغاړی کیږی، دهغوی درونې نړۍ کشفوی، هغه ناارامی او خپگان چی ماشوم یې لری، لیرې کوی. او له دې لارې له هغه سره داغیزناک چال چلند اړیکی ساتی.
دایو واقعیت دی چی ماشوم لپاره لوبه ضروری ده، خو د لوبو هدف باید دروزنې له هدف سره تړاو ولری. د لوبو په بهیر کی والدین باید ماشوم ته لارښوونې ورکړی، د ژوندانه د لارو چارو او د ټولنیزو اړیکو د ټینګښت قاعده ورته وروښیې ی ، ماشوم ته دې لارښوونه وکړی او په پایله کې هغه دی په داسی لارسوق کړی چې د هغه د فردی او اجتماعی ودی لپاره رغنده ارزښت ولري.
برسیره پر دې والدین باید د ماشومانو هغه لوبی وارزوی کومی چی د کور څخه د باندی سرته رسوی. والدین باید د لوبو له لارې ماشومان په خبرو راولي ترڅو خپل د فکر طرز او غوښتنی ښکاره کړي او هغه څه بیان کړی کوم چی ده د کوره د باندی او په ښوونځی کی لیدلی دې، مور او پلار دی پرې خبر کاندی.

۵- د ښوونې او روزنې حق:

د فکر او مذهبونو په ټولو مکتبونو کی روزنه د ماشوم یو حق ګڼل شوي او په دې برخه کی سستی او ناغیړي یې نه بخښونکی ګناه بللې ده. ددې کار دنده د مور او پلار پر غاړه ده چی باید هغوی پخپله ددې حق په اداکولو کی هڅه وکړی او خپل بچیان په ښه توګه وروزی او د هغه د روزلو وسیلی او شرایط په ښه توګه برابر کاندی. البته ټولنه، دولت او خلک هم دماشومانو دروزنې په برخه کی ځینی دندې لري. ټول دولتی او غیر دولتی

اړوند ارګانونه باید له والدینو سره یو ځای ددغه حق په اداء کولو کې مرسته وکړي لکه چې دماشوم د حقوقو د کنوانسیون د (۱۸) مادې په (۲) بندکې بیان شویده: ((په دې کنوانسیون کې د بیان شویو حقوقو د پراختیااو تضمین په مقصد، دغه کنوانسیون ته ژمنو هیوادونو له والدینو او سرپرستانو سره د ماشومانو دروزنې په برخه کې ددوی د مسؤلیتونو په اجرا کې مرسته کوی او هڅه دی وکړي تر څو دماشومانو نهادونه، اسانتیاوې، خدمتونو او څارنه وده او پراختیا وومومی))

خو، باید په پام کې ولرو چې دماشومانو دروزنې اساسی مسؤلیت د مور او پلار په اوږو دی ځکه د کورنۍ چاپیریال د ماشوم لپاره یو اجتناب نه منونکی چاپیریال دی چې ماشوم مجبور دی هلته پکې ژوند وکړي. د کورنۍ سخت ضوابط او قواعد پر ماشوم تپل کیږي او ماشوم مجبور دی هغه رعایت کړي. طبعاً په دغسی حالاتو کې کوچنیانو ته یو حق پیدا کیږي چې مور او پلار د کورنی په چاپیریال کې دهغه په اداء کولو کې مؤظف او مکلف دی.

قدرمن والدین باید پوه شی چې اولاد موراوپلارته خورا نږدی موجود دی او طبیعی ده چې هغوی خوښ وی چې دغه نږدیوالی همداسی خوندی پاتی شی او په راتلونکی کې دوام پیداکړي په دی برخه کې دماشوم والدین نه یواځې د عقل له مخې بلکې په اخلاقی توګه هم د ماشوم په روزنه مؤظف دي. نو له دی سببه ویلای شو چې د ماشوم له ساتنې او د ژوند د اړتیاوو له تامین څخه رسیره د هغه روزنه هم د والدینو پر غاړه ده یا د هغه چاپر اوږو ده چې محکمی د ساتنی حق هغه ته سپاری. مور او پلار باید خپل اولاد ټولنیز ژوند ته تیار او چمتو کړي، او تل د هغه کړه وړه، ښوونه او تحصیل وڅاري. دغه اخلاقی دنده کولای شو په ډیر مشکل سره په حقوقی برخه کې تضمین کړو. سره له دې ډیر قوانین په دې باب د مور او پلار د مسئولیت په اړه بی خبره نه دی پاتې شوی. بیشکه چې د روزنی د سمې لارې غوره کول د موراوپلار حق دی. په همدی سبب د بشر د حقوقو دنړیوالې اعلامیې د (۲۲) مادې په (۳) بند کې راغلی چې: ((مور او پلار حق لری چې د هغو زده کړو ډول او څرنګوالی وټاکی کوم چې ماشومانو ته باید هغه ورزده شی.))

داولاد روزنه دمور او پلار دنده ده، والدین په داسی حال کې چې د خپل اولاد دروزنې د څرنګوالی د ټاکنی حق لري، مکلف دي چې هغه داسی وروزی چې استعداد یې وده وکړي او په راتلونکی کې د ټولنی سالم غړی شی. د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې په پام کې

نیولو سره چې پورته یې یادونه وشوه، کولای شو دا مطلب تري واخلو چې دماشومانو د ښوونې او روزنې په برخه کې دوالد ینو مهم او اساسي یوه دنده داده چې هغوی ته ښه او وړ ښوونځی انتخاب کړي، او ښه او صالح ښوونکی ورته وټاکي، د هغه روزنه او تحصیل او علمي هڅه دې وڅاري او پرې نږدی چې په هغه کې غفلت وشي. په دې برخه کې مهمه څارنه داده چې باید ښه او مناسب ښوونځی او نیک او صالح ښوونکی ماشوم ته انتخاب شي، د ښوونې او روزنې او د درس د بهیر څارنه یې وشي او له ښوونځی سره همکاري وکړي.

۲- د معلول او معیوب ماشوم حق:

معلول هغه انسان دی چې په جسمي او ذهني توګه عیب ولري. په ماشومانو کې معلولیت په بیلا بیلو ډولونو راڅرګندیږي. ښایې معلولیت کلي وي یا جزئي. کیدای شي دغه معلولیت د کوږ، ړوند په ښه وي یا مغزي فلج وي، ګونګ وي او یا داچې یو غړی یې کم وي چې هر یو یې ځانته حد او درجه لري چې په ټولنیزه توګه د ماشوم سلوک ګډوډ کړي. په بشري ټولنه کې د معلولینو او معیوبینو احصایه یا شمیره کمه نه ده، معمولاً په هر لس ماشومانو کې یو یې معیوب دی او یا په نړیواله کچه د احصایې په اساس له هر ۱۸ تنو څخه یو یې په مزمنو ناروغیو اخته او یا له دایمي بدني عیب څخه ځوریږي. (۷۳)

باید وویل شي چې زمونږ په ګران هیواد کې د پرله پسې جګړو له کبله د نړۍ د نورو هیوادو په پرتله زیات د معلولینو او معیوبینو ګراف خورا لوړ حد ته رسولی دی. د هغو ځیړنو له مخې چې په افغانستان کې د ماین پاکې ځینو مؤسسو کړیدی، ددې حقیقت څرګندوی دی چې په دی جګړه ځلی هیواد کې د معلولینو او معیوبینو زیات شمیر د جنګ شوم میراث یعنی ماینونو قربانیان دي چې نږدی په سلو کې له ۲۰ نه تر ۷۰ پورې یې ماشومان تشکیلوی. په دې باره کې د کورنیو په تیره بیا د دولتونو اساسي دنده ددغو کوچنیانو د ژوند مسایلو ته پاملرنه ده چې د بدن د سلامتیا د طبیعي حق له نعمت څخه بې برخې شویدی. باید په یادولرو چې متعادل ژوند د هغه چا په برخه وي چې له جسمي، روحي، ذهني او عاطفي ژوند څخه برخمن وي، هغوی چې له دې اړخه نیمګړی وي په ډیرو برخوکې نوروته اړ وي ځکه هغوی نشي کولای له بشپړ او لازم اعتدال څخه برخمن شي. د معلولو او معیوبو ماشومانو مرستندویان او ملاتړکوونکی په لومړی پړاو کې والدین دي. هغوی باید ماشومانو ته دژوند او هوساینې ښه وسایل برابر کړي، د معلول ماشوم

اړتیاوی وپیژنی، د هغه سبب او ریښه دی پیدا کړی، او د کوچنی د ښیګنې او خیر لپاره وړ او مناسب شرایط برابر کاندي.

ډیر لیدل شوی دی کله چی یو معلول ماشوم په یو کورکی پیدا کیږی لومړی یې مور او پلار هک پک او اندیښمن کیږی او نظر او فکر یې ډیر سخت اوتیاره لرلید ځانته غوره کوی. چی له داسی ماشوم سره هغه هم په داسی حالت کې څه وکړی؟ او څنګه هغه وروزی؟ او کمال ته یې ورسوی، آن ځینې ددغسی کوچنیانو له منلو څخه ډډه کوی. ځینی والدین ددغه نیمګړتیاو د علت او عواملو په لټون پسی هڅه کوی او یو بل سره پدی خبره تورنوی چی عیب ستا دی چی دا کار په خپله په کورنی کی د جګړو، جاروجنجال او شخړو منشاء ګرځی. کله کله هغوی لرې او نژدې قوم ته ورځی څو وپوهیږی چی په کوم یوه کی دغسی عیب راپیدا شوی دی.

دیادونې وړ ټکی دادی چی په دعوا او شجړو مسله نه اواریږی او ضرور هم نه ده چی یو او بل سره ګرم وبولی. د معاصری نړۍ پوهه او پرمختګ تر اوسه پورې ددغه راز له مخی پرده نه ده پورته کړی چی په ډاګه په دې برخه کی نظر او عقیده څرګنده کړی.

هوکی! که چیری مور او پلار په الکول یا نیشه یې توکو او یا په بله ستونزه اخته وی تر یوی اندازی پورې کیدای شی دغه عیب یا نیمګړتیا په هغه پورې اړه ولری.

پداسی پیښه کی دا خبره لازمه ده چی والدین وګوری اوعاقلانه فکر وکړی چی ددغه ماشوم په باره کی څه وکړی؟؟ او څرنګه باید تصمیم ونیسی؟ په کور کې شخړه او لانجی به وضعه لاپسی خرابه کړی.

مور او پلار باید داومنی چی په نړۍ کی په زرګونو کورنۍ شته چی ماشومان یې ناروغ دی او نیمګړتیالری. دوی باید هڅه وکړی چی موجوده وضعه ومنی او د خپلو دندو په سرته رسولو لاس پوری کړی. دغه ټکی د یادونی وړدی چی پخپله ماشوم د ژوند په پیل کی ددغه محرومیت او معلولیت له کبله په هیڅ ډول بدبین نه وی اونه د حقارت احساس کوي. د مور او پلار او ګاونډیانو د ځانګړو دریځونو په سبب دی چی ماشوم خپل حالت او وضعې سره حساسیت ښکاره کوی او یا د بدمرغۍ احساس کوی.

د معلولیت بنسټ هر څه چی وی د یواځی توب په مفهوم دی والدین کولای شی دغه یواځی توب له منځه یوسی. او خپل معیوب پچیان د عادی وګړو په توګه د اجتماعی ژوند ډګر

ته ور داخل کړی. او د معقولو حالاتو او شرایطو په رامنځته کولو سره کولای شی ماشومان له هغه ناسم احساس څخه وباسی کوم چی د ځان په باب یې پیدا کړی وی.
د معلول له اساسی ستونزو څخه یو داده چی د جسمی عیب د لرلو په نسبت له ټولنی سره د سازش توان نلری هغه د جامو په اغوستلو، ډوډی خوړلو، تگ راتگ او پاکوالی کی مرستې ته اړتیا لري چی باید هغه ته پام وشی او دغه اړتیا پر خپل وخت سرته ورسیږی.
ځینی معلولین د خوځنده مهارتونو د نشتوالی له امله، محدود فعالیت لری، نو له دې سببه لازم ده چی د هغوی په برخه کی کمې او زیاتی ونشی څو وکولای شی دغه نیمگړتیا یا نقیصه جبران کړی. د معلول ماشوم والدین له نورونه زیات د هغه په اړه مسؤولیت لري، د هغوی په باره کی دنه مسؤولیت احساس سبب کیږی چی هغوی په راتلونکی کی په گدایي لاس پورې کړئ او د ټول ژوند لپاره په نورو پوری ځانونه اړین و گڼې.
د معلولو ماشومانو د ستونزه په اړه د والدینو مسؤولیت په دې ډول دی:

الف- د منلو مسؤولیت:

مور او پلار ته لومړنی سپارښتنه داده چی معلول ماشوم ومنی او هغه لکه څنگه چی د وجود غړي یې دی ومنی او قبول یې کړی. هغه هر څه چی وی ددوی اولاد دی، او د هغوی د وجود یو برخه ده، ددوی ستونزی دې پیدا کړی او د حل لاری او چاری یې ولټوی.
والدین حق نلری د خپل معلول ماشوم عیب او نیمگړتیا هغه ته ښکاره کړی او یا هغه ورتپی. ځکه ماشوم په دې حالت کی ځان او طبیعت په اړه هوښیاریږی او له خپلې وضعی نا ارامه کیږی. دا کار بیا وروسته ښایی ددې زمینه برابره کړی چی دی له ځان نه بیزار اوناامیده شی. او حتی په ځینو وختونو کی دی نا روا او نا معقول تصمیم او هوډ ته راوکاږی.
ښکاره ده چی هغه په دې عیب او نیمگړتیا کی گرم او ملامته نه وی او باید بی موجبه خپه نشی. د معیوب ماشوم نه منل په دوی کی دا احساس پیدا کوی چی یو بی ارزښته او اضافی موجود دی، او نشی کولای عادی او طبیعی وضعی سره ځان عیار کړی. بالاخره دې خودبخوده په غوندو او مجلسونو کی له شاملیدو محرمیږی. او دغه احساس پخپله د ځینو نیمگړتیاوو او غیر عادی چلندونو زمینه برابروی.

ب- د معالجې (درملنې) په اړه همکاري:

ددې خبرې یادونه لازمې ده چې د ګناه احساس کول، چیغې وهل او فریادونه او د خواشینې څرګندول د درد د قرارولو چاره نه ده، څه چې د معلول ماشوم په باره کې مهم دي دادي چې یو ښه مور او پلار فکر وکړي چې په هغه کې د ژغورنې او رغونې هیله پیدا کړي. والدین په ډیرو وختونو کې کولای شي داسې اساسي او اصولي لارې چارې وسنجوي چې ماشوم درمل شي او له عیب او نیمګړتیا نه وژغورل شي، په دې برخه کې کله کله طبي کتنې او روحي معاینات ګټور وي او دغسې ماشومانو ته اغیزمنه وي له بلې خوا سفرونوته ددغسې ماشومانو وړل او په پروګرامونو کې یې شاملول له ګټې خالي نه وي. په هر حال والدین باید د معلولو ماشومانو د خوښۍ او خوشالۍ اسباب برابر کړي او په دې ډول د تفریحي اوښوونیزو فرصتونو او وختوو په برابرولو سره په هغوی کې د حقارت احساس لرې کړي.

کم تر کمه معلولو ماشومانو سره دوالدینو مرسته به داوي چې هغوی ته روحي څواک او توان ورکړي او هغوی ډاډه کړي چې دوی یې تل په فکر کې دي او غواړي چې هغوی دوي له دې حالت نه وباسي کوم چې دوی پرې اخته شوي دي. او پدې ډول ستونزې یې حل کړي. داکار به ددې سبب شي چې معلول کوچنیان له دې اندیښنې ووځي چې ګوندې مور او پلاریې ددوی په فکر کې نه دي.

ج ـ ځانګړې روزنه:

پوهیږو چې معلول ماشومان له نورو پرته ځانګړې نړۍ لري یعنې هغوی ښکلا او زشتي، خوند او درد په بل ډول احساسوي، په همدې سبب هغوی دروزنې ځانګړو لاروچارو ته اړتیا لري څو د هغوی ځانګړتیاوې او کړه وړه په یو ډول سره برابر وده وکړي او د اصلاح په لور ګامونه اوچت کړي. ددغه راز اشخاصو روزنیز سیستم په ځانګړې توګه طرح کیږي ځکه په هغه صورت کې چې ونشي کولای په عادي ډول په ښوونځیو کې د روزنې بهیر پرمخ بوځي، هغوی ته دروزنې ځانګړې فعالیتونه په نظر کې نیول کیږي تر څو د هغوی عاطفي شرایط هم خوندي پاتې شي. د معلولینو په ژوند کې ټولې درسي چارې، لوبې او فعالیت، او په ټولنیزو چارو کې د هغوی ګډون له نورو څخه توپیر لري. مور او پلار باید له هغو پوره خبرتیا ولري.

د ـ د علاقمندۍ روحیه پیاوړی کول:

والدین باید معلول ماشوم ته روحیه ورکړی تر څو هغوی له ژوند سره دلچسپی پیدا کړی. که کوچنیان یې ناقص وي خو نیکمرغی او خوشبختی ته اړتیا لری، په دې لاره کې باید د هغوی لاس نیوی وکړی څو د هغوی ټوله پاملرنه د ځانګړی عیب ته یې پام ونه راګرځی. هغه ته دی زړورتیا ور وبخښې، ودې هڅوی، مینه دې ورسره وکړی، هغه ته دې په ژوند کی د ګډون حق ورکړی، ورته دې وخاندی او په هغه کی دې د کار او فعالیت روحیه پیدا کړی. که چیری مور او پلار ته خپل معلول ماشوم ګران وي، هغه کولای شئ د خپل بدن نیمګړتیا هیره کړی او یا هغه لږ تر لږه وګڼي، په دې برخه کی همدارنګه لازمه ده چی والدین خپلی غوښتنی له معلول ماشوم څخه کم کړی، او هغه د مسؤولیت په اساس تنظیم کړی. البته داکار په دې مانا نه ده چی له دغه شان ماشومانو سره د ژوند او چلند طرز نابرابرې سویې ته ورسوي او یا له هغوی سره داسې چلند وکړی چی هغه د بیلتون، یا حقارت اویا بی ځایه سرلوړی احساس وکړی.

له معلولو ماشومانو سره په چلند کې باید له ظرافت نه کار واخستل شی او په دی برخه کی باید له عقل او هوښیاری نه کار واخستل شی. له حضرت محمد مصطفی (ص) نه روایت دی چی فرمائی: «افت وهلو او بلاوهلو (معلولینو او معیوبینو) ته باید ډیر ونه کتل شی او یا دې هغوی په پر له پسی کتنو سره نه خجالته کوی.»

معلومه ده چی له یوې خوا معلولینوته ځارنه لازمه ده او له بلې خوا پرهیز او ځان ساتنه څو د هغوی د اصلاح لپاره زمینه برابره شی، نه د عوارضو او زیانونو لړی.

دغه پرهیزونه او ځان ساتنه اوږده لړی چی ځینی ئی کولای شو په دی ډول بیان کړو:

لکه چی وویل شو له معلولینو سره دوستی ولرئ نه داچی پرې رحم وکړی او د هغوی د عیبونو له لیدلو څخه خپل د بدبینی احساس پیاوړی کړی، له تحقیر او سپکاوی او د هغوی د جسمی عیب له ګوته نیوولو څخه ډډه وکړئ، که چیری کومه ورځ د تنبیه او سزا وړوی هغه د معیوب والی له امله مه تنبیه کوئ چی روحی ارامی یې له خطر سره مخ کیږی. د هغوی برخلیک ته د بی اعتنایی له کبله ډډه وکړئ چی هغوی ته خورا ستر امتیاز د مور او پلار مینه او محبت دی.

د معلولو ماشومانو په باره کی د ستړیا نښکاره کولو څخه ځان وژغوری ځکه ځینی معلولین چی تیز فکر لري ددغه حالت له لیدلو څخه چی والدین یې په زحمت کی اچولی دی له ژوند څخه د مړینت احساس کوي. روزنتونونو او ځا نګړو مرکزونوته د معلولو ماشومانو له سپارلو څخه ډډه وکړی. خو، هغه مهال چی مجبور شوی او چاره نه وی، ځکه په کورکی ددوی لپاره د خدمت او هوساینی نښه شرایط برابر دی. او روزنتون هیڅکله د مور او پلار ځای نشی ډکولای. په پام کی ولري چی هغه له خپل بدنی عیب او خپل دریځ څخه ناوړه استفاده ونه کړی.

لنډه دا چی: خپل معلول ماشوم ته فشار ورنه کړی، هغه ته طعنه مه ورکوی، روحیه یې له منځه مه وړی، د هغه له ملامتولو څخه ځان وژغوری، او کوښښ وکړی چی د هڅونې له لارې هغه خپل اعمال ترسره کړي..... اوداسی نور

ننسلوني
او
ماء خذونه

لومړی ضمیمه:

د ماشوم د حقوقو د کنوانسیون (ټرون) نقل:

ددی کنوانسیون په سریزه کی داسې لولو: دې ته په پام سره چی د ملګرو ملتونو په منشور کې داعلام شویو اصولو سره سم د بشری کورنۍ د ټولو غړو پیژندنه، د ذاتی درېځ او جدائی نه منونکی حقوق، په نړۍ کی د ازادی، عدالت او سولې بنسټ او اساس دی،

په دې یادونې سره چی په ملګروملتونو کې شاملو غړو د بشر بنیادی حقونو، انسانی شخصیت او درېځ ته چی د م م په منشور کی دي خپل باور او ایمان بیا تایې د کړی او هوډ یې کړیدی چی د ازادیو په چوکاټ کی ټولنیز پرمختګ او د ژوندانه د معیارونو ښه کول لاپسی پراخ کړی.

په دې تشخیص سره چی م م د بشر د حقوقو په نړیواله اعلامیه اونړیوالو تړونونو کی موافقه کړې چی هر څوک پرته له هر ډول امتیاز لکه: نژاد، رنګ، جنس، ژبه، مذهب، سیاسی عقیده، ټولنیز او ملی درېځ، ملکیت، زیږیدنه او نورو حالاتو څخه په دغو اسنادو کی د ټولو درج شوو حقوقو مستحق ګڼل کیږی.

په دې یادونې سره چی ملګروملتونو، د بشر د حقوقو په نړیواله اعلامیه کی، اعلام کړی چی ماشومان د ځانګړو ځارنو او مرستو اړین دی.

په دې باندی په باور سره چی کورنۍ دټولنی د ټولو غړو په تیره بیا د ماشومانو د طبیعی چاپیریال دودې او هوساینی بنیادی عنصرده. لازم حمایت او مرسته باید ورسره وشی تر څو وکولای شی خپل مسوولیتونه په ښه توګه په ټولنه کی په غاړه واخلي،

په دی باور سره چی ماشوم باید د خپل شخصیت دودې لپاره د کورنۍ په چاپیریال او د خوښی او خوشالۍ، دوستی او تفاهم په فضا کې لوی شي.

دې موضوع ته په پاملرنی سره چی ماشومان باید په ټولنه کی د فردی ژوند لپاره چمتو شی او د م م د سازمان په منشور کی د اعلام شویو ارمانونو له روحیې سره سم په تیره بیا د سولې، شرف، زغم، ازادی، برابرۍ او پیوستون سره سم وروزل شی.

په دې یادونې سره چی د ماشوم د حقونو د اعلامیی له مخې، ماشوم د جسمی او ذهنی ودی له امله له زیږیدنی د مخه او وروسته ځانګړی ساتنی او ځارنی په تیره بیا قانونی ملاتړ او حمایت ته اړتیا لری.

په دې تشخیص سره چی د نړۍ په ټولو هیوادونو کی داسی ماشومان شته چی په سختو استثنائی شرایطو کی ژوند کوی او دغه شان کوچنیان ځانګړې پاملرنی ته اړ دي. هر ملت د فرهنګی او ستنی ارزښتونو له مخی د ماشوم د حماتي او ودې په خاطر، په ټولو هیوادونو کی دماشومانو د ژوند په لوړولو کی د نړیوالو هماهنګی همکاریو د ارزښت په تشخیص، په تیره بیا په پرمختیایې هیوادونو کی توافق کړی چی:

لومړی ماده: دماشوم تعریف:

ماشوم هغه فرددی چی له ۱۸ کلونه کم عمر ولري مګر داچی د هیواد ملی قوانینو د بلوغ سن لږ تاکلی وی.

دوهمه ماده: د تبعیض منع:

هغه حقونه چی په دې اعلامیه کې پیشنهاد شوی دی له هر ډول استثنا پرته د نړۍ په ټولو ماشومانو پوری اړه لری او هر دولت مؤظف دی چی د هر ډول تبعیض په وړاندی د ماشومانو حمایت او ملاتړ وکړي.

دریمه ماده: د ماشومانو ګټې:

ماشوم پوری اړوند ټول کارونه باید د هغوی زیاتی ګټی په پام کی ونیسی. دولت دنده لری چی دوالدینو یانورو کسانو د بی پروایې پر مهال چی د ماشومانو د ځارنی مسوولیت په غاړه لری د ماشوم لازمه ځارنه وکړي.

څلورمه ماده: د حقوقو لاس ته راوړل:

دولتونه باید په دغه اعلامیه کی د نومورو حقوقو په سرته رسولو کی زیاته هڅه او هاند وکړی.

پنځمه ماده: دوالدینو قیمومیت اودماشوم دوړتیاوو روزنه:

دولتونه باید دوالدینو او دکورنۍ د غړیو حقوق او مسوولیتونه د ماشوم دوړتیاوو دروزنې لپاره د مناسب او وړ قیم په ټاکنه او تعین کې محرم وګڼي.

شپږمه ماده: بقا او پرمختګ:

ژوند د هر ماشوم طبیعی حق دی او دولتونه مؤظف دي د ماشوم د ژوند بقا او پرمختګ تضمین کړي.

اوومه ماده: نوم اوملیت:

هر ماشوم دنوم او ملیت د لرلو حق او د امکان په صورت کې دوالدینو د پیژندلو او د هغوی د حمایت له حق څخه برخمن دي.

اتمه ماده: د هویت ساتنه:

دولتونه ونډه لری چې دماشوم له هویت څخه دفاع وکړی او د لزوم په صورت کې هغه وساتی. دغه ساتنه عبارت دی له نوم، ملیت، او کورنی پیوندونو څخه.

نهمه ماده:له موراو پلارڅخه بیلتون:

ماشومان حق لری چې له والدینو سره ژوندوکړی، خو هغه مهال چې دا کار دماشوم په ګټه نه وی، ماشوم همداشان له خپلو والدینو سره د اړیکو د ادامې حق هم لری.

لسمه ماده: له کورنۍ سره بیا یو ځای کیدل:

ماشومان او مور پلارې حق لری په هر هیواد کې چې غواړی اوسیږی، یا یو بل سره د یو ځای کیدو یا د ماشومانو سره د اړیکو ټینګولو له پاره بیرته خپل وطن ته راشی.

یوولسمه ماده: د قاچاق لیږدول او د راستنیدلو منع:

دولتونه مؤظف دی چې د مور او پلار یا دریم شخص په وسیله د هیواد بهر ته دماشومانو له تښتولو او قاچاق څخه مخنیوی وکړی او په دې برخه کې ځینې عملی ګامونه پورته کړی.

دولسمه ماده: دماشوم د عقیدې ازادی:

ماشوم حق لری خپل عقاید څرګند او بیان کړی او په هره هغه برخه کې چی له ژوند سره یې اړیکی ولری په کار واچوی.

دیار لسمه ماده: د فکر، عقیدی او مذهب ازادی:

دولتونه دماشوم د فکر، عقیده او مذهب ازادی او دوالدینو په واسطه دماشوم د لارښونې حق محترم ګڼی.

څوار لمسه ماده: ټولنیزه ازادی:

ماشومان حق لري له یو بل سره کتنه وکړی، غونډی جوړی کړی او له هغوغونډو سره یو ځای شی.

پنځلسمه ماده: د ماشومانو د شخصی حریم ساتنه:

دماشومانو ځانګړی چاری،کورنۍ موضوعات او لیکنی باید د هر ډول دخالت، هتک حرمت او افتراء څخه وساتل شی.

۱۶ ماده- دمناسبو معلوماتو ترلاسه کول:

دولتونه باید ماشومانو ته د ګټورو معلوماتو د رسیدولو یقینی لارې او چارې ولټوی او هغوی ته د ګټورو ټولنیزو او فرهنګی معلوماتو په اړه د ډله ییزو رسنیو په هڅونه کی هڅه وکړی او هغه ناوړه معلومات چی دوی ته ضرر پیښوی مخنیوی وکړی

دولتونه دغه پورتنی موضوعګانی په نظر کی ونیسی او دوې هڅوی څو ماشومان له مضرو او خطرناکو شیانو څخه خوندی پاتې شي.

۱۷ ماده- دوالدینو مسوولیت:

مور او پلار د ماشوم په وده او روزنه کې ګډ مسوولیت لري او دولتونه باید په دې کار کی له مور او پلار سره مرسته وکړی.

۱۸ ماده- دناوړه ګټې اخستنې او نه پاملرنی په وړاندی حمایت:

دولتونه مؤظف دي چی کوچنی د مور او پلار له هر ډول بدرفتاری او یا د هغو کسانو له بدرفتاری وساتی چی ساتنه یې په غاړه لری او هغوی په اړه د هر ډول بیځایه ګټه اخستنې او بدرفتاری د مخنیوی لپاره مناسب اجتماعی اقدامات وکړی.

۱۹ ماده- دبی کورنی ماشومانو څخه حمایت:

دولتونه باید له بی کوره محرومو ماشومانو ته ځانګړی پاملرنه وکړی او په بل مناسب دلیل سره په دغسی موادو کې د کورنۍ پر ځای یو بل ځای ورته ولتوی. هغه کوښښونه چې په دې برخه کی کیږی باید د ماشوم فرهنګی برخو ته هم پاملرنه وشی.

۲۰ ماده- ځوی توب نیول

په هغو هیوادونو کی چی ځوی توب نیول په رسمیت پیژندل شوی یا داکار مجاز ګڼل شویدی- دی کارته باید زیاته توجه وشی او دواکمنو مقاماتو له خوا د ماشوم ګټې په پام کی ونیولې شی اوداکار د ماشوم له هر اړخیز حمایت سره یو ځای وی.

۲۱ ماده- آواره ماشوم

له آواره ماشوم یا هغه ماشوم څخه چی د پناه غوښتونکی وی باید ځانګړی حمایت او ملاتړ وشي. دولتونه دنده لری چی له هغو واکمنو سازمانونو سره همکاری وکړی چی ماشومانو ته دغه راز حمایت او مرسته برابروی.

۲۲ ماده- ناقص العضوه ماشومان:

هغه ماشوم چی یو غړی یې ناقص یا نیمګړی وی ځانګړی ځارنې، ښوونې او روزنې ته اړتیا لری څو له دې لاری د یوپټمن او سوکاله ژوند او په نفس باندی د باور د حاصلولو او د اجتماعی مقام او درناوی په خاطر، مرسته وکړی.

۲۳ ماده- روغیتائی خدمتونه:

کوچنی حق لری له خورا لوړو روغیتایی خدماتو او طبی ځارنو څخه برخمن وی. دولتونه باید د طبی ځارنو، ډله ییزو صحی خدمتونو زده کړو او د نویو زیږیدلو ماشومانو د مرګ او مړینی په کمښت کی په ځانګړی ډول پام وکړی او په دغه برخه کی نړیواله همکاری وهڅوی تر څو هیڅ ماشوم له اغیزمنو روغتیائی خدمتونو څخه بی برخی پاتی نشی.

۲۴ ماده- د ماشوم د موقعیت بررسی او آرزونه:

د هغه ماشوم وضعه چی ددولت له خوا کورنۍ یا واکمنو مقاماتو ته د ځارنې، ساتنې، او سرپرستی لپاره سپارل کیږی باید تر منظمې ارزونې او بررسی لاندی ونیول شی.

۲۵ ماده- ټولنیز ضمانت:

کوچنی حق لری له ټولنیز امنیت له هغې جملې له اجتماعی بیمې څخه برخمن وی.

۲۶ ماده- د ژوند سطح:

هر ماشوم حق لری د ژوند له داسې سطحی څخه برخمن شی چی د هغه له جسمانی، ذهنی، معنوی، اخلاقی او ټولنیزې ودې له شرایطو سره ورته والی ولری- د ماشوم والدین ددې اړخ د تضمین لپاره لومړی مسوولیت لري چی دغه راز امکانات په ښه توګه برابر شي. ددولتونو مسوولیت دی چی له والدینو او ماشومانو سره یې مادی مرستې وکړی.

۲۷ ماده- زده کړه او روزنه:

دولتونه د ماشومانو د ښوونې او روزنې حق په رسمیت پیژندلی دی. او ځان مکلف ګڼې تر څو ټولوته لومړنی-وړیا، اجباری زده کړو امکانات برابر کړی. او د منځنی زده کړو او عالی زده کړو بیلا بیل ډولونه هغوی ته د وس او توان پر بنسټ تضمین کړی.

د ښوونځیو آرونه او نظم باید دماشوم له حقوقو سره سم وي دولتونه ددې موضوګانو د تحقق لپاره د نړیوالو همکاریو په مرسته اقدام کوی.

۲۸ ماده- د ښوونې او روزنې هدفونه:

د ښوونی و روزنی هدف باید د ماشوم د شخصیت او فردی استعدادونو او وړتیاوو روزنی او پالنی له پاره تاکل شوی وی. ښوونه او روزنه باید کوچنی په یوه ټولنه کی د فعال ژوند لپاره چمتو کړی او والدینو ته د احترام په زیاتوالی، فرهنګی هویت، ژبی او معنوی ارزښتونو او فرهنګی ارزښتونو په ښه والی کی هڅه وکړې.

۲۹ ماده- د مذهبی لږکیو ماشومان:

د بومی لږکیو او نورو ګروپونو اړونده ماشوم له خپل فرهنګ او د مذهبی اعمالو د سرته رسولو او په خپله مورنۍ ژبه د خبرو کولو حق لري.

۳۰ ماده- تفریح، لوبی او فرهنګی فعالیتونه:

ماشوم د تفریح، لوبو او په فرهنګی ، هنری فعالیتونو کی د ګډون حق لري.

۳۱ ماده- د ماشومانو کار:

ماشوم داسی کارته اړتیا لری چی دده جسمی سلامتیا وروزل شی او د ودې او پرمختگ تر گوابښ لاندی رانشی. دولتونه مؤظف دی چی ددی کار د سرته رسولو لپاره د عمر لږ تر لږه حد وټاکی او د کوچنیانو کاری شرایط معین کړی.

۳۲ ماده- نیشه یې توکي:

ماشومان باید د مخدره موادو او مضرو درملونو څخه د استفادی په وړاندی وساتل شی او هم باید ددغو شیانو له تولید خرڅولو او استعمال څخه مخنیوی وشی.

۳۳ ماده- جنسی ناوړه استفاده:

دولتونه باید له استثمار، جنسی ناوړه استفادې له هغې جملی له فحشاء او د خرابو تصویرونو په نندارە کی د گډون څخه ماشومان وساتی او حمایه یې کړي.

۳۴ ماده- د ماشومانو پلورل ، پیرودل او تښتول:

دولتونه مؤظف دي دماشومانو پیرودنه او پلورنه منع او په دی باره کی لازم اقدامات وکړی.

۳۵ ماده- د استعمار نور ډولونه:

کوچنی باید د هر ډول استعمار په وړاندې چی د هغه هوساینه او سلامتیا په خطر کی اچوی او په ۳۲-۳۳-۳۴-۳۵ مادوکی نه دی راغلی وساتل شی.

۳۶ ماده- ځورونه او له ازادی څخه محرومیت:

هیڅ ماشوم باید ځورونه، مجازات نشی. او نه ورسره ظالمانه چال چلند وشی او هم باید په غیر قانونی ډول تر تعقیب او توقیف لاندی ونه نیول شی.

د اعدام خزاگانی، دایمی بند د ازادی له امکان پرته، د هغو جرمونو په باب چی د اتلسو کلونه کم اشخاص یې تر سره کوی، بیخی منع دي، بندی ماشومان باید له لویانو څخه جلا کړای شی. مگر هغه وخت چی د ماشوم په صلاح وی. بندی ماشوم باید له حقوقی مشورې او یا نورو مشورو څخه او هم له خپلی کورنی سره له کتنې برخمن وي.

۳۷ ماده- وسله وال جنجالونه:

دولتونه باید ټول لازم اقدامات عملی کړی تر څو له ۱۵ کلو کم ماشومان په وسله والو نښتو کې ګډې ونکړی. له ۱۵ کلونه کم هیڅ یوماشوم باید په وسله والو ځواکونو کی اسخدام نشی. دولتونه مؤظف دی چی په وسله والو لانجو کی له ماشومانو څخه داسی حمایت او مراقبت وکړی چی څرګندونی یې په نړیوالو قوانینونو کی راغلی ده.

۳۸ ماده- په ځواکمنی کیدو کی څارنه:

دولتونه مؤظف دی چی وسله والو شخړو کې د ژوبلو ماشومانو، د ځوروني، نه پاملرنې، بدرفتاری او استثمار په وړاندې لازمه څارنه وکړی او د هغوی د ژوند د بنه والی او د اجتماعی موقف په برخه کی کوښښ وکړی.

۳۹ ماده- د ماشومانو په باره کی د عدالت مراعاتول:

دولت د بیلارو او قانون ماتوونکو ماشومانو حق له انسانی ارزښتونو سره سم په رسمیت پیژني او د هغه د سن او عمر په پام کی نیولو سره هڅه کوی چی د هغه ټولنیز دریځ ورته بیرته اعاده کړی- د اتهام په باب ددفاع لپاره د ماشوم حق او له هر ډول قانونی مشورې او مرستی څخه د برخمن کیدو حق باید تضمین شی. باید حتی الامکان د ماشومانو په باب له قضائی، سختو پریکړو او اقداماتو څخه ډډه وشي.

۴۰ ماده- لوړ معیارونه:

هر چیری چی د ماشومانو په حقوقو پوری اړه ولړی د ملی او نړیوالو قوانینو معیارونه چی په دې اعلامیه کی پیش بینی شویدی باید تل لوړ معیارونه وکارول شي.

۴۱-۴۵ مادې (عملی کول او د اجرا ډول ئې) د ۴۲-۴۵ مادی اساسی برخې په عمده ډول په دغه اعلامیه کی د ۴۱ ګونو مندرجو اصولو مناسب اجرا کول دی له ۴۱-۵۴ مادو پوري له کنوانسیون څخه د داخلیدو او خارجیدو شرایطو ته اشاره کوي

دوهمه ضمیمه

دماشومانواو تنکیو زلمیانو په روزنتونو نوکې دحجز لاندې ماشومانودساتنی اوځارنی په اړه دافغانستان داسلامی انتقالی دولت درئیس دفرمان نقل.

دماشومانو او تنکیو ځوانانو د روزنې د اصلاح په مرکزونو کی تر حجز لاندی کوچنیانو دساتنی او روزنی د څرنګوالی په باب د افغانستان د اسلامی انتقالی دولت د مشر د فرمان نقل:

دماشومانو او تنکیو ځوانانوچی له قانون نه سرغړوونه کوی او تر حجز لاندی نیول کیږی د سالمی روزنی، اصلاح او بیا روزنی په اړه لاندې مراتب منظوروم:

لومړی ماده:

۱ - له قانون څخه سرغړوونکی ماشومان، دکوچنیانو دروزنی او اصلاح مرکزونو د ورځی له خوا د اصلاح او روزنی د مرکزونو د منظمی برنامې سره سم تر سره شی. بښوونی او روزنی لاندی ونیول شی او د شپی له خوا کورنیو ته دی وسپارل شی.

۲ - ددغې مادې په (۱) فقره کی د مندرجو کوچنیانو اولیاء مکلف دي چی د ماشومانو د روزنی او اصلاح مرکزونوته دماشومانو د هرې ورځی د حاضری په هکله ضمانت ورکړي.

دوهمه ماده: ددغه فرمان د دوهمی مادی دمندرجو کوچنیانو د بښوونی او روزنی دوره د اړوندو محاکمو له خوا تاکل کیږی.

دریمه ماده: د مراهق په عمر پوری اړونده ماشومان د جنحی او جنایت د جرمونو مرتکبین ددې فرمان له احکامو مستثنی دی.

څلورمه ماده: د عدلیې وزارت مکلف دی ددغه فرمان د احکامو په پام کی نیولو سره د ماشومانو د روزنې او اصلاح مرکزونوته یوه ځانګړی مقرره جوړه کړی.

پنځمه ماده: د دارالتادیب نوم دې له دې وروسته د ماشومانو دروزنی او اصلاح په مرکز واړول شي.

شپږمه ماده- د مالیې وزارت مکلف دی چې لازمه بودجه ددغه فرمان د پلی کولو لپاره د عدلیې وزارت په واک کی ورکړی.

اوومه ماده- دغه فرمان د توشیح له نیټې څخه نافذ او په رسمی جریده کې دې خپور شی.

حامد کرزی

دافغانستان د اسلامی انتقالی دولت مشر

منابع او ماخذونه

۱- تبریزی، غلام رضا، مرکز مقر سرای پر، روان شناسی رشد، ایران: انتشارات ایدین ۱۳۷۵ ص ۱۷
سیف، سوسن او نور ، روان شناسی رشد، لومړی ټوک، تهران : سازمان انتشارات (سمت) پوهنتون د انسانی علومو د کتابتون مطالعه او تدوین ، ۱۳۷۳ ص ۵، ۴.
۳- حجتی-محمد باقر-اسلام و تعلیم و تربیت، لومړی برخه د اسلامی فرهنگ انتشارات ۱۳۷۴ -ص ۱۷۴.
۴- تبریزی -غلام رضاء هماغه اثر ص ۱۷.
۵- هماغه اثر ص ۱۸.
۶- حجتی، محمد باقر هماغه اثر ص ۱۷۳.
۷- هماغه اثر ۱۷۱.
۸- سیف، سوسن هماغه اثر ص ۲.
۹- تبریزی، غلام رضاء هماغه اثر ص ۱۸.
۱۰- هماغه اثر ص ۱۹.
۱۱- هماغه اثر ۲۰ مخ.
۱۲- پارسا، محمد، روانشناسی رشد کودک و نوجوانان، انتشارات بعثت ۱۳۷۴، ۲۵۱ مخ.
۱۵- توفیق احمد او میرمن آسیه حامد، مراقبت از اطفال در اسلام- ژباړه: یونیسف قاهره: ۱۴۰۵ ج-ق-۱۹۸۵(م) ۲ مخ.
۱۶- هماغه اثر-۳ مخ
۱۷ سیف، سوسن، هماغه اثر ۲۵ مخ
۱۸- توفیق، احمد اومیرمن آسیه حامد، هماغه اثر-۴مخ
۱۹- هماغه اثر-۴ مخ
۲۰ - هماغه اثر هماغه مخ.
۲۱- هماغه اثر ۵ مخ.

۲۲- قایمی، علی، نقش پدر در تربیت، انتشارات امیری، ۱۳۲۸، ۲۵۹ مخ
۲۳- ترفیق احمد او میرمن آسیه حامد هماغه اثر، ۴ مخ
۲۴- شعاری نژاد، علی اکبر- روانشناسی رشد-انتشارات اطلاعات، ۱۳۷۳-۲۲۷ مخ
۲۵- قایمی، علی، نقش پدر در تربیت، ۱۹۳ مخ
۲۶- توفیق احمد او میرمن آسیه حامد، هماغه اثر، ۱۲مخ
۲۷- حجتی، محمد باقر، هماغه اثر ۱۸ مخ
۲۸- هماغه اثر، ۱۸۵ مخ
۲۹- دانش- تاجزمان، اطفال و جوانان بزهکار، انتشارات خدمات فرهنگی رسا ۱۳۷۴، ۱۹۲ مخ
۳۰- حجتی، محمد باقر، هماغه اثر ۲۳۴ مخ
۳۱- هماغه اثر، هماغه مخ
۳۲- حجتی، محمد باقر، هماغه اثر ۲۳۴ مخ
۳۳- هماغه اثر، ۵۹ مخ
۳۴- شریفیان، جمشید، راهبرد جمهوری اسلامی ایران در زمینه حقوق بشر در سازمان ملل متحد تهران، انتشارات دفتر مطالعات سیاسی و بین المللی ۳۷۰ ۱۴۴ مخ
۳۵- هماغه اثر، ۱۴۵ مخ
۳۶- هماغه اثرهماغه مخ
۳۷- رسولی، محمد اشرف «تاریخچه قانون اساسی افغانستان» مجله قضا انتشارات ستره محکمه گنه ۲، ۱۳۸۱-۲۲ مخ
۳۸- هماغه اثر، هماغه مخ
۳۹- صافی، احمد، سازمان اداره امور مدارس تهران، انتشارات رشد، ۳۲ مخ
۴۰- کارتوزیان، ناصر، مقدمه علم حقوق، تهران، انتشارات دانشگاه تهران ۱۳۵۵، ۱۳ مخ
۴۱- دانش- تاج زمان، دادرسی اطفال بزهکار در حقوق طبیعی تهران: نشر دادگستر ۱۳۷۸، ۱۳ مخ

۴۲- انصاری، ولی الله حقوق تحقیقات جنائی (مطالعه تطبیقی) تهران: انتشار سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاه (سمت) ، ۱۳۸۰، ۲۳ مخ
۴۳- هماغه اثر، ۲۱ مخ
۴۴- هماغه اثر، ۲۲ مخ
۴۵- هماغه اثر، ۲۱ مخ
۴۶- هماغه اثر، ۲۳ مخ
۴۷- هماغه اثر، ۲۴ مخ
۴۸- مولوی عباس، حقوق جزای عمومی، لومړی ټوک، تهران، انتشارات بهرام ۱۳۷ مخ
۴۹- د افغانستان د لیکوالو فرهنگی مرکز، نگرش کلی بر قوانین اساسی افغانستان، قم ۱۳۷۴، ۲۰۲ ماده ۴۲ قانون اساسی منصوب ۹/۹/۱۳۲۲
۵۰ - شریضان جمشید -هماغه اثر، ۱۳۲ مخ
۵۱ فرید محسن (برخی از معیار های اساسی حفظ حقوق بشر برای مجریان قانون) ماهنامه حقوق بشر انتشارات کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان شماره اول ، سال اول حمل ۱۳۸۲، ص ۲۰، ص ۲۱
۵۲- قواعد بین المللی برای محافظت نوجوانان محروم از ازادی، ترجمه پوهاند الف شاه خدران ص، ۲
۵۳- رسولی، محمد اشرف، اسلام او د بشر حقوق او په افغانستان کی د بشر د حقوقو لرلید په وروستیو دوه لسیزوکی- پیښور، د فضل د کتاب پلورنې انتشارات ۱۳۷۸، ۱۱۲ مخ
۵۴- رسولی، محمد اشرف، اسلام او حقوق بشر، په وروستیو دوه لسیزو کی په افغانستان کی د بشر د حقوقو لرلید ، پیښور، د افغانستان د جزا د قانون د ۴۱۴ مادې په نقل سره
۵۵- رسولی، محمد اشرف، بشری حقوق او په افغانستان کی د بشر د حقوق لرلید د افغانستان د جزا د قانون د ۴۱۵ مادې څخه په استفادې
۵۶- دانش، تاج زمان، اطفال و جوانان بزهکار، رسا ۱۳۷۴، ۲۲۳ مخ
۵۷- رسولی، محمد اشرف، اسلام و حقوق بشر پس منظر حقوق بشر د ر ص ۱۲۴

۵۸- قواعد حد اقل معیار ملل متحد دررابطه به اداره عدالت برای جوانان (قواعد پیکنگ) ژباړه: الف شاه خدران، ۲۲مخ.
۵۹ - عباچی، مریم، حقوق کیفری اطفال در اسناد سازمان ملل متحد، تهران: انتشارات طهوری ۱۳۷۹، ۷۰ مخ.
۶۰ – دانش، تاج زمان، اطفال و جوانان بزهکار، ۱۲۷ مخ.
۶۱- تقی، ابوتراب تاریخ اخلاق پزشکی، اطفال، انتشارات دانشگاه علوم پزشکی اطفال، ۱۳۷۱، ۵ مخ.
۶۲- تقی ابوتراب، تاریخ اخلاق پژشکی اطفال، انتشارات دانشگاه علوم پزشکی اطفال ۱۳۷۱، ۵مخ.
۶۳- محسن، منوچهر هماغه اثر، ۲۹۸ مخ.
۶۴- محسن،منوچهر هماغه اثر، ۲۳ مخ.
۶۵- پژوهشکدهٔ حوزه دانشگاهی، اسلام وحقوق بین المللی عمومی، لومړی ټوک، تهران: انتشارات سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاه (سمت) ۱۳۷۹، ۲۰۷ مخ.
۶۷- قایمی، علی، درزمینه تربیت، انتشارات امیری چاپ هفتم تهران ۱۳۷۸
۶۸- شعاری نژاد، علی اکبر، فلسفه آموزش، تهران: مؤسسه انتشارات امیر کبیر ۱۳۸۱، ۷۰۴ مخ.
۶۹- سیف، علی‌اکبر، روانشناسی پرورشی تهران انتشارات آگاه ص ۲۴۶.
۷۰- کاتوزیان، ناصر، حقوق مدنی خانواده، تهران: انتشارات مدرس ص ۱۳۷
۷۱- حلم سرشت، پرویش و اسماعیل دل پشته، پرستاری و بهداشت مادر و کودک انتشارات چهر، ۱۳۷۲، ۲۳۹ مخ.
۷۲- قایمی، علی، خانواده و نیازمندیهای کودکان، انتشارات امیری ۱۳۶۶، ۲ مخ.
۷۳- هماغه اثر، ۴۴۰ مخ.

پای

CHILD RIGHTS EDUCATION

A Publication
of
Afghanistan Independent
Human Rights Commission

Printed by: Fazal Printing Press.
Tel: 079325255